
ناول
د غم ناوي
روقیه سلطاني

# ډالۍ

خپل ارواښاد پلار ته چې زما او زما د خویندو زده کړو ته
یې د خپل ژوند د لومړیتوب نوم ورکړی وو

***

یو ځل بیا د نورو ورځو په څېر سهار شو، رڼا د شپې لمن په درناوي ور ټوله کړه، د لمر لومړيو روښانه وړانګو د یخ شوي ګلاب له پاڼو د شپې د ورکړې ډالۍ څاڅکي بېرته په ځان کې وڅیښل او د هوا د غاړې هار یې تر ې جوړ کړي، د شپې ساړه وهلې پاڼې لا هم په شبنم لمدې وې، لکه کوم مین چې د خپل محبوب د بېلتون اوږد وير په ژړا نمانځلی وي. د پراخه او ختینې حویلۍ په منځ کې شنو وابښو لوېې او وړې ډبرې داسې په غېږ کې نیولې وې لکه تازه چې له کلونو وروسته د خپلې مینې وصال ور په برخه شوی وي، د توتانو د زړو ونو بېخونو خو ددې ګواهي ورکوله چې ژوند لا د پخوا په څېر روان دی.

صنم د حویلۍ په کونج کې په ختین نغري بل شوي اور ته لاس تر زنې ناسته وه، زړه او ذهن دواړه یې د خپلو زرینو خیالونو په نړۍ کې ورک وو، لکه هغه چې رښتیا د خپل نامه په اصلي مانا یو ښکلی بت وي، خو داسې بت چې نمانځونکی نه لري، حتی په خپله هم خپل ځان نه ستايي، ډېره شببه همداسې غلې وه، اخر په بوت کې بیا ساه وچلېده، د زرینې د پښو بې تاله ښکالو یې د فکرونو لړۍ پرې کړه.

صنم هم په بیړه چای دم کړ، دسترخوان یې هوار کړ او خپله بېرته د خېړنو جامو لوی پنډ ته کېناسته، د غرمې تر دوولس بجو یې ټولې جامې ومینځلې، سترې ساه یې واخیسته، دواړه لاسونه یې پورته کړل، ستومانې یې ویسته او د برنډې لوړې ستنې ته یې تکیه وکړه. پورته یې وکتل، اسمان شین و، ترخه موسکا یې وکړه، لکه د خپل زړه په خبر یې چې یو بل شین رنګ هم موندلی وي، شببه په لا نه وه تېره چې زرینه بیا راغله او په غوسه یې ورته وویل:

پاڅه د خان صیب لورې! څه غر دې ونړاوه چې داسې سترې کېناستې، غرمه ده، د پخلي مخلي غم درسره شته او کنه؟

صنم له څه ویلو پرته بې سېکه جګه شوه او د پخلنځي په لور یې حرکت وکړ، د پخلي سره سره یې د خپل عادت په خبر د ارامو زمزمو شور په جګېدو شو. صنم به اکثره د کار په وخت له ځانه سره زمزمې کولې، ددې زمزمو روح د خوښۍ نه، د هغه په وجود کې د زهرو او درد له چینې را خوټېده او بیا یې له هوا سره د کیمیاوي عناصرو په توګه تعامل کاوه، ددې تعامل تولید بیا هم یاس، ناهیلي او له قسمته شکایت و، نن هم د تېرو ورځو په خبر له ځانه سره په شور وه، د زرینې غوسې او چیغو یې غږ په ستوني کې داسې بند کړ لکه د مرغیو په سېل چې کوم خوړونکی باښه ور ګډ شي.

صنم سر ترپایه لړزې واخیسته، د پخلنځي یو اړخ ته غلې ولاړه وه چې زرینه په غوسه پخلنځي ته رانوته، په لاس کې یې دوه لامده کمیسونه نیولي وو، له ډېر غضبه یې په تندي کربښې راکابرلې وې، صنم ته یې وکتل او ویې ویل:

کالي به نو خلک ستا په خبر مینځي، دا وګوره ټول داغونه پرې همغسې پاتې دي، ستا فکر کار ته چېرته وي ، ایله سوچونو کې تل غرقه ناسته یې ، واخله دا بېرته سم ومینځه!

صنم د خپلو بادامي غټو سترګو نه د تورو بڼو د جوړ څپر د پورته کولو څخه کوله چې زرینې یې لامدې جامې ورته په مخ وویشتې او له پخلنځي ووته.

صنم داسې اوږده ساه واخیسته لکه د اعدام په حکم محکوم مجرم باندې چې بیا د ژوند کولو زیری وشي، له ځو شیبو چوپتیا وروسته بېرته په پخلي کولو لګیا شوه، شیبه به لا نه وه تېره چې د حویلۍ د لرګینې دروازې خنځیر وشرنګېد، زرینې چې د دروازې په لور مخ واړوه، پېغله دنګه نجلۍ د یوې پاخه عمر لرونکې ښځې سره رانوته، زرینې ورسره سترې مشي وکړه خو دا چې نا اشنا ښکارېده ، نو یو څه د حیرانتیا په انداز یې ورته کتل، دنګه ولاړه پېغله چې له ځېرې دېره ځیرکه او چالاکه ښکارېده یو څه په لوړ غږ یې زرینې ته وویل

خاله مونږ ستاسې نوي ګاونډیان یوو، دا دوه ورځې وشوې چې ستاسې د کور تر شاه حویلۍ ته په کډه راغلي یوو، خو د څښلو لپاره پاکې اوبه نلرو، زمونږ د کوهي اوبه یو څه خړې دي ، نوځکه راغلو چې ستاسو د کوهي نه د څښلو اوبه یوسو، زرینه موسکۍ شوه او وویل

هو، هو ولې نه راځئ دننه راشئ.

زرینې د حویلۍ په منځ کې لمر ته زوړ کټ واچوو او له خپلو نوو ګاونډیانو سره په کیسو شوه په خبرو خبرو کې دنګې پېغلې د زرینې د پوښتنې په ځواب کې خپل نوم زرلښته یاد کړ، زرینه په خندا شوه او وویل

په رښتیا چې له دنګې ځوانۍ سره دې زرلښته نوم بیخې سم ټاکل شوی دی.

زرلښته موسکۍ شوه او وویل

هو، دا نوم مې خدای بښلي پلار را باندې ایښی و، زرینې د زرلښتې د وژل شوي پلار په اړه وار په وار پوښتنې کولې او د زرلښتې مور چې د زرینې په څېر د پاخه عمر لرونکې وه، یوې یوې پوښتنې ته یې ځواب ورکاوه، کله به موسکۍ

شوه او کله به یې د دوارو سترګو په کونجونو کې اوښکې وځلېدې، زرینه ورته په پوره لېوالتیا خبر ناسته وه، شببه وروسته زرینې د زرلښتې مور غوټې ته ددې سیمې د ابادېدو په اړه کیسې کولې په خبرو ، خبرو کې یې مخ د پخلنځي په لور واړوه او غږ یې کړ

اې د قاتل خورې! دا بیا دې چېرته سر تیټ کړی، دا سپینې سترګې دې ووځه ، مېلمنو ته د یوه پیاله چای د راوړلو هم نه یې؟

صنم ورغږ کړ

دادې تیاریږي ابښی مې دی.

زرینې بیا کیسې پیل کړې، شببه به لا نه وه تېره چې صنم د چایو پتنوس په لاس د پخلنځي نه د برنډې په لور را روانه وه.

د صنم لوړ قد، بادامي غټې سترګې، تور اوږده بانه، سپوږمۍ ته ورته سپین او ګرد مخ، اوږده او مرمرینه غاړه او نوې غوړېدلې غوټۍ ته ورته سرې او نازکه شونډې یې توجو جلبوونکې وې، تابه ویل چې د ښکلاوو جوړوونکي خالق پرې په پوره هنر او مینه له خپلو نورو بندګانو زیاته مهرباني کړې ده.

صنم راغله، پتنوس یې کېښوده، د زرلښتې او غوټۍ خاله سره یې ستړې مشي وکړه، زرلښتې د صنم ښکلې څېرې ته په پوره مینې او لېوالتیا سره کتل، خو د صنم په سرو او نازکو شونډو مصنوعي خپرې موسکا د کوم ژور درد ترجماني کوله.

زرلښتې د صنم سره د ډېرو خبرو کولو موقع لټوله، خو زرینې بیا په بار، بار د صنم د بوختولو هڅه کوله ، د زرینې او غوټۍ خاله کیسې لا همغسې تودې وې خو زرلښته تر وروستیو شېبو د صنم سره د خبرو لپاره د پلمې لټولو په هڅه بریالۍ نه شوه، زرلښتې د کوهي نه اوبه را وویستې او غوټۍ خاله ته یې د تلو وویل.

زريني ، غوټې ته دغرمنى لپاره ډېر تېنګار وکړ، خو غوټې د بلې ورځ د پاتې کېدو په بهانه ترې مخه ښه واخيسته او روانه شوه. زرلښتې لا هم شاته پخلنځي ته د صنم په لور کتل چې ګونډې را وېه وځي ، خو صنم په کار کې بوخته وه او ارامه زمزمې يې کولې...

د ژمي شپې او ورځې په وتو او ژوند لکه د سمندر څپو داسې روان و، صنم به کرې ورځ د کور کار سربېره د زريني د پېغلې لور ځانګې او دوه زلمي زامنو عثمان او ابوبکر خدمت هم کاوه.

کله به چې له کاره وزګاره شوه، خپله پخوانى کتابچه به يې را واخېسته خيني ليکل شوې کرښې به يې داسې ولوستې چې د زړه رګونه به يې وشرنګېدل او ذهن کې به يې يو نامعلوم شور هيجان جوړ شو، رڼې اوښکې به يې د ښکلو سترګو د کونجونو نه لکه د مرغلرو داسې را توې شوې، بيا به يې قلم راواخېست او د کتابچې سپين مخ به يې په څينو کرښو تور کړ، سور رنګ ته ورته پوښ لرونکې کتابچه به يې بېرته به خپل زوړ بکس کې د کاليو په منځ کې تاوه کېښوده.

کله کله خو به يې شپه تر سهاره دا کتابچه بار ، بار لوسته، هره کرښه به يې بيا بيا تکراروله خو داسې ډېر خله کېدل چې تر لوستو وروسته به يې هرو مرو يو څه وليکل او د زړه بوج به يې ورسره سپک شو.

صنم به د ژمي لنډې ورځې په کار او اوږدې شپې د ډېوې تتې رڼا ته په لوستلو، لیکلو او اوښکو تویولو رڼولې، د ډيوې د هرې اوښکې سره به معصومه او په زړه دردمنه صنم هم اوښکه اويلې کېده ، د زړه راز او نياز يې يوازې د قلم او کتابچې سره و، داسې لکه دوى يې چې د ژوند ښه او خواږه ملګري وي او يوازې همدوى يې د زړه په راز و نياز پوهېږي او د زړه بار ورته سپکولې شي.

په دې ورستيو ورځو کې به زرلښتې هم د صنم د لېدو په پلمه د زرينې کورته د اوبو د وړلو يا په کومه بله بهانه تګ راتګ زيات کړې و، په صنم به هم زرلښته ښه او خوږه لګېده، داسې به يې احساسوله لکه د کوچنې والي نه يې چې پېژني، کله کله به يې د زرلښتې لپاره احساس دومره خوږ و، چې په لېدو به يې تش زړه خوږېده.

يوه ورځ د زرلښتې مور غوټۍ د زرينې دوی له کوره راغله، ډېره خواشينې ښکارېده، دا چې د زرلښتې مينه د صنم سره بې دليله زياته وه، نو تل به چې د زرينې خاله دوی د کور خبره راغله نو د زرلښتې لپاره به تل صنم د بحث مهم عنوان و، ځکه خو نن هم زرلښتې بې واره د خپلې مور نه د صنم په اړه پوښتل، غوټۍ خاله نن مايوسه وه، د زرلښتې د بې شمېره پوښتنو ځواب کې يې يو سوړ اسويلی ويوست او وويل:

زرلښتې مونږ تر نن ورځې فکر کاوه، چې صنم به د زرينې لور وي، خو نن په دې پوه شوم چې هغه يې لور نه بلکې بنه ده، د خپل ځوانيمرګ زوی په بدو کې يې سوره راوستې، زرلښتې په حېرانۍ او سواليه انداز کتل، زر قسمه پوښتنو يې د ذهن په درياب کې څپې وهلې، خو د غوټۍ سره له دې خبرې پرته د هيڅ کومې پوښتنې ځواب نه و.

زرلښته د صنم معصوميت او بې سارې ښکلا سرېېره د هغې خوار قسمت نه خوږېده، په ذهن کې يې د صنم په اړه زر قسمه پوښتنې وې، زرلښتې خو ډېرځله هڅه کړې وه، چې د صنم د خولې نه د خپلو پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړي خو صنم به کله غلې پاتې شوه کله به يې خبره په بله واړوله او کله به زرينې پرې د کوم کار لپاره غږ کړ، زرلښته به حېرانه پاتې شوه، خواره زرلښته کله پوهېده چې د پردېسې صنم په خوله زرينې د وېرې داسې مهر لګولی چې هيڅ کله به هم لرې نه شي.

یوه شپه ډېر تېز باران شو، زرینې په صنم شور ماشور جوړ کړ، ړنده شې ما درته مازدیگر ونه ویل چې وریځ ده، ممکن باران وشي، حویلۍ نه سامانونه ځای په ځای کړه خو ته کله د چا خبرې ته ارزښت ورکوې، دا دې باران شو ټول اسباب یې لامده کړل.

صنم په بیړه جواب ورکړ، نه، نه خاله نه لمدېږي دا دې ټولومه یې. زرینې په غوسه ناک انداز وویل ، مرګې خاله تېزه شه سامانونه راټول کړه هله نو ...

صنم په بېړه د حویلۍ په ځلورو واړو کونجونو نظر واچاوه او په چالاکۍ سره یې خواره اسباب له باران پناه کول، باران یې ټول کالي لامده کړي وو ، سر تر پایه داسې رېږدېده لکه پاڼه چې د ونې په څانګو کې د مني شمال رپوي.

څانګې چې د کوټې له کړکۍ نه د صنم لامده کالي، بې واره منډې او رېږدېدل ولېدل نو په زړه کې یې رحم پېدا شو، سپکه راجګه شوه ، خو چې بېرون راووتله، زرینه یې مخې ته راغله، وې پوښتله ، چېرته وځې باران دی او یخه سېلۍ هم ده، هسې نه ناروغه شې ؟

څانګې ځواب ورکړ، ادې صنم سره به کومک شم سخت باران دې ټوله یې لمده کړه.

زرینې ورته په قهر سره ورغبرګه کړه ، په تا څه شوي دي ها؟ د ورور هغه د ګل په شان ځوانې دي دومره ژر هېره شوه ؟

څانګې سر ټیټ کړ، د ورور د یادېدو سره یې سترګې اوښلنې شوې ، بېرته د کوټې کونج کې د بخارۍ تر شا کېناسته، زرینه له ځانه سره په شور او غوسه شوه.

په لومړیو وختونو کې به څانګې هم د صنم سره ډېره بده رویه کوله، تل به یې د صنم د څورولو لپاره پلمه لټوله، خو له دې دوو میاشتو راهیسې به یې چې په صنم روان ظلمونه، ناترسي پېښې او ناوړه چلند لېده نو زړه به یې لړ نرمېده

، خو زرینې به خپل درې واړه اولادونو په شمول خپل خاوند ثمرګل هم د صنم په ضد پاراوه.

د زرینې په زړه کې د خپل زلمي شهید زوی یوسف د کسات لمبې داسې بلې وې چې یوه شیبه هم د صنم د ځورولو پرته ارامه نه کېناسته، خو د پښتو په دود ښکار شوې خوارې صنم سره پرته له زغملو بله لاره نه وه، زرینې به صنم د بدو په نوم په بې لمبو اور سوځوله، تل به یې ثمرګل ته د صنم د کړنو په اړه شیطاني کوله، ثمرګل په جلال اباد کې د خوراکي توکو دوکان درلود، یوازې د جمعې شپه به یې کورته وړله، خو زرینې به ثمرګل ته د اوونی د ټولو ورځو راپور داسې وړاندې کاوه لکه دا یې چې کوم رسمي مسوولیت وي، تر ډېره به یې د بحث موضوع د صنم بد ویل، ښکنځل او نوم بدول وو.

سهار مهال و، صنم د حویلی په منځ کې د ماښام لوښو مینځلو ته ناسته وه، چې زرلښته رانوته، د صنم په څېرې د خوښۍ نښې را څرګندې شوې، زرلښه راغله صنم سره جوخته کېناسته، هغه لا ناسته نه وه چې ټوکې او د صنم په ځورولو یې لاس پورې کړ، زرلښتې به تل د صنم د خندولو لپاره کله یوه او کله بله ټوکه کوله، زرلښتې د صنم پام څو شیبې بدلولې شو ، مګر د صنم د زړه درد یې نه شو اخیستې، صنم به تل په وچو شونډو مصنوعي موسکا خپره ساتله، خو دې مصنوعي موسکا یې اصلي څېره نه شوه پټولې.

نن هم زرلښتې د صنم د خندولو هڅه کوله خو صنم ژور فکر وړې ناسته وه، هغې یې دواړه لاسونه له غاړې چاپېره کړل او وې ویل:

ښکلې جېنۍ ډېر فکرونه مه کوه چې ښکلا ته دې ګواښ دي، صنم د زړه په سر نرۍ موسکا وکړه او وې ویل، هو نو ستا په څېر شهزادګۍ ته باید فکر وکړم، نه پوهېږم چې دا خوږه به د چا په قسمت لیکل شوې وي، زرلښتې ښه په کړس وخندل او خندا کې یې وویل

وهه وهه ښه ریشخندونه راباندې وکړه، خیر دی ((هزاره هم خدا دارد))...

د صنم او زرلښتې غبرګې خندا سره زرینه راغله او صنم ته یې وویل ماښام ته د ثمرګل سره د جلال اباد نه مېلمانه راځي ، د مېلمنو ته سم تیارې ونیسه

صنم د سر په خوځولو د ښه جواب ورکړ، زرلښتې هم د صنم نه مخه ښه واخیسته او خبرو او تلو کې یې وویل، چې نن مې خاله او لور یې کابل نه راځي ،دلته به یو څو شپې زموږ مېلمانه وي.

صنم د کابل نوم اورېدو سره زړه باغ باغ شو، څکه د خپل ځوانۍ درې سپرلي یې کابل کې تېر کړي وو . زرلښتې مخه ښه واخیسته لاړه، صنم هم په خپل کار کې بوخته شوه.

مازدېګر مهال و، چې صنم د ټول پخلي ترڅنګ د ماښام لپاره پوره تیارې ونیو، سترې ساه یې واخیسته او د پخلنځي یو کونج کې یې دیوال ته تکیه ورکړه، د خیال مارغه یې د تېرو شپو او ورځو په لور یون پیل کړ،غټو بادامي سترګو کې یې رڼې اوښکې وځلېدې، د خپل قسمت په لبکل شوو کرښو یې افسوس وکړ، خو څه به یې کړې وای ؟

د خوارکۍ صنم سره پرته له زغملو بل هېڅ لاره نه وه، کاشکې یې دومره څوک لرلې چې خپل درد یې ورسره شریکولې شو، لږ تر لږه به یې د زړه بار سپک و، د خوارې صنم سره د ترېخ ژوند په دې سفر کې هېڅ داسې کوم خواخوږي او د راز او نیاز همسفر نه و، یوازې یې د سور بخونه چرمي کتابچه وه، چې صنم به ورسره تل د زړه راز کاوه، صنم د خپل خیال په کوچنۍ خیالي نړۍ کې غرقه وه، چې د زرینې لوړ غږ یې د خیال د مارغه وزرې ورماتې کړې، او ژر له ځایه پورته شوه.

زرینې پخپله هغه لهجه چې تل به یې د صنم په وړاندې کاروله وویل، مېلمانه راغلي دي هله نو ، چای دې تیار کړې او کنه؟

ـ صنم خوب ورکړ هو چای خو مې وخته تیار کړې !

زرينې په داسې حال کې چې هېڅ يې صنم ته نه ورکتل، د چايو تيار پتنوس يې د خپل زوې عثمان په لاس کې ورکړ چې حجرې ته يې يوسي او په وتو کې يې د ماښامي لپاره د ښه پخلي په کولو ټينګار وکړ.

ماښام ناوخته چې کله مېلمانه ولاړه، نو ثمر يو څه خوشاله ښکارېده له حجرې څخه د خپل اتاق په لور لاړ او زرينې ته يې وويل چې مېلمنو د پخلي د خوند او سلېقې دومره صفت وکړ چې زما زړه يې راخوشاله کړ، زرينې تندې تريو ونيو او هېڅ يې هم ونه ويل، ثمر چې د زرينې په طبعه پوه شو نو خبره يې ژر هاخوا دېخوا کړه، شپه تېره شوه د نورو لپاره نوې خو د صنم لپاره بيا د ځوروني سهار پيل شو.

صنم له شپې سهار نه بيا دې فکر اخيستې وه چې نن ورځ به بيا د کومې نوې کيسې سره مخ کېږي ، په همدې فکرونو او د لوښو په مينځلو د کوهي غاړې ته بوخته وه ، چې زرلښته رانږته په چابکو قدمونو د صنم خواته راغله او کېناسته سره سم يې د صنم په ځورولو او خندولو لاس پوري کړ، د صنم په ژوند کې يوازينۍ زرلښته وه چې د صنم د خندولو او خوشالولو هڅه به يې کوله ،ډېر ځله به يې هڅه له دې وجې ناکامه وه چې د صنم د ژوند دردمن داستان د صنم د ژوند ټول خواږه زيېښلي وو، زرلښتې هم هېڅ خپلو هڅو ته د پای ټکې نه اېښود، لس ګونه ځله يې له صنم نه دا پوښتلي وو چې د ژوند کيسه يې ورسره شريکه کړي، خو صنم به د زرلښتې ددې پوښتنو په ځواب کې يوازې يو سوړ اسويلی ورکړ، سترګې به يې اوښلنې شوې او د زرينې له وېرې به يې سر ځوړند ونيو، زرلښتې به چې د صنم وېربدلې څېرې ته وکتل حېرانه به شوه او زر قسمه فکرونو به يې په ذهن کې شور جوړ کړ، نن يې هم د نورو ورځو په څېر يې د خپلو ټولو پوښتنو په ځواب کې يوازې د صنم چوپتيا ترلاسه کړه.

له کوهي يې اوبه راويستلې او له صنم يې مخه بنه واخيسته، په تلو، تلو کې يې وويل خاله سره مې د يو څو شپو لپاره کابل ته ځم، صنم يو څه مايوسه شوه ځکه زرلښته به پرې تل خوږه لګېده ، له ځانه هم پرې ډېره ګرانه وه، زرلښته د صنم دوی له کوره ووته او په ښنه نيولو قدمونو خپل کورته ننوته، انګړ کې يې خاله ماجبين د خپلې خوانې لور سلګۍ او خاوند عمر سره ولاړه وه، په لوړ غږ يې وويل، زرلښتې لورې ژر راځه کنه چې موټر راغلې موږ تاته په تمه يوو.

زرلښتې قدمونه لږ ګړندي کړل ، دادې خاله جانې ژر جامې بدلوم او در وځم، څو شېبې وروسته زرلښته راووته او د کابل په لور روان شول، په ټوله لاره يې د صنم په اړه فکر کاوه، هېڅ يې زړه ارام نه مونده، سلګۍ چې ډېره مسته او شوخه جېنۍ وه، څوځله يې د زرلښتې د پام اړولو په پلمه خندونکې خبرې وکړې، زرلښتې به د زړه په سر وخندل او بېرته به يې فکر د صنم خواته شو، زرلښتې په لاره نه څه وخوړل او نه يې هم وڅښل ، يوازې يې همدې فکر زړه او ذهن تسخېر کړې و، چې اخر دا کوم زورور توپان و چې د صنم ټولې خوښې يې نامعلومې خواته په هوا کړه.

غرمه مهال و، چې موټر د پاخه سرک په سر د يوې ښکلې ودانۍ ترڅنګ ودرېدو، سلګۍ او عمر دواړه د موټر نه ښکته شول او خاله يې زرلښتې ته هم د ښکته کېدو بلنه ورکړه، ټول ستړي، ستړي وو، سلګۍ چې ددې کور يوازېنۍ لور وه، د ننوتو سره سمه ويده شوه.

د سلګۍ مور به تل د خپل زوې پروېز نه همدا شکايت کاوه، چې د واده کولو سره يې بېخي تغير کړې او بلاخره د جنجالونو د زياتوالي له وجې پروېز له خپل مور او پلار نه جدا شو او د خپل خسر کره يې ژوند پيل کړ، خو سلګۍ بيا په مور او پلار دومره زهېره وه، چې لسګونه مرکې يې ددې لپاره رد کړې چې ګوندې مور او پلار يې يوازې پاتې نه شي.

سلګۍ د اقتصاد پوهنځي د اخري کال محصله وه، د خپل لیاقت او استعداد سره سره د خپل ښو اخلاقو او ادابو له وجې یې د ټولو ښوونکو په زړه کې خاص ځای درلود، تر ډېره یې مرکه کوونکي له خوانو ښوونکو او همصنفانو له جملې وو، خو سلګۍ د خپل مور او پلار د یوازي نه پرېښودو لپاره د خپل راتلونکي ژوند ټولو خوښیو سره مخه ښه کړې وه.

سلګۍ بیا داسې د اجتماعي خوې درلودونکې پېغله وه، چې په څو شېبو کې به یې ډېر پردي خلک خپلول. څکه ورسره د زرلښتې هم څه ناڅه ساعت تېر او وخت ښه تېرېده. یوه ورځ یې زرلښتې ته وویل

مور جانه هم څي د کوم ګاونډي کورته فاتحې ته، راځه زما سره پوهنتون ته لاړه شه، ساعت به دې هم تېر شي او زمونږ پوهنتون به هم وګورې، زرلښتې سلګۍ ته په شرارتي انداز وکتل او وویل که ټولګي کې مو کوم ښکلې ځوان وي نو بیا ضرور درسره ځم .

سلګۍ په کړس وخندل او وویل

ستا د ښایست جلوی دومره کمزوري نه دي چې کوم یو دې په زړه داغ نه کړي، دواړو غبرګه او د زړه د خلاصه خندا وکړه او د پوهنتون په لور روانې شوې، په لاره زرلښتې د کابل پوهنتون ماحول، درسونو او صنفیانو په اړه د سلګۍ نه پوښتنې کولې او سلګۍ په پوره لیوالتیا سره ځواب ورکاوه، سلګۍ د خپل صنف په اړه داسې وویل

لومړي سمستر کې اته ډېرش هلکان او څلورانجونې وو، خو اوس څه ناکام شول، ځېنو یې پخپله خوښه درس پرېښود، اوسمهال یو ډېرېش هلکان او درې نجونې یوو، زرلښتې په بېړه پوښتنه وکړه، ښه اوس څلورو نجونو نه درې پاتې شوې؟

سلگۍ خواب ورکړ

هو! هغه بله ټولګیواله مو هم پښتنه وه، د جلال اباد وه، د دریم کال په شروع کې بیا رانغله، زرلښتې بیا وپوښتل نو ولې یې درس پرېښودو؟

سلگۍ اوږده ساه واخیسته او زرلښتې ته یې وویل

داستان یې ډېر اوږد او یو څه فلسفي رنګ لري، بیا دواړه څو شیبې غلې ناستې وې، سلگۍ ژور فکر یووړه او هغه وخت یې پام شو، چې ټکسي والا پرې غږ کړ

مهرباني وکړئ، ورسېدی

دواړه د ټکسي نه ښکته او د پوهنتون انګړ ته دننه شوې، د لویې دروازې مخامخ لویه اوږده سیمنټي لاره وه چې دواړه خوا یې شنې لوړې ونې وې ، پاڼې یې د مني لومړیو سړو شمالونو رپولې او د باد یوې نیمې تېزې څپې سره به د ونو ښاخونه د دیدن تږي مینانو په څېر د څو شیبو لپاره یو بل ته غاړې وتل، مخامخ د پوهنتون په انګړ کې ډله، ډله نجونې او هلکان تر سترګو کېدل، د څینو تر منځ ګرمې کیسې روانې وې او څینې بیا مایوسه، ناهیلې او وارخطا په نظر راتلل، سلگۍ، زرلښتې ته وویل

دا مخامخ درې هلکان وینې؟ دوی د څینو نجونو د خورولو په تور ادارې ته معرفي شوي دي دا درې ورځې وشوې چې تر منځ یې جنجال روان دې، پرون مې ټولګیوالو ویل چې کورنۍ یې ورته را غوارې، زرلښتې وپوښتل:

-نو څوک یې خورولې دې؟

سلگۍ خواب ورکړ

ـ درې نجونې دي بېچاره ګانې نوې راغلې دي، دوی خورولې وې او بلاخره هغوې یې اداره کې رسماً شکایت کړی دی.

د زرلښتې او سلګۍ تر منځ بحث همداسې ګرم روان و، چې د ټولګي په دروازه ور دننه شوې، صنف ټول د هلکانو نه ډک و، یوازې د لومړي قطار څلورو څوکیو کې دوې نجونې ناستې وې، زرلښته او سلګۍ هم د سلام ورکولو وروسته کېناستې.

ښوونکی راغی، درس یې پیل کړ د درس په دوران کې یې څو ځله په څینو هغه هلکانو غوسه او غږونه کول کومو چې د مستي او د درس د اخلال کولو هڅه کوله، ښوونکي د درس تر ورکولو وروسته څینې زده کوونکي پوړنه کول او پوښتنې یې کولې، د صنف اخرې کونج ته یې نظر واچوو او غږ یې کړ

ـ سنګین جان به راته ووایې چې نني درس نه یې څه زده کړل؟

سنګین چې ښکلې او دنګ چیناري ځوان و، په خپل ځای کې غلې ودرېد، ټولو زده کوونکو ورته په مهربانه انداز ورکتل، په ټول ټولګي یوه صحرایي خاموشي خوره شوه خو ددې دنګ ولاړ قامت د وچو شونډو نیولې پار د ژور درد ګواهي ورکوله، ښوونکي د څو شیبو چوپتیا وروسته وویل،

ـ سنګین جانه هڅه وکړه چې نور دې حالت ته د پای ټکې کېږدې، ژوند په دې طریقه شونې ندې، کوشش وکړه نور درس ته توجو ورکړې.

څینو نږدې ملګرو او ټولګیوالو یې سنګین ته د ډاډ ورکونې په انداز کتل، ښوونکي اوږده ساه واخېسته، خپل کمپیوتر او کتاب یې واخېست او له ټولګي نه ووت.

د زرلښتې په ذهن کې سلګونو پوښتنو موجونه وهل، د سلګۍ خواته د ناستو نجونو پوښتنو یې پام وربدل کړ، دوی له سلګۍ نه د زرلښتې په اړه پوښتنې کولې او بیا یې په درې ژبه زرلښتې ته ښه راغلاست او ستړي مشې ویله، ددوی د پوښتنو لړی لا همداسې روانه وه چې یو ټولګیوال یې ورغږ کړ، راتلونکي دوه ساعتونه خالي دي او راتلونکې صنف به په دولس بجو شروع کېږي، په صنف

کې شورماشور شو، ځینې غوسه او د ادارې ددې فیصلې نه ناراضه ښکارېدل، چې ولې یې مهال وېش کې ځینې ساعتونه مسلسل خالي لیکلي، ددوی شوماشور او شکایت لا همداسې روان و، چې سلګۍ زرلښتې ته ووېل راځه بېرون به لمر ته کېنو او یو ګرم چای به هم وڅښو، زرلښته هم پرته له کوم دلیله سپکه جګه شوه او سلګۍ سره روانه شوه، زرلښته او سلګۍ خپلو کیسو کې ګرم وې، چې د زرلښتې غوږونو ته د شپېلۍ نغمې ورو، ورو رسېدې، هرخوا یې ولېده او د شپېلۍ نغمو ته یې د نږدې فاصلې نه د اورېدو تلوسه لا پسې زیاتېده، ګامونه یې لږ چټک کړل، یو اړخ ته د شنه چمن منځ کې یې همغه دنګ ځوان تر سترګو شو، شپېلۍ په لاس ناست دې او د شپېلۍ د خوږو نغمو په ذریعه د زړه درد غږوي، د سنګین د شپېلۍ غږ دومره زوروور و، چې په دې لاره د هر تېرېدونکي لاروې به یې ځو شېبې ځان سره تم کړ، هره خوا یې چوپتیا واکمنه وه، د ونو په لغړو ښاخونو کې ناستې مرغۍ به هم د شپېلۍ د نرمو نغمو سره غلې شوې، ځینې له ژونده سترې ځوانان خو ورته داسې په علاقه چاپېر ناست وو، تا به وېل لکه همدا څو شېبې یې چې د ژوند خوږې شېبې وي، زرلښته څو شېبې جوړې تماشې ته په ننداره وه چې سلګۍ پرې ورغږ کړ،

ــ زرلښتې! وه زرلښتې تاته وایم.

خو د زرلښتې زړه او ذهن دواړه د شپېلۍ دې ښکلي او نرم غږ له ځانه سره په غېږ کې نیولي وو، سلګۍ بیا ورغږ کړل، زرلښتې راځه دلته هره ورځ ددې ناکام مئین دا درد تماشې ته وړاندې کېږي، ستا په څېر هر نوی تماشچي ته نوموړې ننداره حېرانونکې وي، سلګۍ دا خبره وکړه او د شنه چمن پستو واښو باندې کېناسته، د زرلښتې غوږونه لا همغسې د نوموړي شپېلۍ غږ ته لیواله وو، سنګین په وار وار په شپېلۍ کې نغمې بدلولې او تماشه کوونکي یې ورته غلي

ناست وو، زرلښتې د څو شېبو چوپتیا وروسته پوښتنه وکړه، سلگی دا څوان ولې د پوهنتون ماحول کې شپېلی غږوي؟

سلگی غلې شوه، هیڅ یې ونه ویل، زرلښتې سلگی ته په سوالیه انداز وکتل، د سلگی له چوپتیا، زرلښتې ډېرې معناوې واخیستې خو خپلې هرې اخیستې معنا ته یې د شک په نظر کتل او همدې ته لېواله وه چې د سلگی له خولې د یادو معناوو تعبیر واوري، سلگی د سنگین په لور وکتل او وې ویل، د سنگین کیسه هغه سرتېري ته ورته ده چې د جنگ په ډگر کې سخت زخمي شوې وي، خو د خپل نارینه غرور له وجې نه ژاړي یا وژاړي، خو اوښکې تویې نه کړي، یا اوښکې تویې کړي خو له خپل ځانه پرته یې بل هېڅوک اوښکې و نه ویني، زرلښته نوره هم څېر شوه او د ډېر څه اورېدو ته سترگې په لار وه، سلگی وویل

زرلښتې کله مو چې د پوهنتون لومړي کال پیل شو، نو د شروع کېدو نه دوه اوونی وروسته یو ورځ زمونږ د اقتصاد پوهنځي رییس راغې، تر سلام علیکم وروسته یې وویل

ستاسې یوه ټولگیواله له جلال اباده راغلې ده، دا دوه ورځې وشوې چې پوهنتون ته راځي لومړې ورځ خو یې خپل ټولگې نه و پیدا کړی او دویمه ورځ راغله ، خو لږ ستونزه ورته پیدا وه بېرته لاړه ،نن راغلې خو درسونه ترې تېر شوي، نو تاسې ټول ورسره همکاري وکړئ، ټول نوټونه ورسره شریک کړئ او هو لږ پام پرې کوئ، فکر کوم دلته نابلده ده، ټولو ټولگیوالو مو ورته د پوره همکارۍ او مرستې ډاډ ورکړ، رئیس له ټولگي ووت، څو شېبې به لا نه وې تېرې چې یوه ښکلې او لوړه پیغله مو د ټولگي دروازې مخې ته د لار ورکې مسافر په څېر ودرېده، تورو او ښکلو سترگو باندې یې اوږده بانه لکه د غشو څپر داسې پرانه وو، حیا یې له رخسارونو څڅېده ، په تور رنگ ته ورته لوپټه کې یې د خپل

مرمرین وجود د پټولو هڅه وار وار کوله، ډېره بې زړه او نابلده په نظر رسېده، ټولو ټولګیوالو ورته حیران کتل، داغ کړل، زه ژر ورجګه شوم تر ستړې مشې وروسته مې له ځان سره نږدې کېنوله او د درسونو په اړه مې ورته داډ ورکړ، په خبرو خبرو کې مې د نوم پوښتنه وکړه، نوم یې «صنم» یاد کړ، زړلښته د صنم د نوم په اورېدو حیرانه شوه، د سلګۍ تر څنګ جوخته کېناسته او وویل

ښا بیا څه وشول؟

سلګۍ ځواب ورکړ

د صنم یوازې ښکلا جلبوونکې نه وه، د ښکلا سره، سره د صنم اخلاقو او معصومیت د ډېرو ځوانانو زړه وړې و، لومړیو ورځو کې خو ډېره غلې او بې زړه وه . له وخت تېرېدو سره لږ څه داډه شوه ، خو خاموشي یې بیا تر اخره وساتله، ما ورسره ټول تېر درسونه تکرار کړل، کابل کې کور پسې ګرځېده، اقتصادي وضعه یې هم چندان ښه نه وه څکه همدا تېنګار یې کاوه، چې لږ ارزانه او اقتصادي کور پیدا شي، بلاخره مې دلته د خپل کور سره نږدې یو کوچنې او ارزانه کور ورته په کرایه ونیو، نو ماسره به یوځای پوهنتون ته تله او راتله وخت په تېرېدو ورسره دومره عادت شوم چې کومه ورځ به صنم پوهنتون ته نه تله نو ما به هم درس ته د نه تلو لپاره پلمې لټولې، په لاره پوهنتون او کور کې به مو هم ټوله ورځ سره په ساعتونو کېسې کولې.

د صنم مور لا پخوا مړه شوې وه، خو پلار یې زړګي ته چې دواړه اولادونه صنم او تقدیر ډېر ګران و، نو د ډېرو خپلوانو د ټېنګار سره سره یې بیا هم بل واده ونکړو، زړګي ماما د خلکو د ځمکو دهقاني کوله خو خپل دواړو اولادونو ته یې د شاهانه ژوند په څېر ټول سهولتونه ورکړي وو، خو له ماشومتوبه پرې د تقدیر په پرتله صنم ډېره ګرانه وه او صنم به تل کېسې کولې چې کله، کله به مې مور او پلار تل په همدې خبره سره جنجال کاوه ، چې ته تل صنم ته د تقدیر په

پرتله ډېره مینه او ناز ورکوې د دواړو اولادونو ترمنځ دې فرق کوې، د دومره جنجالونو سره سره بیا هم زړګي ماما له خپلو کارونو لاس نه اخیسته.

وخت تېرېده، زړګي ماما به له سهاره ترماښام کارکاوه، صنم او تقدیر به یې ښوونځي ته لیږل، د صنم د خبرو په تائېد صنم شپږ کلنه او تقدیر اته کلن ماشوم و، چې مور یې د زړه د ورپېښې ناروغي له امله وفات شوه بیا نو د زړګي ماما مسوؤلیت دوه چنده شو، هم د خپلو دواړه اولادونو لپاره پلار او هم مور، د ښوونځي تر فراغت وروسته صنم د خپل وړتیا او استعداد له وجې د کانکور له لارې د کابل د اقتصاد پوهنځي ته بریالۍ شوه، د بې کچې علاقې له وجې یې په هېڅ صورت نه غوښتل چې دا لاس ته ورغلې موقع د لاسه ورکړي، له همدې وجې زړګي ماما د صنم د زده کړو له وجې کابل ته په کډه راغی، شپې ورځې تېرېدې، زما مینه او علاقه د صنم سره ورځ تر بلې لا پسې زیاتېده، د صنم مجبورېتونه ، ور ترغاړه مسوؤلېتونه تر ما پرته بل هېچا صحي نه شواې درک کولاې، زړګي ماما هم یو څه موده وروسته په ښار کې مزدوري پېل کړه که څه هم ډېر ضعیفه شوې و، خو همت او حوصله یې لا هم د دنګو غرونو په څېر هسکه وه، تر ناوخته کار سره ـ سره یې هېڅ کله هم صنم او تقدیر ته د مینې ورکولو له دندې سترې نه و، صنم خو لومړیو کې د زرګونو مشکلاتو ښکار شوه، خکه نوې چاپېریال، نوې ژبه او نوي ټولګیوال هغه څه و، چې صنم به ورته زړه خوور، زمونږ د اقتصاد پوهنځي د رئیس په تاکېد سره ټول ټولګیوالو او ښوونکو به د صنم سره د زړه له خلاصه همکاري کوله.

د ښوونکو له جملې مو د سیکالوژي مضمون یو ښوونکي چې ډېر جدې او د ښه شخصیت درلودونکې انسان و، نوموړي استاد یو ورځ د انسانانو د شخصیت پېژندنې په اړه درس راکاوه ، څینې خصوصیات یې داسې یاد کړل چې له وجې یې د ښه شخصیت درلودنکي انسانان پېژندل کېدل، همداسې بحث

لړ د ټولګيوالو او ښوونکي ترمنځ وغځېد، ځينې زده کوونکو د ياد درس په باب ژوندي مثالونه غوښتل

ښوونکي مو لړ غلې شو او بيا يې صنم ته وکتل ځان سره موسکی شوه او وويل:

ژوندی مثال مو ټولګي کې صنم ده چې د ټولو ښو ځانګړنو درلودنکې ده، ټول يو څه متاثره شول ځکه نوموړي استاد سره ددې چې يو ښه ښوونکي و، خو هېڅکله هم زمونږ د ټولګيوالو څخه راضي نه و، ځکه د استاد يې کچې توقع او د زده کوونکو بې پروايي هغه څه وو چې د نوموړي استاد له پامه يې زمونږ ټول ټولګيوال بد کړي وو، د کوچنی خبرې په اورېدو له صنم زيات زما زړه سرور واخيست، وخت په تېرېدو سره صنم د ټولګي ممتازه زده کوونکي شوه، د ټولګيوالو او ښوونکو سربېره ان د نورو ټولګيو د زده کوونکو لپاره د بحث او علاقې وړ موضوع صنم وه، ډېرو به ورسره د خبرو د کولو لپاره بهانې لټولې، صنم دومره سنګينه او حياناکه وه چې ان د خپلو ټولګي والو سره د خبرو په وخت به يې غمبوري له حيا تک سره اوښتل، او د غټو سترګو نه د تورو اوږدو بڼو د جوړ چتر د پورته کولو هڅه به يې تل ناکامه وه.

يوه ورځ د غرمې مهال و، د ژبو او ادبياتو د پوهنځي يو نامتو ښوونکي احمد جاوېد زمونږ ټولګي ته رانووت راته يې ويل، کله چې دې درس خلاص شو نو يو ځل ما حتما وګوره، اړين کار درسره لرم، د نوموړي ښوونکي استعداد، ښکلا او وړتيا هغه څه وه چې له وجې يې د ژبو او ادبياتو د پوهنځي مخکښ ښوونکي بلل کېده، يو ساعت وروسته ماهم د صنم نه د يو څو شيبو لپاره اجازه واخيسته او ورغلم، د احمد جاوېد ښوونکي پوښتنه مې وکړه بلا اخره مې اداره کې پيدا کړو، په اداره کې نور څوک نه تر سترګو کېدل، ورننوتم، جاوېد د کېناستو بلنه راکړه، زه يې هم ترڅنګ خالي چوکۍ کې کېناستم، د درس،

ښوونکو اومضامینو په اړه تر بحث وروسته یې وویل سلګۍ غواړم په یو موضوع درسره وغږیږم او ستا مرستې ته هم اړتیا لرم، زه لږ څه چرت کې شوم چې څه مرسته به راځینې غواړي.

احمد جاوېد خپلې خبرې غیر مستقیې پیل کړې او وویل

سلګۍ څوک چې چاته ښه او درانه ښکاره شي نو په اړه یې پوښتنې کړي، نو څکه ستا د ښې ملګرې صنم په برخه کې درځینې مرسته غواړم، زه داسې احساس کوم چې ستا صنم ته ډېر پاک او سپېځلې احساس لرم د صنم استعداد، سنګیني، حیا او ښکلا ټول هغه څه دي چې زما زړه یې په خپل واک کې اخیستی دی، نو زړلښتې هیله کوم ته یو ځل ورته زما په اړه وریاده کړه او که رضایت یې وښوده، نو زه به بیا کورنۍ ورولیږم، زه حیرانه پاتې وم نه پوهېدم چې څه ووایم، څکه تر دې وړاندې هم څو ځله زمونږ او ان د نورو پوهنځیو ښو ځوانانو د صنم د خپلولو هڅې کړې وې، خو صنم به تل منفي ځواب ورکاوه، ما د څو شیبو چوپتیا وروسته وویل

• سمه ده، زه به ورسره وغږیږم، هیله منده یم ځواب یې مثبت اوسي، څکه ستاسې په څېر شخصیتونه ممکن ډېر کم پیدا شي، ښوونکي احمد جاوېد د مننې په پار راته ډېر ښکلي الفاظ وکارول او ما هم تر درناوي وروسته مخه ښه واخیسته، صنم راته د عمومي دروازې مخې ته په تمه وه، د رسېدو سره یې راباندې یو ناز او پټکه هم وکړه، څومره ډې ناوخته کړ، زه ورته موسکۍ شوم او په ټوکو، ټوکو کې مې ورته وویل صنم ستا غوښتونکي ډېر دي او زه یوه، نو یو، یو ته چې ځوابونه وایم نو خود به ناوخته کیږي، صنم موسکۍ شوه او ویې پوښتل

بیا دې کوم نوی داستان راوړی؟

د داستان د نوم سره ما ښه په کړس وخندل، ځکه تل به چې ما صنم ته په دې اړه کومه نوې موضوع وریادوله نو بیا به مې ویل، صنم نوی داستان مې راوړی، د داستان کلیمه زمونږ ترمنځ معلوم خو پټ راز و، صنم ته مې مخ ور واړوه، د نوي داستان په اړه مې ورته وویل، صنم هېڅ علاقمندي ونه ښوده او راته یې وویل

سلگی! تر څو چې تقدیر ته واده ونکړم، نو تر هغې زه د ځان په اړه هېڅ فکر هم نه کوم، په خبرو کې یې نا رضایت ځرگند و، ما هم ډېر بحث ونکړ، ځکه مجبوریتونه یې ما درک کولای شول.

څو ورځې وروسته مې استاد احمد جاوېد ته د صنم خواب ور ورساوه، ډېر مایوسه او ناهیلې شو، همداسې هره اوونی به د صنم په اړه د یو نوي داستان سره مخ کېدم، کله، کله به مې صنم خوروله او ورته به مې ویل

وای وای نجلی! دا له تا سره کوم جادو دې، دا څنگه دومره کسان ستا غوښتونکي دي ها؟

وگوره زمونږ په باب هېڅوک هم پانه نه اړوي، صنم به په کړس وخندل او راته به یې وویل

خدایه خیر بیا دې لکه چې د مستی گراف اعظمي نقطې ته ورسېد.

شپې او ورځې تېرېدې او ازموینو ته هم ټولې دوه اونۍ پاتې شوې هر ښوونکي به راتلو او د خپل مضمون په اړه به یې د زده کوونکو ستونزې او پوښتنې حلولې، زمونږ د کاروبارونو یا (بزنس) د پېژندنې په نوم مضمون کې ډېرو زده کوونکو ته یو څه ستونزې وې، نو د یاد مضمون استاد زمونږ د ټکره ټولگیوال سنگین نه غوښتنه وکړه چې مونږ سره د تېرو درسونو په برخه کې مرسته

وکړي، سنگین خپل کتاب پرانیست او موږ ته یې د یو ښه ښوونکي په څېر د درس تکرار پیل کړ...

زرلښته داستان ته په ډېره مینه غوږ وه ، سلگی د سنگین لور ته وکتل، سنگین لا هم د زړه سوز د شپېلۍ په ذریعه بیانوو او د مرحوم احمد ظاهر د عاشق شدې اې دل غم هابت مبارک باد، سندره یې د شپېلۍ په نغمو کې اړوله، تماشه چیان یې په خلاصو غوږو لیوال ناست وو، سلگی یو سوړ اسویلی وویست او ویې ویل

زرلښتې سنگین دا چې وینې داسې څوان نه و، بلکې د سنگین جرئت او لیاقت تر دې حده و چې کله، کله به یې ښه او با استعداده ښوونکي، په ټولگې کې تر تاثیر لاندې راوستل، کله به چې ښوونکي ووت نو ټل به ورسره ټولو ټولگیوالو په همدې خبره لانجه وه، چې ته دومره پوښتنې او ژور بحث کوې چې ستا اوږد بحث کې ښوونکي بوخت شي نو بیا زمونږ ټول درس نیمگړی پاتې شي، د سنگین منطقي بحث به تل ټولو ښوونکو ته ډېر په زړه پوري و، په ما باندې هېڅکله هم د سنگین بحث بد نه دی لگېدلی، نه پوهېږم ولې به مې تل د سنگین په لیدو خوږ احساس کاوه، بې دلیله به مې زړه یو سرور واخیست، داسې لکه د خوشالیو کاروانونه مې مېلمانه وي.

د پوهنتون دویم ټولگې پیل شو، د ازموینو د پایلو او د هر پوهنځي د عمومي اول نمره گانو د اعلانولو لپاره ډېره لویه غونډه ونیول شوه، صنم زړه نازړه وه خو ما مجبوره کړه چې باید برخه واخلي، د دوشنبې سهار، ټول زده کوونکي، ښوونکي او اداري کارمندان د پوهنتون په عمومي تالار کې سره راټول وو، زه او صنم هم لاړو اود نورو انجونو سره په ځانگړي شویو څوکیو کې کېناستو، د دریغ ټولې چارې یې سنگین ته ورسپارلې وې څکه هغه د نورو په پرتله ډېر ډېر دریغ تر سترگو کېده، شببه وروسته غونډه پیل شوه، سنگین مایک ته ودرېد او

تر بسم الله وروسته یې د ښه راغلاست وینا وکړه، بیا یې ټولو ګډونوالو ته د ملي سرود درناوي په پار د ودرېدو هيله وکړه، غونډه قدم په قدم د سنګين احساساتي الفاظو او خوږو شعرونو لا پسې رنګينه او په زړه پوري کوله، د پوهنتون رئيس د پوهنځيو رئيسانو او ځيني بېروني مېلمنو تر وېناوو وروسته بلا اخره د اول نمره ګانو د اعلانولو او د تصديقونو د وېش لړۍ را ورسېده، لومړۍ د ژبو او ادبياتو پوهنځي او ورپسې دويم د اقتصاد پوهنځي، د عمومي اول نمره د اعلان وار را ورسېد، سنګين ستېج ته راغي او خپلې خبرې يې په دې بيت سره پيل کړې

*((داسې ورځ نه وي چې دردناکه حادثه نلري*

*خدايه قيامت راولې ژوند نوره فايده نلري))*

*بس نو دا ژوند دی مبارک وي د نړی خلکو ته*

*غريب افغان پدې دنيا کی هيڅ حصه نلري*

تالار شور او چکچکو په سر واخيست سنګين د تالار شور- ماشور مات کړ او وې ويل محترمو مېلمنو رئيسانو، ښوونکو او د کابل پوهنتون ګلونو زده کړيالانو د اقتصاد پوهنځي د عمومي اول نمره په توګه دا ځل ځوان نه، بلکې ځوانه پېغله درپېژنم، مونږ ټول يو څه وسوسه کې شول، ما تر ډېره په خپلې ملګرې او ټولګيوالې رويا شک وکړ، شايد د رويا نوم واخلي، رويا د باميانو د ولايت د تاجکانو د قوم نه وه، د سنګين وسوسه اچونکو خبرو په تالار کې د ناستو خلکو توجو نوره هم جلب کړه او بلاخره يې د صنم نوم واخيست.

زه نه پوهېدم چې ما به څومره په تېزي سره چکچکي وهلې وي، صنم د تعجب سرېره سر تر پايه لړزېده، ستېج ته لاړه د ښکلو تورو سترګو په کونجونو کې يې د خوشالۍ دوه اوښکې لکه د ملغرو په څېر ځلېدلې، ښوونکو او زده کوونکو ټولو د چکچکو په ړکا سره بدرګه کوله، زه داسې سرور واخيستم چې هيڅ مې طاقت نه کېده، ترهغې چې صنم مې کلکه په غېږ کې ونيوله او ياده

خوشالي مې ورسره غبرګه کړه، له سنګین نه مې په سترګو کې مننه وکړه، داسې لکه سنګین چې یاد ټول خواږه او توصیفي الفاظ ماته کارولي وي.

دا وخت سلګۍ ژوره ساه واخیسته د خپل تور بېګ نه یې یوه ګولۍ راوخیسته خولې ته یې واچوله او د اوبو غړپ یې پسې وکړ او وویل

دا څه موده راته د سر درد تکلیف پیدا شوی، ډاکټران وایي چې د خفګان له وجې دی، زړلښته چې لا هم د صنم کیسې ته په تمه وه وې ویل، ښا نو سلګۍ وایه کنه، څنګه غلې شوې سلګۍ بیا پیل کړ او وویل

زړلښتې خورې دویم ټولګې هم پیل شو د صنم علاقه ورځ تربلې د درس سره زیاتېده، دویم کال کې ورته ماحول درې ژبه او ټولګیوال هر څه ډېر عادي شوي وو، ټولګې کې به د لومړۍ ورځو په څېر اوس هم غلې ناسته وه، دې ورځو کې یې د سنګین سره د نورو په پرتله خبرې یو څه زیاتې کېدې، د سنګین په څېره کې به د خبرو په وخت د صنم لپاره لیوالتیا له ورایه ښکارېده او کله به چې ښوونکو تدریس کاوه، نو سنګین به د سترګو لاندې غلې صنم ته کتل، هغه لکه د خپل نوم په څېر سنګین خوې هم درلود ځکه به یې د درس له موضوع پرته د ډېر څه ویلو جرئت نه کاوه، خو تل به یې د سترګولاندې صنم څارله، شپې او ورځې په چټکۍ تېرېدې او زما مینه هم د صنم سره ورځ تر بلې زیاتېده اوس ورسره دومره عادت شوې وم، چې یو ساعت به مې ونه لېده، داسې به مې انګېرله لکه کوم مهم څېزچې مې ورک کړې وي.

یوه ورځ کله کور ته تلو نو په لاره مو د پوهنتون کیسې سره شروع کړې، زما لپاره چې ټولو ټولګیوالو کې سنګین د علاقې وړ ښکارېد نو په کومه موضوع مې خپل ټولګیوال سنګین یاد کړ، صنم د څه ویلو په تکل راوکتل خو کله چې زه ورته څېر شوم، داسې غلې شوه لکه کومه خبره چې په ستوني کې په زوره زندۍ کوي، هېڅ یې ونه ویل، ما پوښتنه هم وکړه، هغه غلې شوه خبره یې واړوله،

زه سره ددې چې اندېښمنه شوم، په داسې حالت کې خاموشه پاتې شوم چې د صنم بې واره خبرې اړوني ددې پیغام راکړ چې گوندې بحث کول نه غواړي، په ټوله لاره غلې وو، بله ورځ چې کله پوهنتون ته راغلو، نو ښوونکي ټولگي ته راغې او تر درس ورکولو وروسته یې دوه، دوه کسانو ته گروپي کار ورکړ، استاد د دوه، دوه ټولگیوالو نومونه اخیستل، د صنم نوم یې د سنگین سره یاد کړ، سنگین یو مرموز سرور واخیست، بې سبکه راجگ شو صنم سره یې نږدې خپله څوکۍ سمه کړه، ما د ټولگي د اخرې کونج نه صنم او سنگین په نښه کړي وو ، شیبه وروسته سنگین د کاغذ پر مخ لیکل پیل کړل او صنم به د برېښنا په څېر په څغلنده نظر د سنگین په لور وکتل او بېرته به یې ځان د کتاب د پاڼو په اړولو بوخت وښوده، د سنگین لېوالتیا او د صنم چوپتیا زه په زرگونو فکرونو کې واچولم.

د محمد د خبرو غږ مې د خیال ځنځیر وشلاوه، محمد راته کړه زه خو استاد ته وایم، مکمل سوال مې یوازې حل کړ، سلگۍ هسې راسره د بامیانو د بت په څېرغلې ناسته وه، ما په داسې حال کې چې فکر مې لا هم د صنم په لور و د بامیانو د بت اورېدو ته مې د زړه په سر وخندل، د بامیانو بت هغه اصطلاح وه چې زمونږ ټولگي کې به اکثره هغه ټولگیوالو ته کارېده چې بې تفاوته به و، دا لفظ مو لومړی ځل د خپلې ټولگیوالې رویا نه اورېدلې ، رویا د بامیانو د ولایت وه او په وینا یې یاد بُت ډېر لوړ او دنگ دې په بامیانو کې کلونه وړاندې جوړ شوی، چې تر اوسه سابقه لري.

محمد ټولگیوال مو ډېر شوخ هلک و، تل به یې د ټولگي نجونې خورولې او ځینو به پسې دا ملنډې وهلې چې ددې ټول سر او کار د انجونو سره وي، ساعت خلاص شو، ټول بېرته په خپلو ځایونو کېناستل، سنگین لا هم د ټولگي د جاج اخیستو په پلمه په څغلنده نظر د صنم په لور نظر اچاوه، د رخصتی وخت

شو، ټول ټولګيوال مو کور ته د تلو لپاره په بيړه، بيړه له ټولګي نه وتل، سنګين هم په ماتو، ماتو قدمونو د پوهنتون انګړ ته ووت، داسې لکه د پوهنتون د اخري ساعت خبر چې دده لپاره د اسرافيل شپيلۍ وي، نن ورځ په ټوله لاره صنم ډېره غلې وه، بنه يې داسې ښکارېده لکه يو عالم خبرې يې چې د کوچني زړه په کونج کې پټې ساتلې وي، اوس نو صنم د سنګين سره د خبرو په مهاله د هغه سياست مداري په څېر نه وه، چې خبره به يې لنډو ټکو کې رانغښته ، هره ورځ ټولګي ته د ننوتو سره سم يې د صنم څوکۍ په لورځغلنده نظر اچول، بلکل عادت ګرځېدلې و، کومه ورځ به چې صنم نه وه، نو سنګين به د ټولګي د دروازې د خلاصېدو سره سم په تلوار ور کتل، ګوندې صنم به وي، خو د سنګين تلوسه به ډېر ځله تلوسه پاتې شوه او چې کله به ورياندې د صنم د نه راتلو سبب د سپين غر د دنګوغرونو په څېر بار شو، نو په ماتو قدمونو به زما څنګ ته داسې راغې لکه د ژوند سور و تال چې يې بېخي مات وي، د يو څه خبرو وروسته به يې د هوښيار او باهنره ښکاري په څېر د صنم پوښتنه په داسې الفاظو وکړه لکه ښکاري چې د ښکار په مهال مرغۍ په نښه کړې وي خو مرغۍ ته د دوکې ورکولو په باب ځان ناګاره نيسي، بله ورځ کله چې ساعت خلاص شو د بل ساعت تر شروع کېدو ټول ټولګيوال بېرون ووتل، سنګين راته کړل، سلګۍ زما د منجمنت ( اداري) کتاب پکار دې، هغې صنم سره و لکه چې رانغله؟ البته، البته زما هغه کتاب لږ څه پکار و.

ما مطلبي موسکا وکړه، سنګين ته مې وکتل، سترګې مې سپينې کړې او ورته مې وويل، سنګين جانه کتاب نه، ممکن د کتاب مالکه به دې پکاره وه که څنګه؟

سنګين سور واوښت، سترګې يې لاندې واچولې، د سترګو لاندې يې زه په تيزې سره وځارلم، زما په څېره د خجالتۍ نښې له ورايه ښکارېدې، داسې مې

ونګېرله، لکه نښه مې چې خطا کړې وي، زما فکر لا د همدې شک او يقين په کش ـ مکش کې و، چې سنګين راته لږ په نيولي غږ ووېل، سلګۍ زه نه پوهېږم ښه کوم که بد، صحي يم که غلط خو شېږم حس مې هم دا ګواهي راکوي چې صنم زما د ژوند واګې په خپلو لاسونو کې اخيستي، زما فکر خيال ذهن هر څه يې راته تسخير کړي هر ځای صنم ده، پوهنتون، کور، لارې، سړکونه، ونې، پاڼې، خوب ان ټول کايناتو کې صنم وينم، زه جسما لکه کالبوت ګرځم ، خو ذهننا ټول د صنم فکر او خيال سره يم.

ما ورته داسې کتل لکه د کوم چا د ژوند مهم څيز چې يې د سترګو په وړاندې قربانيږي، زړلښتې ، د سنګين دې خبرو او زما د زړه دردمن احساس دا په ثبوت ورسوله چې د سنګين په وړاندې زما علاقه بې دلېله نه، بلکې هغه مينه وه، چې مخکې له پيل نه تمامه شوه، د سنګين سترګو او څېره کې د صنم لپاره د رښتينې مينې غوره ثبوت له ورايه ښکارېده، سره له دې چې د سنګين خبرو مې د زړه رګونه وشرنګول او هيلې يې راته زندۍ کړې، خو ډېر په سختۍ مې خپلې اوښکې کابو کړې او لږ څه د شرارت نه په ډک انداز مې ووېل:

واه، واه، د اقتصاد پوهنځي محصل او دومره فلسفي الفاظ، ته خو د ژبو او ادبياتو د پوهنځي ماستر وختې، څه وشو شيخ صبب هغه په ولو ناستې د سنګينې او حيا درس ورکوونکې ملايکې دې چېرته والوتې ها ؟

سنګين يو څه نور هم فلسفي شو او دا ځل يې راته د سترګو منځ ته ځير راوکتل او ووېل

سلګۍ زه جدي يم، ته يې ولې ټوکه ګڼې، ته زما سترګو ته وګوره، آيا زما سترګو کې درته د ټوکو ترعنوان لاندې کوم ثبوت ښکارې؟

زه نه پوهېدم چې څه ووايم په دې لنډه شيبه کې مې هر رنګه چرتونه ووهل، دومره حتماً پوه شوم، چې سنګين يوازې مين نه، بلکې د مينې سمندر

کې تر ژورو وربښکته شوې، ځکه مې تصمیم ونیو، چې هېڅکله به هم سنګین ته دا احساس ورنکړم، چې ما يې په وړاندې څه احساس درلود او بله خوا صنم راته دومره ګرانه وه، د صنم د خوشالۍ لپاره مې ممکن داسې لس نورې مينې هم قرباني کړې واې.

دې سره د سلګۍ سترګې اوښلنې شوې او زرلښتې ته يې داسې وکتل لکه يو مين چې تر ماتې خوړولو وروسته داسې مات، مات شي چې نور د ژوند تېرول ورته د يوې بې خونده ډرامې له تکرار بل څه نه وي.

اوښکې يې د لاس د شا په موټې پاکې کړې او پسې زياته يې کړه

زرلښتې هغه شيبه مې ډېر په سختۍ خپل خواره، واره حواس راټول کړل او سنګين ته مې وويل

فلسفي صيب! زه ستا په مينه شک نه کوم، ځکه په حقيقي مينه ګرو شک کول زما انسانيت ته لوی ګواښ دی، ستا په مينه زما شک همغه ورځ په يقين ن بدل شوې و، چې تا صنم د نتابجو د اعلانېدو په ورځ په لېوالتيا د سترګو په کونجونو کې څارله او په پوره مينه دي په خپلو خوږو او نايابه الفاظو ناستو ګډنوالو ته د خپلې حقيقي مينې د ثبوت په څېر معرفي کوله، سنګين دا ځل نرۍ او حياناکه موسکا وکړه او زما سترګو کې ښخې کړې سترګې يې لکه د ناوې د ناز او ادا په څېر په کراره لاندې واچولې، مرموزي موسکا يې دا ځل ددې اطمينان راکړ چې ګوندې نښه مې غلطه نه ده وېشتلې، سنګين د يو څه چوپتيا وروسته وپوښتل، سلګۍ نه پوهېږم صنم ته څنګه د خپل احساس وړاندوينه وکړم؟

همغه ورځ مې چټکه په ذهن راتېره شوه چې کورته په لارې وو، صنم سره مې د خبرو په مهال سنګين ياد کړ، د صنم په شونډو خاموشو الفاظو دا شاهدي راکړه چې ګوندې صنم په ورته موضوع کې د بحث لپاره لېواله ده، خو ممکن

کوم څه رانه پټوي، یا یې د ویلو جرئت نه لري یا هم مناسب وخت ته یې ګوري والله اعلم.

د صنم هغې خاموشۍ او معما ته ورته نظر مې په زړه د ممانعت دا مهر ولګول چې ګوندې صنم ته بايد ياد داستان زما په ژبه وړاندې نه شي، څکه مې سنګين ته وويل، روايتي لاره تعقيب کړه اوصنم ته دې د زړه خبرې او احساس د قلم په ژبه وليکه، بیا یې د خواب لپاره منتظر اوسه.

سنګين د بيا پوښتنې کولو لپاره خپله کوچنۍ خوله جوړوله چې ټولګيوال ټول رانوتل او شورماشور يې زمونږ نرم اوګرم بحث سوړ کړ، شېبه وروسته استاد راغی، درس يې پيل کړ، سنګين تر اخره په چرت کې ناست و، دا چې زړه يې ورته څه مشوره ورکوله، په هغې به څه پوه شم.

درس تمام شو او ټول د کورونو په لور لاړو، ما په ټوله لاره پټې اوښکې توې کړې خپله رنده او وژل شوې مينه مې په چټکۍ ښخه کړه، په لاره مې د هغه خوږ احساس فاتحه هم ادا کړه، کوم مې چې سنګين ته درلود.

سلګۍ دا ځل يو سوړ اسويلی وېست او وې ويل، صنم درې ورځې پرله پسې رانغله او ويل يې، پلار مې سخت مريض دی. زه هم دې درې ورځو کې څو ځله پوښتنې ته ورغلم خو صنم ته مې د درسونو په اړه ډاډ ورکاوه چې زه درته ټول تکراروم، په دريمه ورځ مو پوهنتون ته له تلو وړاندې لومړې د زړګي ماما پوښتنه وکړه او بيا د پوهنتون په لور رهي شوم.

زما تر تلو وړاندې ښوونکي ټولګي ته راغلي و، د درس تر پيلېدو مخکې زه ټولګي ته ساه نيولې ننوتم، سنګين په سترګو کې داسې راوکتل لکه کوم څه يې رانه ويل غواړي، يوازې ددې انتظار باسي چې استاد له ټولګي څخه ووځي، استاد څو ځله په سنګين ددې لپاره د درس منځ کې غږ هم وکړ، چې په نوموړي موضوع ورسره بحث بدرګه کړي، سنګين غلی و، ما يې له څېرې داسې جاج

واخیست چې ګوندې د استاد بحث ورته ستړې کوونکی دی، ټولو ټولګیوالو ته په درس کې د سنګین بحث نه کول یوڅه د تعجب وړ وه، همدا چې استاد د ټولګي څخه ووت، نو زمونږ د ټولګیوال محمد زړه طاقت ونکړ او په سنګین یې ورغږ کړل سنګینه یاره، راته ښکارې د کوم ښکارې په اپښي دام کې ونښتې، ټولو ټولګیوالو وخندل، سنګین هم بې زړه موسک شو او وې ویل، محمده شپ شپ مکوه شفتالو وایه، منظور دې څه و؟

محمد د ټولګیوالو د خندا تال مات کړ او وېې ویل، څنګه نن داسې غلې، غلې ښکارې او درس کې دې هم نن هېڅ بحث ونه کړ؟

مخکې له دې چې سنګین ځواب ورکړي، بل ټولګیوال مو د محمد خبره نوره غځولو ته پرېښوده او وویل، کوم لیونی ته چا ویلي و، چې ګوره چېرته دې درمندونو ته اور وانچوې، نو لیوني ورته په ځواب کې ویلي و، ښه دې چې رایاده دې کړه، ټول په خندا شول.

ټولګیوالو مو د ټولو د خندا تار وشلوه او وویل:

سنګین هم دې ساعت کې بحث ونکړ، خو راتلونکي ساعت ته دې په لوی لاس متوجې کړو، ټول صنف بیا د کړس، کړس خنداګانو انګازو واخیست او ما هم نرۍ خندا وکړه.

دې سره زرلښتې هم وخندل او خو شېبو لپاره یې د خېرتیا مرغانو لنډ پرواز وکړ، شاوخوا زلمي محصلین تېربېدل راتېرېدل، خو سلګی د کبسې په خوږو الفاظو د زرلښتې ټول حواس جمعه کړي وو، د سنګین د شپېلۍ نرمو نغمو یې داسې بدرګه کوله، لکه د توتکیو جوړ کاروان چې په خپلو خوږو سندرو د پسرلي بدرګه کول خپل هدف ګرځولې وي.

د باد نرمې څپې د شپېلۍ خوږ غږ د شنو ونو په منځ کې د کوچنیو مرغیو خوږې نارې یو عجیبه کیف یې کاوه او د طبیعت د ښکلاوو بېلګه یې تماشې

نه وړاندې کوله، سلګۍ د سنګین لور ته په داسې حال کې وکتل، چې سنګین لا هم د سوزنده نغمو په زور د خپلو تماشه کوونکو په زړونو واکمن و.

سلګۍ زیاته کړه، زړلښتې خورې سنګین زمونږ د ټولګیوالو تعبیرغلط را ویوست او د اخري ساعت تر اخرې شیبو یې خپله چوپتیا واکمنه وساتله. د رخصتي مهال شو، د سنګین د انتظار ترخې شیبې پای ته ورسېدې، سنګین په پښه نیولو قدمونو زما څنګ ته راغې او راته یې وویل:

سلګۍ ما ستا په خبره لیک ولیکه چې صنم ته یې ورکړې، خو صنم نن هم رانغله نور مې صبر تمام دې، هیله کوم زما لیک تر صنم ورسوه. زه غلې شوم د هو او نه ځواب مې لا نه و ورکړی چې سنګین په تلوار کتاب په لاس کې راکړ او له ټولګي لکه د ملا ماتې ځانګې په څېر مات، مات ووت. لیک یې ددې لپاره د کتاب منځ کې ایښې و، ترڅو نور ټولیګوال کوم شک ونکړي، زه هم د کور په لور روانه شوم. کتاب مې راخلاص کړ په منځ کې یې یو کاغذي پاکټ پروت و، خو څله مي زړه راته وویل

راځه خلاص یې کړه او ویې لوله، خو بېرته به مې ذهن منع کړم، دا ځل مې زړه غښ کړ، پاکټ مې راوخیست او وروسته متوجې شوم چې د پاکټ سر خلاص دې نو لیک مې پرانېست او په لوستو مې پیل وکړ، د لیک په سر کې دا جمله لیکل شوې وه:

زما د زړه د کوچنۍ ماڼۍ واکدارې صنم!

نه پوهېږم د کومو الفاظو په مرسته درته د خپل زړه حال در ورسوم؟

پدې هم نه پوهیږم چې زما د لیک تر لوستو وروسته به ستا غبرګون څه وي؟، خو زه دومره مجبور یم چې زما د مجبوریت د اندازې بیانول دا واړه الفاظ نشي ادا کولای، صنم د خپل روان حالت نه دا جاج اخلم چې زما د قسمت توري شوې پاڼې ستا نه پرته بې معنا دي، کټ، مټ د هغه کتاب په څېر چې

لوستونکي لري، خو توري نلري، صنم ستا ناز، ادا، معصوميت، وربښمينو تورو زلفو، غټو اوږدو سترګو او بې ساري ښکلا ښکار کړی يم،، ته د فطرت د توازن او تناسب بېلګه يې، اې کاش انسان ته سجده کول جايز وای چې په پوره اخلاص او مينې مې ستا مرمرين وجود ته سجده کړې وای. صنم زه ستا د تيره بڼو په غشو ويشتل شوی نيم ژوندای مرغي يم هيله کوم را جګ مې کړه او لکه د مسيحا په څېر ژوند را وبښه .

سنګين

ليک مې تر لوستو وروسته بېرته په پاکټ کې واچوو، په ټوله لاره مې هر ليکل شوی لفظ په شونډو زمزمې کولې، د سنګين له الفاظو سپېڅلتيا او ريښتونولي داسې څڅېده، لکه ماشوم چې په کوچنۍ ژبه حقيقت بيانوي.

د رسېدو سره سم لومړې د صنم دوی کور ته ننوتم، صنم نه تر سترګو کېده، زړګی ماما لمر ته په پروت کټ کې غځېدلې و، خپل دواړه ګونځي، ګونځي لاسونه يې په مخ اېښي وو ، داسې مې وانګېرله چې ګوندي ويده دې، وروسته مې پام شو چې ويښ دې او د لمر له جلوو يې سترګې په امان کړېدي، د روغتيا په باب مې پوښتنه وکړه، خوشاله او جوړ ښکارېدو، بيا مې د صنم په اړه وپوښتل، ويل يې تقدير نه و سودا پسې وتې ده، ما زړه کې همدا کرل او رېبل چې ليک ورته څنګه ورکړم؟

اخر مې دا لازمه وګڼله او کتاب مې ورته د کړکۍ په درشل کې کېښود، زړګي ماما ته مې د تلو په مهال وويل چې صنم ته ووايې، د کړکۍ خواته اېښي کتاب پورته کړي.

دې سره سلګۍ په خپل سپين مړوند کې تړل شوې تور ساعت ته وکتل او زرلښتې ته يې وويل، زرلښتې راځه چې درسي ساعت شروع شو، بيا لږ څه په وار خطايي يې خبره وغځوله، هله دا استاد مو ډېر جدي دې، کله چې صنف ته

نتوځي نو د صنف دروازه کلکه تړي او بیا وروسته راتلوونکو ټولګیوالو ته د ننوتو اجازه نه ورکوي هله راجګه شه پاتې کیسه به بیا کور کې درته وکړم، صنم ته لیک رسېدل او د صنم خواب زرلښته داسې وسوسې کې واچوله چې ذهن یې هم سوال کوونکې شو هم خواب ویوونکې، سلګۍ او زرلښته سپکې جګې شوې او بېرته د ټولګي په دروازې ننوتې، ښوونکي درس ورکاوه، خو زرلښتې تر اخره سنګین د با هنره ښکاري په څېر په نښه کړی و، د سنګین د مړاوي څېرې یې دا تعبیر اخیست چې ژوند له ناکامه تېروي، لږه شبېه یې صنم را په زړه شوه، تر دې شبېې زرلښتې د صنم په اړه هېڅ هم سلګۍ ته ونه ویل، چې هغه صنم زمونږ ګاونډی ده او څه رقم ژوند سره لاس او ګریوان ده، خو له خانه سره یې تصمېم ونیو چې کله ورپاتې کیسه ختمه کړي نو هرومرو به سلګۍ ته د صنم په اړه ووایي، زرلښته د صنم د یاد سره خواشینې او له خانه سره په شور شوه او همدا یې ویل، خدابزده صنم به په کوم حال کې وي، د زرینې سپکو او سپورو به بیا څومره خورولې وي؟

کاشکې تر څنګ یې وای، لږ تر لږه خو به مې ورته د پام د بدلولو هڅه کولای، زرلښتې لا همغسې د صنم د ژوند د کتاب پاڼې لوستې، چې د زده کوونکو په کړس خندا یې د پرانېستې کتاب پاڼې خورې، ورې کړې، زرلښته سره له دې چې د خندا په علت پوه هم نه شوه خو بیا یې هم د ټولګیوالو سره د خندا کولو ناکامه تمثېل وکړ، شېبه وروسته ساعت خلاص شو، سلګۍ انجونو ټولګیوالو نه مخه ښه واخیسته او د پوهنتون انګړ ته راووته، په دې نېت چې له پوهنتون نه ووځو، خو یوې دنګې پېغلې د انګړ منځ کې ودرولې، د سلګۍ سره یې ډېر له خلوص نه ډک روغبړ وکړ، ماته یې هم ستړې مشې وکړه او بیا یې د سلګۍ نه زما په اړه وپوښتل

سلگی ورته ورمعرفي کړم، د سترگو په منځ کې یې را کتل، نجلی غنم رنگې خو جذابه وه، تر خداي پاماني وروسته راته سلگی کړل، دا مو دویم ټولگې کې ټولگیواله وه، بیا د څه ستونزو له وجې یې تعجیل واخیسته اوس د دریم ټولگي زده کړیاله ده، خبرې مو همداسې وغځولې ، زرلښته د پاتې کیسې تلوسې داسې اخیستې وه چې د زړه په سر یې سلگی سره د نورو گڼو موضوعاتو په سر بحث کوو، زړه او ذهن یې یوازي د پاتې کیسې په لور و، شیبه وروسته کور ته ورسیدل، ماجبین خاله په ورین تندي ښه راغلاست ووایو او له زرلښتې یې د ورځې د جریان په اړه و پوښتل بیا یې د نږدې همسایه د گاونډي توب اړیکو او ښه والي په اړه وویل، چې کور ته یې ورغلي وم، زرلښتې یوازي اوس ددې موقع لټوله چې څنگه د سلگی سره پاتې بحث بیا یاد کړي، شپه شوه، ټول د ډوډۍ تر خوړلو وروسته د خوب په نیت خپلو کوټو ته ولاړل، سلگی هم د زرلښتې سره خپلې کوټې ته لاړه، هوا ډیره سړه وه، زرلښتې د گرمو چایو پیاله د سلگی مخې ته کیښوده او د کابل د ژمي او هوا د سوړ والي شکایت یې پیل کړ، زرلښتې یې خبرې د زړه په سر اوریدې، کله چې سلگی ورته خبر شوه، نو ویې پوښتل، څنگه داسې بې فکره ښکارې ها؟

د زرلښتې هم نور زړه بې صبره شو او ویې ویل

سلگی زه دې وسوسه کې واچولم او تا کیسه نیمگړې پریښوده، سلگی موسکه شوه، گوندې دا فکر یې کاوه، چې زما د یوې ټولگیوالې کیسه نو څنگه یو داسې کس ته چې حتې پیژنې یې نه، دومره جالبه کیدای شي؟

سلگی څه خبر وه چې د صنم سره د زرلښتې اړیکه روحا او ذهنا ټینگه شوې ده، د لنډ فکر وروسته یې زرلښتې ته وکتل د چایو دگه پیاله یې د گوټ په نبت پورته کړه او بیرته یې کیښوده، ـزرلښتې زما په اند ریښتینې مینه تل نیمگړې وي، مئینان یې په دوه جدا لارو داسې لاړ شي چې د یو بل له احواله هم خبر نه

شي، خو د يو بل خيال او ياد يې ژوند ور رنگين کوي، زرلښتې صنم ته مې د کړکۍ په درشل کې لیک کېښوده، له زړه مې يوازې همغه الله خبر و، کوم چې د زړونو له رازونو خبر دې، د رخصتي ورخ شوه، دې ورخ کې مې هېڅ د صنم احوال وانخيست، د سنگين د خبرو تر اورېدو وروسته مې وضعيت هم چندان ښه نه و، د وجود غړو مې درد کاوه او سره تبه مې وه، هغه هم ورخ وه تېره شوه، کټ مټ لکه د کوچني قيامت په څېر سخته او درنه وه، په سبا د صنم سره گډ د پوهنتون په لور روانه شوم، د زړگي ماما د وضعيت په اړه مې وپوښتل، ځواب يې مثبت و، ځکه خوشاله ښکارېده خو ځله مې صنم ته وکتل او زړه مې دې کش، مکش کې و، چې ليک به يې لوستې وي او کنه؟

د صنم څېره او رويه کې کوم خاص تغيير نه لېدل کېده، د نورو ورځو په څېر عادي رويې يې دا احساس راکړ چې يا خو يې ليک نه دی ترلاسه کړې او يا هم ممکن نه غواړي چې زما سره په ياده موضوع بحث وکړي، زه لا ددې فکرونو وزگاره شوې نه وم چې پوهنتون ته ورسېدو، سنگين ټولگي کې نه ښکارېده، وروسته مې پام شو چې مخامخ انگړ کې د ټولگي په لور را روان دی، نن يې د صنم د څوکۍ په لور ځغلنده نظر وانچوه، بلکې څو شېبې ودرېد، بې واره يې د صنم په لور کتل گوندې د خپل ليک ځواب د سترگو په اشاره ترې غواړي، صنم ډېره غلې وه، داسې لکه په خوله يې د چوپتيا پټۍ لگېدلې وي، د سنگين سترگې چې د شبگېرو په اور ستې شوې وې د صنم د ځواب لپاره ناقراره و،

سنگين ښه شبېه صنم د صنم سترگو ته د ځواب په تمه شو، خو هڅه يې تر ډېره ناکامه وه، د ښوونکي د قدمونو ښکالو صنم او سنگين د سترگو نامعلوم جنگ پای ته ورساوه، سنگين مات مات قدمونه واخيستل او په خپلې څوکۍ کېناست، ټولو ټولگيوال مو نوموړې نندارې يو څه په شک کې واچول،

ښوونکي درس پیل کړ، سنګین تر وروستیو پورې په وار، وار د صنم په لور کتل، تر اخره یې د زړه وسوسه ختمه نشوه، صنم هم فکر وړې ناسته وه، داسې لکه یوازې جسما ټولګي کې ناسته وي، خو ذهن یې د تېري ننداري لپاره تعبیرونه لټول.

ورځ ختمه شوه، د کورته تلو په تکل روان شو، له لرې فاصلې مې سنګین هم لېده، داسې ژورو فکرونو کې غرق روان و لکه د هېلو لمر یې د صنم د چوپتیا له وجې وربخ شوې وي، شپې او ورځې تېرېدې، ما به د سنګین وضعیت ته کتل نو تکل به مې وکړ، صنم ته موضوع وریاده کړم او پوښتنه ځینې وکړم چې له چوپتیا یې مراد څه دې خو، صنم به د تل په څېر غلې وه او کله به چې ښوونکي ووت ، د سترګو لاندې به یې غلې د سنګین په لور وکتل، سنګین د صنم چوپتیا ته کله د هو او کله د نه معناوې ورکولې، بله ورځ کله چې د ښوونکي تر درس وروسته ټول ټولګیوال بېرون ووتل، یوازې زه صنم او سنګین پاتې شول، صنم همغه کتاب را خلاص کړ، کوم کې چې سنګین لیک ایښې و او زما په لاس یې صنم ته ورلېږلې و، صنم د کتاب پاڼې د کوم عنوان د پیداکولو په لټون اړولې، چې سپین کاغذ یې ترې را واخیست، په سوالیه انداز یې ورکتل ، ما زر سنګین په تېزي سره وڅاره، سنګین لا تر ما وړاندې خبر و، لاسونه یې لړزېدل، کټ مټ د همغې ورځې په څېر چې د لیک ورکولو وروسته یې د صنم نه په سترګو کې ځواب غوښت، ما ورته په سترګو کې د ډاډ ورکولو په نیت ورکتل، صنم چې کله لیک په حېرانتیا را واخیست نو زما هغه شک یې په یقین بدل کړ کوم مې چې د صنم د چوپتیا په باب کړې و، چې ګوندې لیک به یې نه وي ترلاسه کړې، صنم لیک پرانیست او په لوستلو یې پیل وکړ، د سنګین په شونډو د دعا الفاظ خواره شول ټول وجود یې لړزې واخیست داسې لکه مجرم چې د خپل د ژوند د اخرې پریکړې د اورېدو لپاره د قاضي په وړاندې ولاړ وي.

د باران مبده څاڅکي هم په راښکته کېدو شول، یو عجیبه حالت و، داسې لکه د سنګین برخلبک چې تاکل کېږي، صنم لیک لوست، خو ما او سنګین بې د سترګو منځ ته د خواب اخبستو په نیت ورکتل، صنم د هر لفظ لوستو سره حیرانه کېده او حیا یې د رخسارونو د پاسه لکه د اور د سرو لمبو په څېر شغلې کولې، تر لیک لوستو وروسته یې سر خوړند ونیو او مانه یې په داسې نظر وکتل ګوندې څه یې ویل، زما سترګو او زړه د صنم نه یوازې د هو ویلو هیله کوله. صنم خو شیبې په خپلو اوږدو بادامي سترګو زه وځارلم او بیا یې شانه د سنګین په لور وکتل، د سنګین زړه د خیرات په نیت د ملنګ غوندې زارۍ کولې، تا به ویل لکه له صنم نه چې خپل ژوند په خیرات کې غواړي. شیبه وروسته مې د صنم په سترګو کې هم اوښکې ولیدې، دواړه غلي وو خو زړونو او سترګو یې یو له بله سره خبرې کولې، د باران څاڅکي هم ګړ شول، له کړکۍ ها خوا دنګو خزان وهلیو ونو کې د مرغیو جوړ شور، د باد نرمو ځپو او مبده باران د فطرت ښکلا تماشې ته وړاندې کوله، د سنګین په مخ بې واره اوښکو جوړ کتار د ربنتینې مینې ګواهان وو، لکه د سنګین د ربنتینوالي لپاره چې په کتار ولاړ وي، خو د صنم بڼې ته چې ښه ځېر شوم نو یقیني شوم، د اوښکو یې معنا رضایت و. د زرلبنتې سترګې نمجنې شوې، په لاس کې نیولې د چایو پیاله یې په سور فرش کېښوده او وویل:

سلګۍ خورې! زه هم نه پوهېدم هم مې له سترګو اوښکې روانې وې، هم مې زړه له خوشالي هوا کوله، ژړا او خوښې مې بې دلبله نه وه اوښکې مې د خپل مین د لاس ورکولو لپاره وې او خوښې مې د صنم لپاره وه، دا ځل سلګۍ د خادر په پېڅکې اوښکې پاکې کړې او زرلبنتې ته یې وکتل، د زرلبنتې سترګې هم نجمنې ښکارېدې، زه یې د سلګۍ دې لویې قرباني ورکولو ته د شهامت، زړور توب او غیرت شعارونه ورکول، کټ مټ لکه څینې با احساسه لاریونیان

چې د کوم اتل په اتلولي شعارونه ورکوي، سلګی غلې وه خو زرلښتې يې د چوپتيا تال مات کړ او ويې پوښتل:

ښه سلګی بيا څه وشول؟

د سلګی په څېرې د خواښنې نښې را څرګندې شوې او ووېل:

زرلښتې هغه څه وشول چې زما عقل او زړه يې تر اوسه هم نه مني، د دويم کال ورږستي وختونه وو، سنګين د مينې په زورور څپو کې ډوب و، خو صنم به د پخوا په څېر ټولګي کې غلې ناسته وه، يو نيم وخت به يې د سنګين سره د خبرو په مهال د خندا غږ لوړ شو، د صنم په داسې غږ خندل به د ټولو ټولګيوالو لپاره حېرانوونکي وو، کله به د صنم د خندا سره په ټولګي داسې صحرايي خاموشي خپره شوه، تا به ويل لکه د صنم خندا چې د اسرافيل شپېلی وه او د دوی ټولو د خبرو تال ور ماتوي، اوس د ټولګيوالو سربېره يو نيم ښوونکي هم په دې خبر شوی و چې سنګين د صنم د عشق په وېړ دام کې بند شوې، څکه به کله کله ټولګيوالو په عذابوو او ويل به يې چې ډېر به دې ويل چې زه په مينه باور نلرم څنګه دې هغه باور مات شو؟

سنګين به يوازې مسک شو او ويل به يې چې مينه د ښځي ټول تالونه ماتولی شي او بيا به يې څواب دومره ژور او فلسفي شو چې ټول به يې په فکر کې واچول، څينو شوخانو خو به په داسې طرز وويل چې ياره مونږ دې بېخې بلې دنيا ته بوتلو، دا زړه خو مې وايي چې راڅه همدا شېبه مين شه دا د مينې دنيا لا څومره خوږه ده.

د سنګين لېوالېتا د صنم په وړاندې ورځ په ورځ لا پسې زياتېده، يو ورځ چې کله د پوهنتون نه په لاره راتلو نو راته يې کړل:

سلګی نه پوهېږم زه څنګه داسې شوم، ما هېڅ کله داسې فکر نه و کړی چې دومره زر به د چا د خبرو تر اثر لاندې راشم او يا به د چا د خبرو ښکار شم

، د سنګین جادویي کرکټر زما هرڅه مات کړل، ما د څوررولو په تکل ورته وویل څه څه اوس هسې وايې مړې وخته نه دې سنګین په زړه واکمن شوی و، څکه خو دې دومره خلکو ته منفي څوابونه ورکول، داستان به دې ترې جوړ و، کله چې موضوع د سنګین شوه نو زړه کې دې ګوړې ماتولې، صنم د زړه د خلاصه خندا وکړه او ماته یې په خندا کې د بې ګناهي د ثبوت راکولو په طرز وکتل، خو ما لا همغسې د صنم له څوررولو خوند اخیست.

ما به تل د صنم له څوررولو او غوسه کولو هغه په ښه ډول درک کوله، صنم ته یا خدای دومره لوی زړه ورکړی و، چې هېڅ خبره به یې هم بده نه اخیسته، زمونږ د ساعتونو ساعتونو کیسو به ډېر خلکو ته دا پوښتنې پیدا کولې، دا څه رقم کیسې دي چې هېڅ نه خلاصیږي، نه پوهیږم زړلښتې زما ورځ به صنم سره دومره زر تېرېده چې هېڅ به نه پرې پوهېدم، وخت په تېرېدو و، زمونږ مینه لا پسې په زیاتېدو وه، د کلنی ازموینو ورځې هم لنډې شوې وې، مهال وېش مو د پوهنتون په انګړ کې په لوېې ډړې ولګېدو، ډله، ډله محصلین ترې ګرد چاپېره ولاړ و، یوه نیم بې غمه زده کوونکی خو به ترې سبده تېر شو او له ځانه سره به یې ویل چې لا خو امتحان ته څو ورځې شته دي بیا به یې واخلو، صنم ته مې ډېر وویل چې راځه راتلونکې ورځ به یې واخلو، نن ډېر بېروبار دی، صنم مې خبره را پرې کړه او وویل: نه سلګی بابد یې نن واخلو څکه درسونه ډېر لوستل شوي او دا کال ښوونکي هم له هرې برخې جدې دي نو دا ازموینې راته ډېرې ستونزمنې ښکاري، ما په خندا، خندا کې وویل مړې ته یې نو څه غم لرې ته هسې نه هم اول کیږې، ماته ښکاري په دې ښوونکو دې کومه جادو کړې ټول دې ستایې او نمرې هم ښې درکوي، صنم کړس وخندل او په مخ یې د ناز یوه سپکه څپېړه راکړه، څو شېبې په تمه پاتې شوو، چې ګوندې بېروبار به کم شي او مهال وېش به واخلو خو لاهم همغسې خلک په زیاتېدو و، زه مې د ټولګیوال محمد سره د

مهال وېش د ترتیب به اړه په خبرو بوخته شوم . لنډې شېبې وروسته مې سنګین ولېد چې د صنم تر څنګ ولاړ و، خبرو، نرۍ خنداګانو او په لېوالتیا کتلو یې داسې خوند راکړ، لکه د پسرلي په تازه غوړېدلو ګلونو چې د باران میده څاڅکي ورېږي او په بڼ کې ترې موزونه موسیقي تولیدېږي، ما په هغوی کې سترګې ګنډلې وې چې د محمد پوښتنې مې د فکر نرۍ ګډوډه کړه، په داسې حال کې مې د محمد د پوښتنې ځواب ورکړ چې ذهن مې لا هم د صنم په لور مایل و، شبېه وروسته سنګین صنم ته یو کاغذ ورکړ او نه زړه له پوهنتونه ووتو. زه زر د صنم خواته ولاړم او ومې پوښتل:

راته ښکارې چې بیا دې کومه د مینې لیک تر لاسه کړو؟

صنم دا ځل ښه د زړه له خلاصه وخندل او راته یې وویل:

هو ترلاسه مې کړو خو واخله باید یې ته راته ولولې، ما هم بې له خنډه واخیستو خو چې کاغذ مې خلاص کړ، نو د ازموینو مهال وېش پکې د سنګین په خط لیکل شوی و، د صنم په لور مې وکتل، د خندا غږ یې ورو ورو لا پسې جګېدو او ما یې په ښکلې څېره کې سترګې ښخې کړې وې، څو ورځې وروسته کلنۍ ازموینې پیل شوې، سهار به چې کله ازموینو ته تلو نو تل به مې صنم لیده چې ښکلې سترګې به یې سرې او داسې پړسېدلې وې لکه میاشتې میاشتې چې یې شبګیرونه کړي وي، د سوروالي به یې د سترګو ښکلا لاپسې زیاتوله. داسې چې د تشبیه پیدا کول به ورته ناممکن و، د خپل زیار او هڅې له وجې به کله کله د پوهنتون انګړ کې د یو نیم ښوونکو له خوا ډېره تشویق کېده، د وروستۍ ازموینې په ورځ مو د اقتصاد پوهنځي رئیس چې ډېر د ښه او درونډ شخصیت و، د پوهنتون په انګړ کې یې ټول زدهکړیالان را ټول کړل، د پوهنتون د بېرته شروع کېدو نېټې د نوې طرحو او پلانونو په اړه یې خبرې کولې، ټول ورته غلي ناست وو او په خبرو خبرو کې یې دا هم یاده کړه چې د ځانګو د انتخاب لپاره

ښه او دقيق فکر وکړئ ، ډېر ټينګار يې په دې و چې د پوهنتون د شروع کېدو د نيټې سره سم به درسونه پيل کيږي، که يو کس هم په ټولګي کې حاضر و، نو زمونږ د پلان سره سم به هغه يو زده کوونکي ته هم درس ورکول کيږي، ورسره يې د وخت ارزښت او اينده جوړونې په باب خبرې وکړې، تر ډېره يې خبرو تشويقي جنبه درلوده، او خپلې خبرې يې په دې وينا ( ګرانو زده کوونکو! که د هېواد د ابادۍ لپاره يوه تيږه په بله نشي ايښودی، نو لږ تر لږه يوه تيږه له بلې مه بېلوئ، که د فساد کوونکو مخه نشي نيولی، نو هېڅ کله هم فساد کولو ته لار مه هواروئ.) پای ته ورسولې.

ټول د کورونو په لور رهي شول، ځينې خو ددې رخصتيو لپاره دومره خوشاله وو چې چيغو او غبرګو خنداګانو يې د پوهنتون ټول انګړ په سر اخيستی وو، له همدې شېبې يې د رخصتيو لپاره د چکرونو پلانونه سره نيول، زه مې د ټولګيوالې رويا او شبنم سره په کيسو او خبرو بوخته وم، رويا راته ويل چې پينځلس ورځې وروسته مې کوژده ده، د هلک خسرګنۍ او کوژدې په اړه يې کيسې کولې، شبنم به د خبرو منځ کې را ودانګل او د رويا په ځورولو به يې لاس پورې کړ، دومره په لوړ غږ به بيا دواړو وخندل چې د انګړ منځ کې به يې د ډېرو پاملرنه جلب کړه، د دومره زده کړيالانو له منځ نه يوازې سنګين و چې خواشينی ښکارېدو، داسې لکه د ژوند د خوږو او خوښيو سور او تال يې چې بلکل مات شوی وي، صنم هم په خوله څه نه ويل، خو په څېره يې دلفريبه موسکا د درد ښکارندويه وه، صنم د پوهنتون يو اړخ ته دوه کسيزې ايښې څوکۍ باندې فکر وړې ناسته وه، ښې اړخ ته يې په کوچنۍ وياله کې روانو رڼو اوبو د زمزمو شور خپور و، د سپين ږيري بابا د تبر غږ د مړو اوبو د زمزمو او د مرغانو د نغمو ټول تال ماتوو ، صنم ورته چرت کې غلې ناسته وه چې د سنګين د پښو ښکالو يې ذهن وربدل کړ، د سنګين په څېرې د خواشينۍ نښې له ورايه ځلېدې، داسې

لکه همدا یې چې د صنم سره وروستی دیدن وي، څکه خو ورته دا رخصتی د اسرافیل هغه شپیلی وه چې نور به یې له زړه سره د خیر او شر حساب کېږي او یا به معلومه شي چې د وصال جنت ته به ځي که د بېلتون په تیاره دوزخ کې به ابدي مېلمه وي، سنګین د لنډې شیبې چوپتیا وروسته صنم ته وکتل او ویې پوښتل، صنم راته ښکاري چې دې اوږده رخصتي کې به ډېره راپسې خفه شې؟

صنم د خپلې خبرې نه د خواشینې خپور سیوری تول کړ، څو شیبې یې د یوې بې پروا پیغلې په څېر تمثیل پیل کړ او وې ویل، ویښه صیب، بې معناوو خبرو ته خپه کېدل د صنم په فطرت کې نشته او ولې به خفه کېږم، رخصتي د زده کوونکي په ژوند کې کټ مټ لکه اختر وي، نو زه دې اوږد اختر ته داسې خوشاله یم لکه ماشوم ته چې د اختر په شپه له وسوسې او خوښۍ خوب نه ورځي، توله شپه د سبا کېدو لپاره رڼوي او هره شیبه د سبا د ورځې لپاره ذهن کې انځورونه جوړوي.

د صنم زړه دننه د درواغو او تمثیل کولو شاهدې ورکوله، سنګین هم مرموزه او مصنوعي موسکا وکړه او وویل، صنم د هر انسان فطرت توپیر کوي، ځینې خپلې خبرې د زړه په کونجونو کې ساتې داسې چې ممکن خپله هم پرې خبر نه شي، خو ځینې بیا د زړه هره لویه او کوچنی خبره ددې لپاره په خوله کوي چې په زړه ولاړې غوټې هواري کړي او د ارامتیا ساه واخلي، صنم ستا تمثیلي کلیمات ستا حقیقي خبرې ته نقاب نشي اچولی، بیا یې صنم ته لږ څه نور هم خیر شو او وویل:

صنم زما مینه دومره کمزوره نده چې ستا د زړه په تل کې پراته زندۍ شوې الفاظ دې مطالعه نشي کړای ، ماته دا اوږده رخصتي ممکن د هغه قیامت په څېر تمامه شي چې نوم نلري خو سخته یې ممکن د لوی او کوچني قیامت دواړو نه زیاته وي.

د سنګین د سترګو په کونجونو کې اوښکې ځلېدې، خو صنم د خپل پښتون غرور له وجې د خپلو ښکلو سترګو اوښکو ته د غرور دنګ دیوال درولی و، د سنګین اوښکې د کابو کېدو نه وې، شېبه وروسته د پوهنتون انګړ نه زده کوونکي لکه د مرغانو د سېلونو په څېر ډلې ډلې وتل، سنګین هم لکه نیم ژوندی مرغه په څېر په پښه نیولو قدمونو د پوهنتون د لویې دروازې په لور قدمونه واخیستل، زه او صنم هم د کور په لور رهي شوو، صنم په ټوله لاره غلې او فکرونو کې ډوبه ناسته وه، ما څو ځله د خبرو او پام اړونې په باب ناکامه هڅه وکړه، خو چې د صنم په ذهن مې د فکرونو واکداره پاشاهي ولېده، نو بې زړه به شوم، شېبه وروسته مې نور طاقت ونشو او صنم ته مې وویل:

صنم څه فکرونو کې ډوبه یې؟

صنم په سختۍ خپل حواس راټول کړل او ځواب یې راکړ

سلګۍ د ژوند د کومې ستونزې درته ووایم، د کور اقتصادي مشکلات، د پلار جان رنځوري، د پوهنتون ناخوالې، د سنګین فکرونه او د تقدیر ددې ورځو بې لارۍ نه پوهېږم کوم کوم ته یې فکر او تشویش وکړم، ما د ډاډ ورکولو په نیت وویل

صنم د پوهنتون ازموینې ختمې شوې او نتیجه به یې هم انشاءلله ښه وي، د زړګي ماما رنځوري هم تر ډېره ښه ده او د سنګین لپاره فکر مکوه نېکمرغه یې چې د سنګین په څېر د انسان سیوري دې په ژوند خپور دې نو دې لپاره ولې تشویش کوې، هو رښتیا د تقدیر د څه شي بې لارې کړې ها؟

صنم سوړ اسویلی ویستو او زیاته یې کړه:

سلګۍ نه پوهېږم تقدیر څنګه لنډه موده کې داسې بې لارې شو، زما خو بیخي باور نه راځي تقدیر ماته لکه د پرښتې په څېر انسان ښکارېدو خو دا څه موده یې کړه وړه او اعمال هر څه زما د توقع خلاف دي.

خيني پښتانه او فارسي وان ملګري يې پسې هره ورځ راځي او بيا سهار نه تر ماښام ناوخته پورې ورک وي، هر څومره چې ورته وايم چې داسې مه کوه نو ښځايه غوسه کوي، نه پوهيږم دې ورځو کې تقدير ولې راسره داسې عجيبه رويه کوي.

ما ورته وويل ولې څنګه رويه کوي؟

صنم ځواب راکړ:

سلګۍ تقدير به تل د خپلو ملګرو خويندو ته د خور په نظر کتل، تر دې چې زما د ښوونځي هرې يوې ټولګيوالې باندې تقدير لکه د خپل ورور ګران و او ځينو خو راته په ټوکو ټوکو کې دا هم ويلي و چې کاشکې د تقدير په څېر انسان يې خاوند شي، خو تقدير په دې برخه کې د ټولو نه فرق درلود، اوس يې د خپل ملګري يوسف خور راته يادوي چې دا به راته کوې، ورځ او ان کله کله خو د شپې تر نيمايي د همغه ملګري کور کې وي او شپې چې ناوخته راشي، نو د پلار جان سره سمه رويه نه کوي، بس تقدير هغه پخواني تقدير نه دی او زمونږ اوسني شرايط دې ته برابر ندي چې اوس ورته واده وکړو، سلګۍ خورې واده خو په پيسو کيږي او د رنځور پلار د مزدروي ګټه به زمونږ خېټه وساتي او که د تقدير غوښتنې به پوره کړي، نه پوهيږم څه وکړم چې تقدير ته قناعت ورکړم.

د صنم خبرې او د تقدير د کړنو نه روان شکايت لا پای ته نه و رسېدلی چې کور ته ورسېدل، د عمومي سرک نه د کور د فرعي سرک په لور مو ګامونه اخيستل چې صنم دوی د کور مخې ته ډلې ډلې هلکان ولاړ وو، د صنم زړه لړزې واخيست، نه پوهيږم چې څه، څه فکرونه به يې کړې وو، زما چټک فکر ته دا راغله چې ممکن زړګي ماما باندې به څه شوې وي، قدمونه مو لږ نور هم چټک کړل، کله چې دروازې ته ورسېدو، نو ولاړو ډله هلکانو مونږ ته يو رقم په وحشت بد، بد را کتل صنم لکه د بې روحه کالبت په څېر حيرانه پاتې وه، زما په

شوندو د دعا الفاظ خپاره وو او زړه کې مې ډار او فکرونه اټن پیل کړی و، په لړزېدلو قدمونو کورته ننوتو، په کوچنۍ او خټينې حويلۍ کې مې يوازې خپل پلار تر سترګو شو، صنم بې شېمې وه، ما يې لاس په اوږه کېښود او د ډاډ ورکولو په پار مې ور وکتل، د پلار مې چې مونږ ته پام شو، نو په چابکو قدمونو زمونږ خوانه راغی، زه او صنم زبون وهلې ولاړې وو، ما لړه ساه واخیسته او زر مې وپوښتل

پلارجانه څه شوې دي ها؟ دا بهر دروازه کې ولې دومره هلکان ولاړ دي؟

تقدير او زړګی ماما چېرې دي؟

زه تر صنم او صنم ترما ډېره تلوسې اخیستې وه، چې زما د پلار نه د يادو پوښتنو خواب واخلې، پلار مې اوږده شېبه غلې او د څېرې رنګ يې هم تک زېړ اوښتی و، د پلار خاموشې مې د صنم وضعيت لا پسې خراب کړ، د صنم د صبر کاسه نوره لبرېزه شوه او په چيغه يې وويل

عمر کاکا ته ولې غلی يې ووايه څه شوي؟ پلار او ورور مې چېرې دي؟

د صنم بې واره چيغې مې د پلار فکر او حواس راټول کړل او وويل

صنم لورې هغه تقدير، صنم تقدير يې کوم ملګرې سره جنګ کړی، او......

صنم! دا څل داسې حالات کې وپوښتل چې وجود کې يې بلکل شیمه نه وه، کاکا ووايه هبله کوم ، پلار مې په اوښلنو سترګو وويل

صنم تقدير خپل کوم ملګری وژلی دی.

د صنم له پښو ساه ووته، د لاس نه يې د پوهنتون خړ زنګه دستکول په خمکه وغورځېدو او لاندې په خړو خاورو جوخته کېناسته، ما يې په اوږه لاس کېښود خو له زړه مې يوازې هغه الله خبر و چې د زړونو مالک دی زما له سترګو د اوښکو تړلي بندونه جاري شول، صنم وهم وهلې او د سترګو اوښکې يې وچې

شوې وې، يوازې يې د زړه له سوزه چيغې وهلې، د پلار ددې خبرې غږ راباندې لکه د توپک ډز په څېر بد ولګېدو، د صنم د چيغو او ژړا غږ د حويلۍ چوپتيا کړه، ما صنم ته وار وار ډاډ ورکاوه، خو اوښکې مې همغسې لکه دسېلاب په څېر جارې وې، پلار مې د صنم چيغو نور هم وارخطا کړو او وويل:

صنم لورې! د خدای روی دی ارامه اوسه هر څه به سم شي، تقدير مې د خپل زوی پرويز سره د خپل خور کور ته ولېږو ساعت مخکې يې کابل نه د جلال اباد په لور دواړو حرکت وکړ، تر هغې چې موضوع ته حل پيداکېږي نو تر هغې به تقدير د پرويز سره زما د خور کور کې وي، زړګي ماما مې خپل کور ته استولی، چې دا خلک لږ تت شي، نو بيا به فکر وکړو چې څه وکړو، خو د خوارې صنم زړه کله زما د پلار او زما په ډاډګېرنې ارامېدو، زرلښتې ما د غم او وېرې په هغه لنډه شېبه کې کوم کوم فکرونه وو چې ونکړل، د زړګي ماما رنځورې، بې وسې، د وينې تازه پور او د خوارې صنم تور قسمت هغه څه وو چې زما د زړه درد او د سترګو اوښکې يې لا پسې زياتولې.

دې سره د سلګۍ ښکلې تورې سترګې بيا اوښلنې شوې، د سوړ چايو ګېلاس يې پورته کړ يو غوړپ يې وکړ او زرلښتې ته يې وکتل د زرلښتې سترګو کې هم اوښکې پړقېدې، خو د څېرې نه يې د خفګان نښې له ورايه ښکارېدې، شېبه دواړه غلې وې، خو فکرونه يې يو وو، سلګۍ د صنم د ژوند تراژېدې داستان او زرلښته د صنم د ژوند تريخ حقيقت ته فکر وړې وه، تر لنډې شېبې چوپتيا وروسته سلګۍ يو سوړ اسويلی ويستو او وويل: زرلښتې! د ماذېګر مهال و د صنم دوی د حويلۍ په کوچنۍ خاورين انګړ کې پرته له ما او صنم بل هېڅوک نه وو، ما په خپلو مړو اوښکو د صنم د غم سلګۍ بدرګه کولې چې مور او پلار مې غبرګ راننوتل، زه زر پورته شوم، د مور په څېره مې هم د غم او

خفګان سیوری خپور و، پلار مې اوس د تېر په پرتله یو څه مطمئن ښکارېدو، بې له خنده مې پلار وویل

صنم تشویش مکوه تقدیر او پرویز جلال اباد ته ورسېدل شیبه مخکې مې خور راته زنګ وهلی و او اطمینان یې هم راکړ چې تر څو موضوع هوارېږي نو تقدیر به خپل کور کې سلامت ساتي، ددې محلې د ملک سره مې هم ولېدل نو یو څو ورځې وروسته به جرګه جوړه کړو او عذر ته به ورشو نو، یو حل به حتما ورته پیدا شي، دې سره د صنم په رګونو کې وینې یو څه په تېزی جریان پیدا کړ او ولاړې اوښکې یې جارې شوې.

مور مې صنم غېږ کې زړه ته نږدې کړه او ورته یې وویل:

لورې!

تشویش مه کوه مونږ ټول به په شریکه ورته یو حل پیدا کړو او همدا به د الله ج رضا وه، اوس صبر ولره او هو تر هغې چې جرګه جوړېږي، نو ته او پلار دې دواړه باید تر هغې مونږ کره پناه واخلئ، د اوږدې شیبې له دادګیرنې وروسته مې مور ماته مخ کړو او راته یې وویل

چې د صنم دوی د کور اسباب یو کوټې ته ټول کړم، زه هم بې شیمې وم خو ډېر په سختې مې دوه درې ساعتونو کې د صنم دوی ټول مهم اسباب یو اتاق ته را جمعه کړل، دروازې ته مو لوی قلف واچوو او زمونږ د کور په لور روان شول، همدا چې د کور دروازه مو خلاصه کړه زمونږ د لوې برنډې مخامخې ستنې ته زړګې ماما په خمکه جوخت ناست و، سترګې یې د ډېرې ژړا له وجې سرې اوښتې وې، صنم هم د ملا ماتې څانګې په څېر مات مات قدمونه اخیستل د زړګي ماما چې په صنم سترګې ولګېدې د دواړو د ژړا غږ پورته شو، خپله لور یې زړه پورې نیولې وه او ژړا کې یې ویل:

صنم لورې! تقدیر به زړه سوری کړم، لورې تقدیر نه مې نوره تمه پرې شوه، ملا وتړه او د ژوند اینده غمونو او ستونزو ته خپله اوږه ورکړه.

صنم یوازې د غم سلګۍ وهلې، څو له زړه یې یوازې د زړونو مالک خبر وو، پلار مې زړګي ماما ته ډېره دادګېرنه ورکوله خو ما او مورې مې هم یوازې مړې د بیوسې اوښکې تویولې، شپه شوه خو شپه نه وه کوچنی قیامت و، صنم او زړګي ماما تر سهاره خوب ونکړو، زه هم تر سهاره ویښه وم، صنم مې لبده کله به د کټ پښنو ته لاړه کله به سرته کله به کښناسته او کله به یې ببرته سر کښنوده، بیا به یې د ارامو سلګو غږ پورته شو، د صنم وضعیت مې چې لېدو زما د سترګو اوښکې لا پسې زیاتېدې، خو څه سر به دې خوږوم زرلښتې خورې شپه مو تر سهاره په مړو اوښکو رڼه کړه، سهار وختې مو د کور مخې ته د تفانچې ډزې شوې، زما تازه سترګې ورغلې وې چې د ډزو غږ مې واورېدو نو بې اختیاره چېغه مې کړه او بېرون د حویلی په لور مې منډه کړه، صنم، زړګي ماما، مور، او پلار مې تر ما وړاندې حویلی ته وتي وو، د زړګي ماما په پښنو کې ساه نه وه یو خو رنځوری ډېر کمزوری کړی و، بل د تازه دښمني غږ له پښنو وغورځاوه.

صنم ور منډه کړه له لاسه یې کلک ونیو، ټول حېرانه وو نه پوهېدو څه وکړو، خو پلار مې ژر ورمنډه کړه دروازه یې خلاصه کړه چې د وژل شوي هلک دوه ورونه یې تر سترګو شول، د انتقام لمبې یې په سترګو کې بلېدې، پلار مې ساه نیولی و، وویل

زویه! دا څه کوې، ولې ډزې کوې؟

مشر ورور یې عثمان په غوسه وویل:

عمر کاکا! مونږ تاته ډېر احترام لرو خو زما دښمن ته دې خپل کور کې پناه ورکړې، نو درته په احترام وایم چې نن لس بجو پورې وخت لرې چې له

کوره یې وباسې او که چېرې یې ونه باسې، نو بیا مو چې ستا د کور منځ کې ستا په حضور هر څه وکړل د ګیلې حق نلرې...

پلار مې ورته عذر او زارۍ کولې چې تاوده مه خورئ د شیطان مه منئ، هره ستونزه حل لري، وینه په وینې نه مینځل کېږي، خو د دواړو ورونو سترګې د کسات د اخیستو لپاره سرې اوښتې وې، همدا یې ویل او دواړه په تېزۍ روان شول، پلار مې حېران پاتې شو نه پوهېدو څه وکړي، صنم او زړګي ماما په خپلې بې وسۍ او بې کسۍ د وېر اوښکې تویولې او زه د قسمت دې عجیبه پرېکړو ته داسې فکر وړی وم، لکه لار ورکی مسافر چې روان وي، خو خپل اینده منزل ورته لامعلوم وي، د صنم او زړګي ماما روان داستان هم کټ مټ د لار ورکي او بې کسه مسافر په څېر و.

وخت تېرېده خو د سفر منزل یې نادرکه و، زما د فکر مارغان لا هم خواره و چې شپه وروسته زموږ د سیمې مشر ملک رنګین راغی، وارخطا ښکارېدو کله یې چې زما په پلار او زړګي ماما سترګې ولګېدې، نو بې له ځنډه یې وپوښتل

عمره د ډزو غږ راغی خیرت خو به وي؟

پلار مې په سترې زړه ورته شوې واقعه تېره کړه، ملک رنګین مایوسه ښکارېدو، خو د ډاډ ورکونې لپاره یې زړګي ماما ته ځینې منقطي کلمات وکارول او تر تسلیت ورکولو وروسته یې زما پلار ته وویل چې زړګي ماما او صنم لور به زه خپل کور کې د څو ورځو لپاره وساتم څو ددوی د فاتحې مراسم ختم شي نو بیا به د جرګې لپاره تیاری ونیسو، پلار مې ممانت وکړ، ملک رنګین ټینګار وکړ او وویل چې دلته نه به هلته محفوظه یې او بل زما په کور کې بیا ددې جرئت نشي کولای چې دوی ته کوم ضرر ورسوي، همغه شین سهار کې صنم او زړګي ماما د ملک رنګین سره د هغوی د کور په لور روان شول.

زما زړه د صنم او زړګي ماما بیوسي ته ودرېد، لکه بې خاله مرغیو په خبر کاله په کاله ګرځېدل یې دردونکي وو، نور مې زړه طاقت ونکړ اوښکې مې د وړو سلګیو سره یوځای شوې او ښه مې ډګ زړه تش کړ، زرلښتې خورې صنم زمونږ له کوره ووته، ما داسې احساس وکړ لکه زړه مې چې چا د چړو په زور له سینې ځخه وویست او لاندې یې په ځمکه وغورځوو، دې سره د سلګی سترګې بیا د اوښکو نه ډکې شوې، زرلښتې هم مړې اوښکې تویولې او بېرون حوېلی کې خو د باران مېده ځاځکو لا د پخوا زور اخیستی و، سلګی دا ځل زرلښتې سره سترګو په سترګو شوه او و ویل

زرلښتې پوره یوه میاشت او لس شپې صنم او زړګي ماما، د ملک رنګین دوی کور کې تېرې کړې زه به هره ورځ تلم او د دواړو احوال به مې اخیستو د صنم د سترګو هغه ښکلا نه وه پاتې د ژړا او ډېرو اوښکو تویولو له وجې یې د سترګو لاندې لېمه داسې تور شوې و لکه کلونه کلونه یې چې د غم او خفګان په تاپو کې تېر کړې وي، زړګی ماما هم ډېر ضعیفه شوی و، یو خوا له ورپېښې رنځوري کړېده او بلخوا د تقدیر د ژوند او مرګ په وېر کې اخته و، ملک رنګین او زمونږ د منطقې یو څه سپین ږیرو څو ځلې ناستې وکړې، په دې هڅه کې و چې ځنګه د ثمر ګل سره د جرګې او عذر لپاره د کېناستو موقع جوړه کړي.

یوه ورځ کله چې د صنم خواته ورغلم نو ومې لېده چې د زړګي ماما خواته ناسته وه او مړې اوښکې یې تویولې، د زړګي ماما د وجود زاړه اندامونه د سرې تبې له وجې لړزېدل، داسې لکه بې خالې مرغی چې په شدید باران کې ګیره شي او ناترس باران او شمال یې د یخ له وجې نازکه وجود لکه د خزان د وچې پاڼې په خبر رپوي ،د ملک رنګین مېرمن چې ښکلې او دنګه ښځه وه ځنې کورني شیان یې سره خوټولي وو او ویل یې چې د طبي درملو نه ددې ګټې ډېرې او موثرې دي او همدا ټینګار یې کاوه چې خوړلو سره به یې تک او پترې

کړي، زه د زړګي ماما د کټ تر څنګ زبون وهلې ناسته وم. چې ملک رنګين راننوت سلام مې ورکړ او بيا مې بې له خنده ترې پوښتنه وکړه ملک صيب څنګه شو کومې فيصلې ته ورسېدی او کنه؟

ملک رنګين چې چالاکه او مهربانه سړی و په نرمي يې وويل

سلګی لورې، د ثمرګل دوی کډه له کابل نه تللې ده جلال اباد ته. داسې مې هم اورېدلي چې خپل کلي ياني د لغمان چارباغ کې مېشت شوي دي، نه پوهېږم چې څنګه له دې ځايه کډه شول، اوس نو بايد جلال اباد ته ورشو د خبرو لپاره.

د ملک رنګين خبرې لا پای ته نه وې رسېدلې چې زړګي ماما ارام زګېروی وکړ او په ارامه يې وويل:

اه تقديره زويه ! په زړه دې سوری کړم.

ملک رنګين ژر د خبرو رنګ بدل کړ او وويل:

زړګيه ته تشويش مه کوه، د تقدير به تقدير همداسې و او بل هغه ګرم نه دی، هلکانو ويل چې لومړی ګوزار يې په تقدير وکړ ، خو ګولی په ديوال ولګېده او تقدير بچ شو او هغه د خان بچ کولو لپاره ټوپک ته زور واهو چې ګوندې خان په امن کړي، خو بس نه پوهېږم څنګه ترې ډز وشو چې دواړه اړخونه يې د غم په ټغر کېنول، د سلګی د خبرو څنځېر زرلښتې وشلوو او وې پوښتل

سلګی تقدير په کومه خبره جنګ کړی و، چې خبره په تر ټوپک را اخېستو ورسېده؟

سلګی سوړ اسويلی وېستو او وويل

زرلښتې! د قسمت تورې شوې پاڼې يوازې د دعا الفاظ بدلولی شي، خو د صنم د قسمت کرښې د دعا الفاظو هم بدلې نکړې، ځکه په هر کار کې د الله

ج ستر حکمت او د بنده لپاره خیر نغښتی وي، کله کله مونږ وایو چې ولې زمونږ
دعا نه قبلیږي خو ډېر خله زمونږ د دعا له وجې خدای ج د هغه سترو حوادثو
مخه نیسي کوم چې ممکن بنده نابوده کړي، زرلښتې. خورې! صنم به تل همدا
یوه دعا کوله چې خدای ج دې زما په ژوندانه په تقدیر او پلار مې سوړ باد هم
نه راوړي، د هغوی د قسمت ټول لیکل شوي غمونه دې خدای ج زما په تقدیر
نامه کې اضافه کړي، ممکن صنم ددې درنو غمونو د پورته کولو توانایې درلوده
او خدای ج هم تل هغه بنده ته ډېر غم ورکوي کوم چې ورته ګران وي او پرې
باوري وي چې دا بنده مې ددې غم د پورته کولو وړتیا لري نو ماته ثابته شوه
چې د صنم د دعا الفاظ بې خواکه نه و، زرلښتې تقدیر ډېر نېک او شریفه هلک
و، خو دې اخرو ورځو کې لږ بې پروا شوی و، د ثمرګل یوه پېغله او ښکلې لور
وه ځانګه نومېده غنمرنګې خو جذابه وه، کله چې ټولګې کې ومه نو ماسره به
اوونۍ کې درې ځلور خله حتما ښوونځي کې مخ کېده او کله چې فارغ شوو او
کانکور مو ورکړ، نو زه د اقتصاد پوهنځي ته بریالی شوم خو ځانګه بې پایلې
پاتې شوه، د ځانګې دوی کور زمونږ د کور نه څو کوره ها خوا و او کله چې د
صنم دوی کور راغی، نو د ځانګې ورور یوسف به د تقدیر سره ډېره ناسته او
ولاړه کوله، تر دې چې تقدیر به ډېر خله د شپې هم د خپل ملګري یوسف سره
و، دې اخرو ورځو کې خو صنم راته دا هم ویلې و چې تقدیر راته وایې د
یوسف نومې ملګري خور به راته کوې، څه وخت وروسته چا یوسف ته ویلې
و چې تقدیر ستا د خور ځانګې لپاره بد نبت لري، دې خبرې د یوسف پښتنوالې
باندې بد اثر کړی و، تر دې چې خبره د دواړو تر منځ لفظي شخړې ته رسېدلې
وه، بیا جنګ تر دې رسېدلی و چې یوسف د غوسې حالت کې ټوپک را
اخیستی و، تقدیر د ځان ساتنې په هڅه کې د یوسف ژوند واخیست خو نه
پوهېږم، زرلښتې ژوند هم عجیبه لوبې کوي، کله کله هغه څه واقع شي چې انسان

بې تصور هم نشې کولای، سلګي دا خل یو ژوره ساه واخیسته زرلښتې ته یې وکتل او وې ویل زرلښتې پوهیږې چې دې دومره موده کې د خوراکي سنګین په مئین زړه څه تېر شوي و؟

زرلښتې په سوالیه انداز وکتل ګوندې څېرې یې د نه خواب ورکوو، خو سلګي زر خپلې پوښتنې په خواب کې وویل، زرلښتې کله چې د ملک رنګین دوی کور نه را ووتم نو سنګین مې د صنم دوی د دروازې مخې ته ولېدو چې بېرته فرعي سرک په لور په ماتو قدمونو روان و زه یې چې ولیدم ځای په ودرېدو، سترګې یې د بې خوبي له وجې سرې اوښتې وې، سرو شونډو یې سپین پاړ نیولی و، تا به ویل د شونډو سپین او وچ پاړ یې د درد ګواهي ورکوي، وجود یې لړزېدو ګوندې نامعلومې وېرې یې د وجود اندامونه ریول، کټ مټ د خزان د هغې پاڼې په څېر چې تېز باد یې وچ وجود د ونو په څانګو کې نځوي، پرته له سلام او سترې مشي یې بې واره وپوښتل، سلګي دا د صنم دوی د کور دروازه ولې بنده ده؟

ما یې چې څېرې ته وکتل نو پوه شوم چې له وریږښې واقعې بې خبره دي، ما د حال اخیستنې لپاره پرته له خواب ورکولو وپوښتل

سنګینه ته خو په رخصتې جلال اباد ته تلې ، څنګه مخکې د رخصت پوره کېدو نه راغلې؟

سنګین سترګې لاندې واچولې او بې شیمې یې وویل

سلګي ډېره موده وشوه د صنم نه مې هیڅ احوال نه درلود، نو زړه مې مجبور کړم او د صنم دوی تر دره یې را ورسولم، سنګ ن دا خل بیا تکرار پوښتنه وکړه، ما یې خواب کې دروغجن تمثیل پیل کړ او ومې ویل

سنګینه صنم بلکل ښه ده خو د کوم خپلوان کور ته تول تللي دي، ممکن تر مابنامه راشي، سنګینه ته دې ځای نه ولاړه شه څکه ددې منطقې یو اندازه

خلک تا پېژني نو ممکن ډېرې پوښتنې ورته ولاړې شي، سنګين يو سوړ اسويلی ويستو او زياته يې کړه

سلګۍ له زړه مې يوازې د زړونو مالک خبر دی نه پوهېږم ولې مې زړه دومره نارامه دی، انګيرم چې صنم په کومه ستونزې کې ده او دا څو ورځې يې سر په سر په خوب کې ګډه وډه ګورمه نه پوهېږم هسې به زما وهم وي او که حقيقت. د سنګين خبرو مې د زړه رګونه وشرنګول که څه هم د سنګين سره زما مينه يو طرفه او اوس لپاره مې وژلې وه، خو بيا مې هم د سنګين لپاره احساس خوړ و او نه مې غوښتل چې سنګين خواشينی کړم نو ځکه مې دا ګناه وکړه او د سنګين نه مې هرڅه پټ کړل . په تلو تلو کې يې راته يو سپين کاغذ لاس کې راکړه او راته يې وويل چې صنم ته يې وسپارمه، ما هم د کاغذ تر اخيستو وروسته ترې مخه ښه واخيسته او کور په لور رهي شوم.

همدا چې کورته ورسېدم خپلې کوټې ته ننوتم او کاغذ مې را خلاص کړ. د کاغذ په پورته برخه کې په ابي رنګه قلم ليکل شوي وو:

صنم! په ذهن کې مې ستا د يادونو د څپو شور ورځ تر بلې زياتېږي او د انتظار زېرېخون او سوزونکی لمر مې د زړه په تاتوبي کلکې خېمې وهلي، ترمنځ مو د هجر ولاړ او هسک غر ته راخيني ډېره لرې کړې يې، خو د ياد ډېوې دې تل زما د زړه په کلا کې بلېږي، زما د ورکو خوبونو شهزادګۍ. دلته د طبيعت په ټولو رنګينو کې ستا د مخ ښکلا ښکاري، زه ورځ کې څو ځله د پوهنتون د دروازې هغه نرۍ لاره ترسبموم او ورانوم په کومې چې يو ورځ هرو مرو له تا سره مخ کېږم، صنم دا لاره ډېره ستونزمنه او د پېچومه ډکه ده. خو په دې لارې د هيلو خپور لمر مې همت ته اوړه ورکوي، ناکراره زړه ته مې دا وعده ورکوي چې ګوندې زر دې د وجود وړم حس کړم او بيا د ژوند کولو په تمه ساه واخلمه،

له کومې ورځې نه چې راځینې تللې یې هره شپه دې خوب کې وینم خو دا څو ورځې مې د خوبونو رنګه ډېره عجیبه ده. لومړۍ شپه مې خوب لېده چې د لوی میدان تر منځ جنازه پرته وي ټول خلک ژاړي خو تا په یو لاس تقدیر او په بل لاس زړګي ماما نیولی وي او په زوره یې د خلکو د منځ نه کش کوې، د میدان یوې څنډې ته یې وړې، بیا ترې خپله په نامعلوم لور روانېږې، مونږ ټول حیران در ګورو خو د تلو مخه دې نه شو نیولی.

دویمه شپه مې خوب لېده چې د لوی چمن یوې څنډې ته خفه ناسته یې، پنځه تور کارغان دې د وجود نه سپین رنګه کالي کشوي، ته ورته د بېوسه او عاجز بنده په څېر ګورې، زه در منډه کړم چې کارغان درځینې وشړم خو ترڅو چې درسېږم نو د خوبه راویښ شم.

دریمه شپه مې خوب ولیده چې د سیند اوبو اخیستې یې زه هڅه کوم چې د اوبو له منځه دې را وباسم خو اوبو منځ کې رانه نادرکه شې او بالاخره تر ډېرې هڅې ورسته خالي لاس د اوبو نه راووځم چیغې او منډې هر لور ته ووهم، خو زما د چیغو او سلګیو غږ پرته له ما بل هېڅوک هم نه اوري.

صنم نه پوهېږم زړه مې ولې دومره نارامه دی، مودې وشوې پرته له تا مې د زړه خونه ړنګه او تیاره ده، هیله کوم د مخ رڼا دې راولېږه او د زړه خونې مې روښانه کړه.

سنګین

د سنګین د لیک هر لیکل شوی لفظ مې د زړه رګونه وشرنګول او وجود یې رانه په لړزه راوسته، د اوښکو رودونو مې داسې جارې شول، لکه بېوسه انسان چې د زړه براس د سترګو د لارې د اوښکو په بڼه پټ تویول غواړي. زرلښتې! د سنګین د عجیبه خوبونو، مې زړه ته یو نامعلومه وېره واچوله، نه پوهېدم څه وکړم او چاته یې ووایم چې داد راکړي او تسکین مې کړي، تصمیم مې ونیوه چې

صنم ته باید په هېڅ صورت دا لیک په لاس ورنشي، اندېښنه یې لا پسې زیات نشي. لیک مې خپل بکس کې د کالیو په منځ کې تاو کېښود، دې سره د سلګۍ اوښکې جارې شوې چې زرلښتې ته یې مخ کړ نو ښکلې سترګې یې سرې اوښتي وې، په څېره کې یې د وسوسې او وېرې نښې له ورایه ښکارېدې، بې شیمې وه چې په غریو نیولې غږ یې وپوښتل سلګۍ ولې غلې شوې ووایه کنه بیا څه وشول؟

سلګۍ یې خواب کې یوازي یو سوړ اسوېلی ویوست او غلې شوه، زرلښتې یې سترګو ته داسې ورکتل لکه ښکاري چې د ښکار لپاره د مرغۍ نښه کول هدف ګرځولي وي او پرته له ماشې او مرغۍ یې بل خوا نظر نه اوړي، سلګۍ تر لنډې چوپتیا وروسته وویل

زرلښتې خورې هغه څه وشو چې د صنم هیلې خوبونه او ټول خوان ارمانونه یې د درد او رنځ په تور سملا ر لاهو کړل

کله چې د ثمر ګل کاکا دوی کور د کابل نه جلال اباد ته لاړو نو زړګي ماما او صنم سره د تقدیر اندېښنه لا پسې زیات شوه، بله ورځ زړګي ماما، ملک رنګین ته لکه د ماشوم په څېر زاری پیل کړې چې تقدیر د جلال اباد نه ایران یا پاکستان ته واستوه، ملک رنګین همدا تینګار کاوه چې دې هفتې ته جرګه ورلېږو او روغه کوو، خو د زړګي ماما د زړه بې قراري د ملک رنګین زړه هم ارام پرېښود، تصمیم یې ونیو چې تقدیر ایران ته واستوي، یو اندازه پیسې مې پلار ورکړې او یو اندازه ملک رنګین د یوې هفتې تر منځ یې تقدیر د جلال اباد نه د ایران په لور ولېږو.

څو ورځې وروسته ملک رنګین د څو تنو سپین ږیرو سره سهار وختې د جرګې او روغې لپاره د کابل نه د جلال اباد په لور لاړل، مونږ ټول وارخطا او

اندېښنه کې وو، ترمازدیگره هېڅ احوال رانغی، مازدیگر ملک رنگین مایوسه را
ستون شو او زما پلار ته یې ویل:
دېرې زارۍ مو وکړې خو هغوی روغه نه کوي او وایي چې د وینې بدل
په وینې ترې اخلو، درې ورځې وروسته بیا خلک ورجرگه شول، بیا هم هېڅ
مثبت احوال رانغی، دربم ځل چې ورغله نو تر ډېر دلاېلو او زاریو وروسته یې
روغه کول منلي وو، په بدل کې یې دېرېش لکه افغانۍ د صنم دوی پلارنۍ کور
او بدبخته صنم یې بدو کې غوښتې وه، ماښام مهال چې پلار مې کور ته راغی د
ناهیلو سیوري یې د مخ نقاب تسخیر کړی و، زه چې ډېره اندېښنه کې وم نو پرته
له سترې مشې مې د خپل پلار نه د جرگې د پایلې په اړه وپوښتل، پلار مې په
خواشینې لومړی د پیسو بیا د صنم دوی پلارنی کور او اخره کې یې په لړزېدلې
او تکې انداز د صنم غوښتنه په بدو کې یاده کړه، زړلښتې خورې په بدو کې د
صنم غوښتنه راباندې لکه د ټوپک ډز په ځېر ولگېده، ټول وجود مې ولړزېدو،
مور مې هم حیرانه او غلې پاتې شوه، زما نو په مخ د اوښکو وار نه و، غوښتل مې
لرې خای ته لاړ شم او ښه په زوره زوره وژاړم، مور مې په وارخطایې وپوښتل
نو تاسي ورسره دا ټول ومنل؟
پلار مې ورته ځواب کې د نه ځواب ورکړ او وویل:
هغوی د خپلې فیصلې نه بیخي نه اوړي ، بیا مو هم راتلونکې دوشنبې
پورې وخت واخیست
زړلښتې ډېر اوږده شپه وه هېڅ نه سبا کېده تر سهاره وېښه وم، په یو اوبل
اړخ اوښتم همدا چې سهار شو او د لمر وړانگې د څمکې په مخ وغځېدې نو د
صنم خواته لاړمه، صنم چې راسره مخ شوه نو غېږ کې یې ونیولم سلگیو او ژړا
یې د ټولې حویلې چوپتیا ته د پای ټکې کېښود، زه هم په ځان نه پوهېدم چې
څومره به مې ژړلې وي، د زړگي ماما د سرو سترگو نه روانو اوښکو مې طبیعت

لاپسې خراب کړ، څه به ووایم زرلښتې خورې تر دوشنبې مې شېبه شېبه شمېرلې، بس د بدبختې او دوشنبې ورځ هم را ورسېده، سهار مهال زړګي ماما او ملک رنګین سره څه مشورې کولې، او تر اوږدو خبرو وروسته ملک رنګین مې د پلار او خو نورو تنو سره بیا د جلال اباد په لور ولاړ، صنم ته نو د شین سهار نه، ناستې او ولاړې خوند نه ورکوو، لکه د لیونو په شان اوتره ښکارېده، څکه نن ورځ یې برخلیک ټاکل کېده، یو خوا د ظلم تور زندان او بلخوا یې د خوږ ژوند ازادې او خواږه وه، زرلښتې ما، زړګي ماما او صنم ټوله ورځ په عبادت او دعاوو تېره کړه، زړګي ماما به کله دعا پیل کړه او کله هم ساړه زګېروي، ډېره سخته او اوږده ورځ وه، ماذېګر مهال شو، نرم او سوړ باد لګېد، د باد نرمې څپې لکه د رباب د خوږو نغمو په څېر غږېدې او د حوېلی منځ کې یې د ونګو ولاړو ونو پاڼې په نڅا را وستې، صنم د حوېلی منځ کې د برنډې ستنې ته تکیه وهلې ناسته وه، حواس یې خواره واره وو، څېره یې مړاوې او زېړه وه داسې لکه د منې عمر خوړلې پاڼه چې د ځمکې په مخ غورځېدلې وي او ددې انتظار باسي چې د باد څپې به یې په کوم لور په مخه کړي، زما زړه کې خو د سنګین لېدلي خوبونو لا څو ورځې وړاندې وسوسه او وېره شبندلې وه، کله به مې زړه وېرې ولړزوو او کله به مې بېرته لړزېدلې زړه راته ډاډ راکړ، زه لا د زړه او ذهن د روان جنګ نه وزګاره شوې نه وم چې لومړی ملک رنګین او وروسته مې پلار رانوتل، د پلار زېړې او وهم وهلې څېرې زما وېره لا پسې زیاته کړه، ملک رنګین د زړګي ماما سره جوړښت کېناستو، څو شېبې ټول غلي وو، زړګي ماما زړه نور صبر ونکړ دیواله ته یې تکیه ورکړه او وویل:

رنګین خانه څه دې وکړل؟

ملک رنگین له یوې شیبې چوپتیا وروسته وویل:

زرګیه ژوند لوړې او ژورې لري او د خدای ج امتحان په هر بنده راځي، هغوی قوي او خواکمن دي چې صبر او حوصله وکړي، د ملک رنګین خبرو زمونږ تلوسه لا پسې زیاتوله، د خبرو لړۍ یې غوڅه کړه او وویل:

زرګیه! هغوی د دېرش لکو روپو نه یوه روپۍ هم نه کموله ،تر ډېرو عذرونو او دلاېلو وروسته د پیسو نه تېر شول، د جلال اباد کور مو ورسره ومنو او...

ملک رنګین د صنم په لور وکتل، صنم ملک رنګین ته داسې ورکتل لکه په سترګو کې چې ورته زارۍ کوي او د زاریو بدل کې ترې د خپل ژوند د بنې فېصلې خیرات غواړي، ملک رنګین چې د صنم حالت وکتو سترګې یې ډنډ شوې، رنې اوښکې یې په مخ لکه د دوه خلاندو ملغرو په څېر وبهېدې، بېرته یې زرګي ماما ته مخ کړ او وویل زرګیه مونږ سره د دېرش لکو افغانیو د ورکولو توان نه و، نو مجبوره شوو چې د صنم او د ثمرګل نکاح ومنو، د زرګي ماما د څېرې رنګ بدل شو، شونډې یې ولړزېدې او صنم ته یې چې وکتل داسې بې اختیاره چېغه یې وکړه چې د حوېلۍ څلور واړو کونجونو انګازې وکړې.

د ملک رنګین د سترګو اوښکې همغسې جاري وې چې لاس یې د زرګي ماما په اوږه کېښوده، زما زړه یو بې رقمه څړېکه وکړه، د ژړا غږ مې خو ان ګاونډیانو اورېدلی و، خواره صنم وهم وهلې وه، اوښکې یې سترګو کې وچې شوې وې، داسې غلې وه لکه چا یې چې په خوله دچوپتیا مهر لګولی وي، نه پوهېږم هغه شیبه به یې په زړه څه تېرېده، زه زر ورجګه شوم، تر څنګ یې کېناستم، غېږ کې مې ونیوله. ماته یې یوازې مړه راکتل خو د ښکلو سترګو اوښکې یې تولې په زړه غوټې شوې وې، ما ډېره هڅه وکړه چې د زړه غوټې یې ور هوارې کړم خکه ډېر خله مې داکترانو نه اورېدلي و چې کله مو کوم انسان داسې حالت کې ولېده چې شوک یې لېدلی وي، نو بابد د ژړولو هڅه یې وشي

خکه یوازې ژړېدل یې د زړه براس او غوټې هوارولې شي، صنم داسې غلې وه چې زما تولې هڅې بې ناکامې کړې، سلګۍ دا خل د ژړا غږ په کراره کراره جګ شو، نازک لاسونه یې مخ ته ونیول سترګې یې موښلې او اوښکو یې په مخ نرۍ نرۍ لارې ترسېمولې ، زرلښتې هم سترګې سرې اړولې وې، شپېه دواړه ښه سره وژړل، بېرون د حوېلۍ نه هم د باران د څاڅکو د ورېدو غږ په دمه دمه جګېدو ګوندې اسمان هم د زرلښتې او سلګۍ سره د یوځای ژړېدو سلا کړې وه.

سلګۍ دا خل پرته د صنم له ویلو پیل کړه او وویل:

زرلښتې ثمرګل دومره ظالم سړی و، چې د ملک رنګین غوندې مخور او سخت زړې ملک د بلا زاریو وروسته یې هم هېڅ د چا خاطر ونه کړ، دوه زلمي زامن یې هم وو او تولو ورته همدا زاری کولې چې که صنم بدو کې غواړې هم نو یو زوی ته دې په نکاح کړه ، ثمرګل خپل ضد تر سره کړی و او ویل یې:

پرته له خانه یې هېڅ زوی ته هم نه نکاح کوم، په سبا یې ملک رنګین ته زنګ وکړ چې سبا سهار وختي د صنم وړلو ته درځو، زرلښتې ورځ په کراره کراره شپې ته ورنږدې کېده، د ساعت د ثانیو ټکا د صنم د زړه رګونه لړزول، شپه شوه، خو شپه نه وه سم قیامت و، سره سېلۍ، نرې مېده باران، د مرغانو رنګا رنګ نغمې، واکمنه تیاره او د سپوږمۍ داغ داغ مخ چې د ورېځو تر شاه پټ او تت ښکارېدو، د تیارو واکمنې لا پسې غځوله، خو د تندر ګړزا به چې خپلې جلوې د اسمان په ورېځو پوښلې مخ وشېندلې، نو د سپوږمۍ تت مخ به یې لږ څه را څرګند کړ، صنم غلې وه خو ممکن د صنم د اوښکو کمی هم زما اوښکو پوره کړې وه.

د شپې تیارې په کراره کراره د نوې سهار په لور نږدې کېدې، د مخامخې وړې کوټې نه د زړګي ماما د ژړا غږ ارامه ارامه لوړېدو، د پښتو په ناترس دود ښکار شوې صنم تر سهاره سترګې پټې نه کړې، کله به کېناسته او کله به بېرته

وغځبده، سهار مهال يې کاغذ او قلم را واخيستل او د ياڼې مخ يې تور کړ او ورسره يې د اوښکو ترل شوې رودنه په تېزۍ را خلاص شول، په سپين نازک مخ يې اوښکو وار نه کاوه، نازکه سرې شونډې يې لړزې واخيستې او وجود يې هم رپېده، زه زر ور وړاندې شوم او غېږ کې مې کلکه کړه حس مې کړه چې سرې تبې نيولې، ګونډې تبه يې د خفګان او وېرې نه وه، خو لکه د منې پاڼې په څېر يې ټول نازک اندمونه رپېده، کاغذ يې لاس کې تاو کړ او ماته يې راکړ او را نه يې وغوښتل چې د پوهنتون د شروع کېدو مهال يې سنګين ته وسپارم.

زرلښتې بس څه به ووايم سهار شپږ بجې شوې د حوېلۍ دروازه خلاصه شوه، دوه ښځې او درې سړي راننوتل او يو زوړ کورولا موټر د حوېلۍ مخې ته ودرېده، ملک رنګين ښځه راغله او راته يې کړه چې صنم ته پاکې جامې ورکړه چې بدلې يې کړې، صنم ته مې بلا زارۍ وکړې خو جامې يې بدلې نه کړې شېبه وروسته دواړه ښځې هغه کوټې ته راننوتې چې زه او صنم په کې وو، برګ برګ يې را وکتل، روغبړ مې ورسره وکړ، خو رويه يې راسره ښه نه وه، لکه د دوی زامن چې ما وژلي وي، يوه يې داسې پوخ عمر لرونکې ښکارېده راته يې کړه چې که خبرې مې خلاصې وي صنم به بوځو او بېرته په وخت حرکت کوو، زه غلې وم، شېبه وروسته ټول د حويلۍ منځ کې ولاړ و، په حويلۍ يو درنه خاموشي واکمنه وه، د ټول په څېرو درد او خفګان و، زړګي ماما په لړزېدلې لاسونو سپين رنګه ځادر باندې د صنم ملا ور وتړله لکه د راتلونکې ژوند سختيو ته يې چې تياروله او بيا يې غېږ کې ټېنګه ونيوله، چيغو يې د حوېلۍ خاموشي ماته کړه، د همسايه ښځو هم غتې غتې اوښکې تويولې، يوې يې زما له موره وپوښتل چې د صنم مور کومه يوه ده؟

مور مې په ارامه د شونډو لاندې وويل:

مور يې نشته لا پخوا وفات شوې ده، همسايه ښځې سوړ اسويلی ويوست او يوه تپه يې وويله:

د چاچې خپله ابې نه وي
د گوټ پناه ژړا به څوک پسې کوينه

صنم مې غېږ کې ونيوله همغسې تبې اخيستې وهو زه هېڅ په ځان نه پوهېدم چيغو او اوښکو مې هېڅ خلاصې نه درلود، هغه شپه تېره شوه خو کله به مې هم هېره نشي، صنم لکه د ونې نه لوېدلې پاڼې په شان توپان په مخه کړه، خو منزل او راتلونکې يې لامعلوم و.

ماته د سنگين لومړني لېدلی خوب رایاد شو، چې د صنم په اړه يې لېدلی و په خوب کې د ميدان منځ جنازه، د خلکو ژړا، د صنم له لورې د تقدير او زړگي ماما امن کېدل او د صنم په نامعلوم لور حرکت او د خلکو حيران ورکتل بې تعبيره نه و، کټ مټ تعبير يې همدا و چې صنم قرباني شوه خو زړگي ماما او سنگين يې بچ کړل.

د ژمي شپې او ورځې په وتو وې، د صنم او تقدير بېلتون زړگي ماما ورځ تربلې کړاو، حالت يې هيڅ ښه نه و، د صنم تر تلو وروسته مې پلار زړگی ماما زمونږ کورته راوست ما يې لکه د صنم په څېر خدمت کاوه، ډېر ځله مې پلار ډاکتر ته هم يوړو خو هېڅ نتيجه يې ورنکړه، د وجود له دردونو کړېده، علت يې يوازې صنم وه، دوه مياشتې تېرې شوې د صنم احوال بيخي نه راتلو، يو ځل مو يو همسايه احوال راووړ، ثمرگل يې جلال اباد کې لېدلی و، د صنم پوښتنه يې ترې کړې وه او د زړگي ماما د سختې ناروغې يې هم ورته ويلي و، ثمر گل ورته ځواب کې ويلی وو چې زنگ وهم او صنم به يې د پلار سره وغږيږي.

هیڅ کوم زنګ رانغی د تقدیر هم دقیق معلومات نه و، ویل ایران کې دی. د کوم بارګین والا سره کاریګر په توګه کارکوي خو زنګ او احوال به یې ډېر کم راتلو یو ځل یې زنګ ووهو زړګي ماما ورته په چیغو ژړل او د صنم د ورکړې یې ورته وویل تقدیر هم له هغه خوا ژړل زړګي ماما ترې څو ځل غوښتي وو چې واپس راشي مسله حل ده خو تقدیر ویل چې نور مې په افغانستان سترګې بدې لګیږي او ویل یې چې نږدې وخت کې به زړګي ماما پسې راځي او له ځانه سره به یې بیایي.

یوه ورځ ماښام مهال و، زړګي ماما د نورو ورځو په پرتله ټن لږ ښه ښکاریدو، مور مې ورته د وطني چرګ ښوروا جوړه کړې وه، ښه په اشتهها یې وخوړه، تر دوؤی خوړلو وروسته ټول ویده شول، ماته خوب نه راتلو همدا سوچونه مې کول چې د خوارې صنم سره به یې څه څه کړې وي، که سنګین خبر شي نو څه حال به یې وي؟

همدې سوچونو کې ومه چې د صنم راکړې کاغذ مې رایاد شو، اندېښنه مې شوه چې څه به یې لیکلي وي، زر جګه شوم خپل بکس نه مې هغه کاغذ را واخیستو، صنم په تت رنګ د کاغذ په یو اړخ کې داسې لیکلي و،

په زړه مې ته وې خدای رانکړې
اوس که دا ټوله دنیا راکړې څه به یې کړمه

د خپل نوم په خبر دې د سنګین خوی لرونکي مالکه، زما د هیلو او ارمانونو ځپونکه، ستا صنم ډېره بد قسمته وه، ښکاري د قسمت بدو ګرښو یې ته هم بدبخته کړې، سنګینه ما د خپل پلار او ورور د ژوند په بدل کې د خپل سر او ستا د خوشالیو قرباني ومنله ما وېښه زه ډېره یې وسه وم ستا او د خپلو هیلو د وژل کېدو مخه مې ونشوه نیولی زه قاتله شوم، هو قاتله د هغه ټاندو هیلو او ارمانونو چې

تاته مي درکړي و، نن دا ټولې هيلې او ارمانونه همدلته ښخوم او زه ترې ډېره لرې خم نه پوهېږم بيا ستنبدل به مې شونې وي او کنه؟

دې تاندوهېلو ته مې همدلته هديره جوړوم وروستى فاتحه يې هم اخلم او د صبر اوبه پرې شبندم او د الله ج څخه همدا غوښتنه کوم چې ستا د زړه په دښته هم د صبر باران وکړي، تر څو د صبر فصل دې را زرغون شي ، خداج ج زمونږ روحونه يوځای خو نومونه يې جلا ليکلي وو، زه د الله ج ددې پرېکړې راضې يمه، له تا مې هيله ده چې ما هېره او ژوند دې جوړ کړې.

ليک مې بېرته بند او سمبال کېښود خو هر لفظ يې راته وجود ولړزاوه، بيا تر سهاره خوب رانغی، سهار مهال به و چې حويلی کې مې د پلار د خبرو غږ راته، سپکه جگه شوم حويلی ته چې ووتم، گورم چې پلار مې زړگی ماما له لاسه نيولی او کوټې ته يې دننه کوي، ژر يې څنگ ته ورغلمه پلار مې ويل چې ناڅاپي يې وضعيت خراب شو، پلار مې ورور پرويز له خوبه را جگ کړ چې موټر وباسي او زړگی ماما ډاکتر ته بوځي، زړگي ماما مې د پلار لاس ونيو او ورته يې کړل:

ما ارامه پرېږده، نه ځمه ډاکتر ته.

طبيب زما درد نشي دوا کولای او زه په ځان پوهېږمه زه نه رغېږم، ماته زماني داسې ژور ټپونه په زړه راکړل چې هېڅ درمل به يې هم دوا نه کړي، بيا يې سوړ اسوېلی ويستو او وويل اه خدايه! څومره دې بېوسه کړمه.

پلار مې يې په دواړو ولو زور کړه او وويل: زړگيه داسې خبرې مه کوه، مونږ ټول درسر يوو، زهير زړگي ماما مې د پلار لاس ونيو او ورته يې وويل: عمر خانه زما دې ډېر خدمتونه وکړل، خو يو وصيت درته لرم، صنم او تقدير له دې شبېې وروسته په تا سپارم که زه وم او کنه خو د دواړو احوال به اخلې او...... دې سره ټوخي شين کړو، څه يې ويل خو ټوخي يې خبرې ستوني کې وچه کړه،

پلار مې ورته شا مښله خو چې وېې کتل وضعیت یې لا پسې خرابېده. زر یې پرویز ته غږ کړ چې موټر وباسه خو زړګي ماما یې بیا هم لاس زور کړ. توخی یې لږ لږ ارامه شو. ما هم ایله ساه واخېسته دې لنډه شېبه کې مې زر سوچونه ووهل خو دا ځل زړګي ماما یوازې ټوخی ونکړ بلکې د ټوخې سره یې توره وینه هم لپه لپه له خولې غورځوله پلار مې نور هم وارخطا شو ما او مور مې چیغې کړې. زړګي ماما راته زهیر را وکتل. سترګو کې یې اوښکې ښکارېدې او په شونډو یې د شهادت کلیمې الفاظ څرخېدل. مونږ بېوسه وو. هیڅ مو نشو کولای. کټ مټ داسې لکه مرغی چې د ظالم ښکاري لخوا ښکار شي او په ځاله کې بېوسه بچې یې یوازې ننداره او افسوس کوي. د زړګي ماما وجود خوله شو رنګ یې زېړ تنبتېدلی و. پلار مې ورته له خولې راوتلې وینې په سپین څادر پاکولې. اوږده ساه یې واخیسته. روح یې له تنه رخصت واخیست. خو دواړه سترګې یې لا هم خلاصې پاتې وې. تا به ویل سترګې یې د صنم او تقدیر د راتلو انتظار باسي. نه تقدیر و او نه هم صنم. بس.

زرلښتې خورې تر لس بجو شاوخوا ګاونډیان راټول شول. پلار مې د هغه ګاونډي په مرسته چې ثمر ګل یې بازار کې لیدلی و. د ثمرګل د تیلفون نمبر پیدا کړل. ورسره یې اړیکه ونیوله او د زړګي ماما د مړینې یې خبر کړو. د حویلې په منځ کې د زړګي ماما جنازه پرته وه. ګاونډیانو ښځو مړې اوښکې تویولې . زما په ذېړ چیغو نور د زړه زور ناست و. زړه مې یو بد رقم درد کاوه. د زړګي ماما بېوسي او بې کسي مې په زړه چاړې ښخولې. د غرمې مهال به و چې د حویلی دوازې مخې ته د ژړا د غبرګو چیغو غږونه راغله. د صنم د ژړا غږ مې وجود ولړزو. ژر مې دروازې ته منډه کړه. صنم باندې مې چې سترګې ولګېدې. لکه د لېونو په شان یې د لویې دروازې نه حویلی ته رامنډې وهلې. په پروت کټ

يې خان وغورځوو، هېڅ مې ورته د زړا هغه څو ناري له ياده نه وځي چې ويل يې اخ څومره بې کسه پروت يې پلاره!

پلاره زړه دې اخر هم وچاودو ها؟

پلاره لکه چې مونږ نه ډېر ستړی شوی وې، اخر دې هم سترګې فنا کړې مونږ دې چاته پرېښودو؟

پاڅه پلاره وګوره زه راغلې يمه

نن دې اخرې ورځ ده مېلمه شوې پلاره

اې خلکو قيامت دی نن قيامت.

دې سره د سلګۍ او د زرلښتې د ژړا غږ پورته شو، څو سلګۍ بيا داسې ژړل لکه همغه شيبه چې پرې اوس بيا راغلې وي، سلګۍ د لاس د شا په موټې اوښکې وچې کړې او وړې سلګۍ يې کابو کړې او وې ويل،

زرلښتې خورې صنم لکه د ليونو په څېر شوې وه کله به يې يو څه ويل کله بل، کله به د کټ سرته تله او کله پښو ته، مور مې په بار بار هڅه کوله چې صنم غېږ کې ونيسي او ارامه يې کړي ، صنم ته څمکې ځای نه ورکوو.

صنم د زړګي ماما په سترګو لاس را کش کړ، ښې سترګه يې پټه شوه خو کينه سترګه يې لا همغسې خلاصه پاتې وه، ډېره سخته شيبه خو هغه وه چې د جنازې د پورته کېدو نه لږ وروسته ماښام مهال ثمرګل ماشوم را ولېږه او صنم نه يې د کور ته تلو وويل، زرلښتې خورې صنم يې په هغسې بد حالت کې بېرته مخ په جلال اباد روانه کړه د تلو په مهال يې څېرې ته څېر شوم ډېره خواره شوې وه هغه پخوانی صنم نه وه ، سترګو يې تورې حلقې وهلې وې، تندي ښې اړخ ته يې د ژور زخم داغ ښکارېدو، زما ورسره ښېخي د خبرو کولو وخت هم پيدا نشو، غېږ کې مې کلکه ونيوله لاسونه يې راخينې کلک چاپېر کړل سترګې يې

راته داسې ښکارېدې لکه بلا کیسې شکاېتونه او پوښتنې یې چې پکې ساتلې وې.

سلګی دا ځل بیا ژوره ساه واخیسته او وویل:

زړلښتې د صنم جدایي او زړګي ماما مړینه هغه څه وو چې زما د ژوند ټول خواږه یې وزېښېل، د ژمي اوږدې رخصتي هم ووتې، د حمل میاشت شوه پوهنتون د شروع کېدو شپې ورځې شوې وې، زما هېڅ درس او پوهنتون تلو ته زړه نه کېده او دا یوازې تلل راته بلا سخت ښکارېدل، په اوومه ورځ زړه نا زړه لاړمه، یو درې ټولګیوال مې ولېدل راته یې ویل، نن د پوهنځیو د عمومي اول نمرګانو لپاره غونډه نیول شوې ده، تالار ته راشه، په ښنه نیولو قدمونو لاړم، ټول تالار په سرو ګلونو لا ښکلی شوی و، مخامخ په کوچنو ګڼ شمېر ښوونکي او بېروني مېلمانه ناست وو او لاندې څوکۍ د نجونو او هلکانونه ډکې ښکارېدې، په سنګین مې سترګې ولګېدې د مخکې ځل په څېر د څو سپینو پاڼو او قلم سره په ستېج ګرځېدو، راګرځېدو خو وار په وار یې د تالار دروازې ته کتل، د صنم د راتلو لارې یې څارلې، سنګین څه خبر و چې صنم به هغې لارې لاړه چې بېرته به کله هم پوهنتون په لارو ستنه نشي، په ما یې چې سترګې ولګېدې اېله یې ساه واخیسته، غوښتل یې چې زما خواته راشي خو همدا چې را روان شو نو زمونږ د اقتصاد پوهنځي رئیس پرې ورغږ کړ، بېرته شاته ولاړو.

شپه وروسته سنګین مایک کې مېلمنو ته ښه راغلاست وویل، د غونډې په عمومیاتو یې خبرې وکړې ټول ګډونوال خبر ناست وو څېنې مشران رئیسان او استادان یې خبرو ته را وبلل او بالاخره د ستاینلیکونو د وېش لړۍ هم پیل شوه ،د هر پوهنځي اول نمره به یې ستېج ته بللو ستاینلیک به یې تر لاسه کولو او ګډونوالو به د لاسونو په پړقا سره نازول، د صنم د نوم اخیستو وار را ورسېد خو دا ځل د سنګین په الفاظو او سترګو کې مینه د صنم په وړاندې ډېرو ښوونکو او

زده کوونکو له ورایه حس کوله، د صنم نوم یې همغسې په ښکلو او رنګینو صفاتو واخیست خو څومره بدبخته ورځ وه، د صنم د لیاقت ستاینه کېده، صنم نه وه خدای خبر هغه شیبه به د کوم نوې ظلم مبلمنه وه، زما نو په مخ د اوښکو باران و ټولو حیران راته کتل، ښوونکو مو راباندې څو ځله غږ وکړ چې صنم نده راغلې، نو راشه او ستاینلیک یې ته واخله، خو کله یې چې ماته خبر شو ټولو حیرانه او په پوښتونکي نظر راکتل، د سنګین رنګ تک زیړ واوښتو، زه په لړزېدلي قدمونو ستېج ته لاړم، سلګیو او اوښکو مې لاندې ګډوډوال لا پسې اندېښمن کړل، د اقتصاد پوهنځي رئیس مو د کوچ نه را پورته شو، څنګ ته مې راغی، پوښتنه یې وکړه:

څه شوي سلګی، ولې ژاړې؟

زما نو خبرې له ستوني بېرون نه راوتې، بیا یې وپوښتل څه شوي؟

په ټول تالار خاموشي خپره وه، زړه مې غوښتل چې په میک کې په زوره، زوره وژاړم او ددې ټولنې د بدبختي راز ټولو ته ووایمه، ډېر په سختي مې ځان کابو کړ، خواب مې ورکړ رئیس صاحب صنم نور نه راځي پوهنتون ته؟

جدې شو او وې پوښتل ولې؟

په ډېرې سختي مې ورته د صنم کیسه په لنډو ټکو کې وکړه، ناست ګډونوالو ټولو د ویش ویش نارې وهلې خو یو وخت مې چې سنګین ته پام شو، شونډې او وجود یې ټول لړزېدو په لاس کې نیولي پاڼې یې داسې رېږدې لکه شمال یې چې رېږوي، غټو غټو اوښکو یې په مخ لارې جوړې کړې، وضعیت یې په دمه دمه لا خرابېدو، ټولګیوال محمد مو را جګ شو د لاسه یې ونیو او د ستېج نه یې لاندې ښکته کړو، ځیني کسان چې د سنګین په راز نه پوهېدل، حیران حیران یې ورته کتل خو هغوی چې پوهېدل سترګې یې له اوښکو ډکې وې، څه به ووایم ، بېرون را ووتم، سنګین باندې ټولګیوال چاپېره

وو چا یې په ولو زور کاوه چا ورته د اوبو د ښښلو ویل، سنګین داسې ناست و لکه سرتېرې چې د جنګ په ډګر کې د سختې ماتې وروسته ژور تېبې شوی وي، سنګین نه مې طبیعت لاپسې خرابېدو.

سنګین د هلکانو منځ نه را بېل شو، زما خواته راغی سترګې یې له اوښکو ډکې وې، څه یې پوښتل خو ستونی یې نیولی و، ما د صنم راکړی کاغذ په لاس ورکړ، کاغذ یې خلاص کړ، لوستو سره یې په مخ د اوښکو سیلاب جوړ شو، خو ما د څه ویلو تاب او جرئت نه درلود، نو څکه ترې روانه شوم.

سنګین اوس هغه سنګین نه و، بس همغه خاموشي یې تر اوسه په شونډو پاتې شوه، اوس نو پوهنتون ته هم ډېر کم راتلو، دوه میاشتې خو بیخي رانغلو ټولګیوالو مو ویل چې سخت مریض دی تبه او ځان دردي یې ده، په ډېرو ډاکترانو یې وګرځو، خو ډاکتران هم ترې نور ستړي شول، د اندامونو د دردونو نه ډېر وخورېدو پوهنتون کې ټول ټولګیوال ان رئیس یې هم په مریضي خبر شول نو څکه یې ورته ستونزې نه کتل، بله ورځ مې ټول ټولګیوال پسې ورغلل په زوره یې پوهنتون ته راوستو، په ټولګي لکه د مړي په شان مړاوي را ننوتو، د همغې ورځ نه را په دېخوا به د ټولګي اخري چوکۍ کې یوازې کېناستو او تر. درس خلاصېدو وروسته اوس هره ورځ د همدې ونو لاندې ناست وي او شپېلۍ غږوي، ټول ټولګیوال او ښوونکي ورته په نصیحت ستړي شول، خو د هېچا په خبرو یې هم زړه نه تسل کېږي، ایله د کامیابۍ نمرې ورته ښوونکي ورکوي، بس ټوله ورځ سنګین وي او همدا شپېلۍ .

بلا موده وشوه چې له تقدیر هم څوک احوال نلري د پلار د مړینې نه یې هم خبر شوی و او پلار مې مخکې ورځو کې ویل چې کوم چا ایران کې د متعادو خلکو سره د پوډرو په څکلو لیدلی دی نو خدای پوهېږي چې رښتیا به وایي او که درواغ.

سلگۍ د چايو گيلاس پورته کړو يو غړپ يې ترې وکړو او بېرته يې کېښودو، زرلښتې ته يې مخ کړ د زرلښتې سترگې سرې اوښتې وې او ژور فکر کې ناسته وه، سلگۍ يې د فکر څنځير وشلاوه او ورته يې وويل:

زرلښتې نو دا و زما د خوږې ملگرې او تولگيوالې داستان، خداې خبر چې اوس به کوم وضعيت کې وي او چېرته به وي؟

زرلښتې په داسې حال کې چې فکر يې بلخوا و خواب يې ورکړ، جلال اباد کې ده لغمان چارباغ کې زمونږ دې نوي کور کې گاونډۍ ده.

سلگۍ جدې شوه او وې پوښتل زرلښتې رښتيا وايې؟

زرلښتې سلگۍ ته مخ کړ، هو رښتيا وايمه، سلگۍ بيا د اطمينان په پار وپوښتل زرلښتې ته خو به غلطي نه کوې؟

زرلښتې وويل:

نه غلطي نکړمه په دې لنډه موده کې زما ښه ملگرې شوې ده، خو د ژوند په دې راز يې لا خبره نه ومه ډېر خله مې هڅه کړې وه، چې پوه شمه خو هيڅ به يې راته نه ويل، لکه چې زرينې ښه وېرولې څکه يې راته له وېرې هيڅ هم نه ويل، سلگۍ سلگونه پوښتنې د صنم د ژوند خاوند او بنې په اړه کولې، اوس زرلښتې خوابولې او ويل يې چې شپه او ورځ پرې د کور کارونه کوې، يو شېبه يې هم ارام ته نه پرېږدي، زما خو کله داسې غوسه راشي چې زرينه ښه سمه بې ابه کړم خو صنم لپاره څه نه وايمه.

سلگۍ شېبه حېرانه پاتې وه، وروسته يې ويل، کاشکې ما خو لېدلې واى، دومره ستاسو تر کوره راغلم خو صنم مې ونه لېده، بيا يې زرلښتې ته مخ کړ او وې ويل چې دا ځل به حتما يوازې د صنم د لېدو لپاره جلال اباد ته ځي.

د بارانه اوږده شپه په کېسې او ژړا سبا شوه، سهار زرلښتې بېرته د کورته تلو وويل، خاله يې او عمر ورته ډېر وويل چې څو شپې نوره هم اوسه خو زرلښتې

زړه نور ارام نه مونده، سلګی ورته د تلو په وخت وویل چې حتما به یې د صنم داحوال خبروي او که امکان یې و نو یو ځل یې راسره حتما په موبایل هم وغږوه ماسپښین مهال زرلښته بېرته د عمر سره د جلال اباد په لور روانه شوه، په تړوله لاره ورسره د صنم اندېښنې مل وې، موټر د ماهیپر د لوړو او تنګو سرکونو نه په سرعت لاندې ښکته کېدو، درېور په موټر کې وار په وار د سندرو کېسټونه بدلول رابدلول، ماښام ناوخته موټر د لغمان د چارباغ په لور رهي شو، زرلښته او عمر ښکته شول، عمر لاسونه هوا ته وغځول او ستوماني یې ویسته.

د موټروان کرایه یې ورکړه، ترې را روان شوو، شپه وروسته د لوېې او شنه میدان یوې څنډې ته چې د زرلښتې دوی کور و ودرېده، زرلښتې لومړی د صنم دوی د کور دروازې ته وکتل خلاصه پرته وه زړه یې غوښتل چې خپل کور ته د تلو وړاندې لومړی ورشي او د صنم احوال واخلي خو عمر ته یې چې وکتل نو مناسبه یې ونه ګڼله. کورته د ننوتو سره سم یې د خپل مور څخه د صنم احوال واخیست مور یې یوازې خواب کې دومره وویل چې دا څو ورځې مې بیخې نده لیدلې، له زرلښتې سره زر قسمه اندیښنې مل وې، هیڅ ورته ناستی خوند نه ورکاوه ،بالاخره یې زړه مجبوره کړه او له دیواله ورښکاره شوه، ویې لیدل چې صنم په حویلی کې د خیرنو جامو لوی پنډ ته ناسته ده، د صنم په لیدو یې زړه لږ څه ارامه شو، د صنم او د زرلښتې دوی د حویلي ترمنځ لوی ختین دیوال و چې کله کله به زرلښته د زینې په مرسته پورته کېده او چې زرینه به کور کې نه وه نو بیا به یې ساعتونه د همدې دېوالګي نه را دیخوا د صنم سره کیسې کولې، کله کله خو به ځانګه بخیلي واخیسته او د صنم د بوختولو هڅه به یې کوله، خو ددې سره سره بیا هم د ځانګې رویه د صنم سره د زرینې او ثمرګل په نسبت ښه وه، کله کله خو به زرینه ځانګې ته په همدې خبره غوسه کېده او ورته به یې ویل چې تا باندې دې شهید ورور یوسف ګران نه و، څکه خو یې د قاتل

خور سره داسې په چاپلوسی خبرې کوې، که څه هم د څانګې به زړه نه کېده چې صنم ته بد ووایې خو دا کار به یې د زرینې د ویرې او پیغور له وجې کاوه، کله به چې بیا زرینه نه وه نو تل به یې د صنم سره د کور په کارونو کې مرسته کوله.

شپه تیره شوه نورو ته نوی د صنم لپاره د تېر په څېر تریخ سهار پیل شو، د شین سهار نه د حویلی منځ کې ګرده ګرځېده کله به په یو او کله به په بل کار بوخته وه، د وجود ستړیا او د څېرې خوبولو سترګو یې د ژوند د ترخو وړاندوینه کوله. زرلښته د اوبو د سطل سره د صنم دوی د حویلی په دروازې ننوته، صنم چې زرلښته ولیده ژر یې د لاسه جارو وغورځوله، د زرلښتې خواته راغله او غیږ کې یې کلکه ونیوه، صنم یو څه په جدي لهجه وویل

دا څنګه پرون راغلې وې او دیخوا دې سر هم را ښکاره نه کړ، زرلښتې د زړه په سر وخندل او ځواب یې ورکړ، ښکلې نجلی غوسه مکړه چې ښکلا ته دې لوی ګوابښ دی، غوښتل مې چې خواته دې درشم خو ناوخته را ورسېدم، ښه وایه کنه ورځې دې څنګه تېرېږي؟

صنم د زړه په سر ترخه تمثیلي موسکا وکړه، ځواب یې تېر په څېر و ((ښه دی، تېرېږي.))

بیا یې د زرلښتې نه د چکر او د کابل هوا په اړه پوښتنې کولې، زرلښتې یې پوښتنو ته تفصیلي ځوابونه ورکول، د دواړو ترمنځ ګرمه مرکه روانه وه چې زرینه راښکاره شوه، د زرلښتې سره یې روغبړ وکړ او بیا یې صنم ته د حویلی د جارو کولو وویل، د زرلښتې رویه اوس د زرینې سره بیخی بدله وه داسې یې ورته برګ ورکتل لکه د صنم په ځای چې زرلښته د زرینې ښه وي، د زرلښتې د رویې او څېرې بدلون صنم په وسوسه کې واچوله، د زرلښتې یې هیڅ پوښتنه ونکړه خو اخر د زرلښتې د صبر جام لبریز شو او وویل:

صنم دومره ددې ښځې امرونه مه منه، بیخي درباندې عادت شوېده. خپله د لور سره تړوله ورځ ناسته وي بس په خوله یې د هر کار لپاره یوازې ستا نامه وي، صنم د زرلښتې سترګو ته غلې وکتل لکه د خپلې بېوسې په اړه یې چې پوهوله. شیبه دواړه غلې وې، چې زرینې بیا په صنم غږ کړ صنم هم د غږ سره له ویرې داسې خېز وکړ لکه مجرم چې د ثبوت سره ګیر شي او ددې ویره ورسره وي چې اوس به د کومې جزا مبلمه کیږي، سپکه جګه شوه او جارو یې را واخیسته، زرلښتې صنم ته وکتل اسویلی یې وکړ او په ماتو قدمونو ماته ووته.

شپې ورځې تېرېدې، صنم به چې د کاره ستړې شوه، نو د عادت له مخې به یې خپله کتابچه را واخیسته کله به یې لیکل او کله به یې د زړو کړښو لوستل پیل کړل، نن هم کله چې د کار نه وزګاره شوه نو خپلې وړې او زړې کوټې ته ننوته او خپل د سره پوښ لرونکې کتابچه یې را واخیسته او د څه په لیکلو یې خان بوخت کړ، دا کوټه لومړی د اضافي سامانونو لپاره وه خو کله چې زرینې صنم په بدو کې را وسته نو دا کوټه یې صنم ته ورکړه، لا هم په کې یو اړخ ته د کور زاړه سامانونه پراته وو، یو اړخ ته یې صنم ځانته یو زوړ ابي رنګه توشک، سپین پوښ لرونکی بالښت او یو بکس ایښی و، ټول ژمی د سختو بارانونو له وجې یاده کوټه بار، بار راوڅڅېده ،خواري صنم به د باران نه د پناه کېدو له امله ټوله شپه کله توشک د کوټې یو او کله بل کونج ته وړو، که څه هم د زرینې دوی حوېلی لویه او پراخه وه، ښکلې لویې دنګې ونې، او شنه واښه پکې ولاړ وو، خو د صنم په قسمت کې یوازې همدا زړه او وړه کوټه ور رسېدلې وه، صنم کتابچه بنده کړه بیرته یې په خپل بکس کې کېښوده، د خوب پرښتې پرې زورور شوې او ځان یې د خوب قاصدانو ته وسپاره، د شپې دوه بجې به وې چې ثمر ګل د صنم د کوټې دروازې ته ښه یو درنه لغته ورکړه او په قهر یې وویل پاڅېږه د خان صیب لورې ټول کور اوبو ونیو او ته راته خوبونه کړې، صنم له ویرې

لړزې واخیسته، زر جګه شوه ځادر یې په سر را سم کړ، سترګې یې وموښلې، چې پام یې شو کوټه یې هم را ځځبدلې وه د زوړ فرش یوه څنډه لمده ښکارېده، ثمرګل په قهر ووت، صنم ژر حوېلۍ ته ووته، غوښتل یې د تناب نه مینځل شوي کالي را ټول کړي خو حس یې کړه چې ټول لامده شوي دي، بیرته یې په تناب هوار پرېښودل، خیني خواره واره لوښي یې راټول او له بارانه په امن کړل، د باران غټو غټو څاڅکو په شدت د ځمکې مخ لوند کړی و، صنم بیرته د کوټې پر لور تله چې پښه یې ښویه شوه یو ناترس درز یې وخوړ او د لمدې حوېلۍ په منځ کې خوره ولویده، تر دې چې څانګه یې له درانه خوبه راویښه کړه، په منډه د صنم خواته راغله، د لاسه یې ونیوله او کوټې ته یې دننه کړه، صنم ښی لاس کلک نیولی و او د درد له وجې یې ساړه زګیروی کول، څانګه چې له زړه مهربانه وه نو ژر یې ورته لاس غوړ او په سپین رنګه ټوټه وتاړه، صنم تر سهاره د لاس له درده خوب ونکړ او سهار یې چې پام شو نو ښی لاس یې تر مړونده پړسبدلی و، زرینې چې د صنم لاس پړسبدلی ولید نو په غوسې یې شروع کړه، ړنده وې چې لارې ته دې نه کتل، هر وړوکې او غټ کار ته وارخطا یې که د پلار کور کې دې لږ کار کړی وای نو داسې به نه ترې وېربدې اوس به د کور دا دومره کارونه څوک کړي؟

ته خو داسې ورځ له خدایه غواړې هغه دې بهانه درته جوړه شوه.

صنم یوازې مړه مړه غلې ورکتل، څانګې یې د مور خبره پرې کړه او ویې ویل مورې زه یې کوم کنه....

زرینې پرې سترګې را وویستې، کبنه ته چېرې کار سره بلده یې، چې داسې راته ټټر وهې.

صنم غلې خواب ورکړ

زه يې کوم خاله جانې، زرينې په گونځې تندي صنم ته وکتل او غلې شوه، مکمله يوه اووني صنم د مړوند د درد له وجې وکړېده، په يو لاس به يې ډېر په سختۍ سبک او واړه کارونه کول، زرلښتې يې چې لاس وليد نو سترگې يې له اوښکو ډکې شوې خو صنم يې د ډاډه کولو لپاره ويل چې درد نلري خو لړ پړسېدلې دی، زرلښتې به اوس د ورځ نيمه برخه د صنم سره تېروله. له درملتون نه يې ورته ځينې د درد دواگانې او ملهمونه هم را غوښتې وو، زرلښته به چې کورته ولاړه نو مور ته به يې تل د زرينې د ظلمونو او کلک زړه شکايتونه کول، د همدې له وجې خو نېږدې وخت کې د زرلښتې مور غوتۍ د زرينې دوی کورته د پخوا په شان تگ راتگ نه کاوه، د زرينې دواړه زامنو ابوبکر او عثمان که څه هم اول وختونو کې صنم ډېره وخوروله خو دې نېږدې وختونو کې يې د صنم له خورولو لاس اخيستی و، خو خبرې يې ورسره لا د پخوا په څېر نه کولې. لوړيو وختونو کې يې د صنم د خورولو لپاره هرې په لاس ورغلې موقع نه استفاده کوله، د صنم کنځل او بد رد ويل يې عادت گرځېدلي وو، ابوبکر خو پرې له پينځه شپږ خلو زيات ډېر خراب گوزارونه هم کړي وو، ثمرگل به هم تل د زرينې په اشاره څرخېده، هر څه به چې زرينې وويل همغسې به يې کول، تر دې چې د واده تر څلور مياشتو يې نه د صنم سره خبرې کولې او نه يې هم په طرف ورتلل، که وړه غلطي به يې وکړه نو بې اسرې او بې دريغه به يې وهله، د څلورمياشتو وروسته يې صنم سره خبرې کولې خو رويه يې پخوا په څېر وه او دې نېږدې ورځو کې به يې کله کله د شپې لخوا کوټې ته هم تلو، د زرينې د تندې گونځې يا اشاره باندې به چې لړ هم پوه شو، نو ثمرگل به هم سرچپه شو او ترهغې به چې صنم کوم نيم گوزار ونخوړ، د زرينې گونځې تندی به نه سمېده.

زرینه په زړه سخته او ظالمه ښځه وه، تل یې د صنم له څورولو خوند اخیسته لکه د صنم د اوښکو لپاره یې چې ګلان کرلي وي او د صنم د اوښکو په وچېدو یې ګلان هم وچېدل.

صنم به ټوله ورځ کار کاوه، کله به چې د ډوډۍ د خوړلو وخت شو نو ټول به دسترخوان ته کېناستل، صنم به د خدمتګارۍ په څېر ولاړه وه چې دوی به ډوډۍ وخوړه نو پاتې شونې به یې هم د لوږې له وجې په اشتها او شوق خوړل.

یوه ورځ د جمعې ورځ غرمه مهال ثمر ګل او نور ټول د غرمې ډوډۍ ته کېناستل، صنم هم د لوږې احساس کاوه، خو جرئت یې نشو کولای چې دوی سره به ګډه ډوډۍ ته کېني، نو ځکه د کوټې کونج ته غلې ناسته وه، ثمرګل چې لومړۍ مړۍ وکړه تندی یې تروش کړو، له خولې یې بیرته کړې مړۍ را وویسته د اوبو ډک فلزي ګېلاس یې پورته کړ او په صنم یې ګوزار وکړ، د فلزي ګېلاس تېره څوکه د صنم د تندي یو اړخ ته برابره شوه، ثمرګل په قهرجن انداز وویل:

بدبختې دا الوګان به خلک داسې پخوي دا خو دي د مالګې نه زهر کړی دی، مونږ لکه چې درته د میاعلي صیب بندیان ښکارو، چې دومره زیاتې مالګې سره کتغ راکوې، صنم په دواړو لاسونو تندی کلک ونیو، سپین نازک لاسونه یې په سرو وینو ککړ شول او د ګیلاس اوبه یې په وجود دانه، دانه تویې شوې، د لمدو جامو نه یې لاندې د پېغلتوب عورت را څرګند شو، ابوبکر ورته برګ برګ وکتل، زرینې د ثمرګل د خبرو تال مات کړ او ویې ویل، ددې چېرته کتغ ته فکر وي دا مجنون صیب ایله شپه او ورځ سوچونه وکړي، خدای خبر شه دا کومه نړۍ کې ټوله ورځ غرقه ناسته وي.

صنم لړزېده، له ویرې غلې وه، په شونډو یې د دعا کلیماتو زمزمې کولې، زرینه داسې لګیا وه لکه صنم چې مجرمه وي او زرینه یې د جرم ثبوتونه او شواهد عدالت ته وړاندې کوي، صنم د ژور درد احساس کاوه، ځانګه زر جګه

شوه، په تندي را ماتې سرې وينې يې ور پاکې کړې، د صنم د تندي ژور ټپ جوړ شو خو هېر يې نه شو. بله ورځ ماښام مهال زرينې ثمر گل ته په درواغو شيطاني کړي وه، چې صنم د حويلۍ دوازې نه د گاونډي هلک ته ور کتل او خندل، ثمرگل پرته له سوال او ځواب نرۍ سيم ځو قاته کړ او د صنم نازک او سپين وجود ته يې ونيو، صنم د ثمرگل په پښو، پښو کې رغښته، د ځان د خلاصون زارۍ يې کولې، د زاريو غږ يې د سيم د بې شميره گوزارونو د تسا سره يوځای کېدو، داسې چې هر گوزار يې په نازک مرمرين وجود نرۍ لارې ترسيمولې، ثمرگل لکه د وحشي حيوان په خبر شوی و، ممکن حيوان هم چا په داسې بې رحمۍ نه وای وهلې خو ثمرگل زړه ته يو ځل هم ويره او رحم ونه لوېده، تردې چې په وهلو يې ښه ستړی شو نو بيا بيرون ووت، صنم ټوله شپه په رنځو او بې وسه اوښکو رڼه کړه، تر سهاره يې د وجود د اندامونو د درد او سوخت له وجې خوب ونکړو، کله به يې الله ج نه شکايت پيل کړ او کله به يې بيرته ورته زارۍ پيل کړې او له دې ظلمونو نه د خلاصون دعا به يې کوله، کله به يې په تونډو ټکو د مرگ غوښتنه کوله، خو بېرته به پښېمانه شوه چې دنيا مې خرابه ده اخرت مې هم خرابيږي.

سهار زرينه د ځانگې او ثمرگل سره د کوم گاونډي دوی کورته ولاړه، په کورکې ويل يې ختم يې کړی، عثمان او ابوبکر دواړه ښوونځي ته ولاړل، په کورکې يوازی صنم پاتې شوه، په سپين وجود د بې شميره جوړ شوو شنو او ابي رنگه د سيم جوړو نښو نه څوريده، د زرلښتې لخوا ورته د درد هغه راوړي گولۍ يې پيدا کړې اثر يې ونکړ، د خپل زوړ بکس نه يې کتابچه را وويسته او د سپنې پاڼې په مخ يې په شمېرکرښې وليکلې، سلگو واخيسته اوښکې او سلگی يې سره يوځای شوې، شبېه به لا نه وه تېره چې زرلښته راغله او سيده د صنم کوټې ته ننوته صنم چې په زرلښتې نظر ولگيد، لا پسې سلگو واخيسته، زرلښتې يې چې په مخ جوړ

تور زخم ولید، حیرانه شوه، د صنم اوښکو او سلګو خپلو کې یو بل ته وار نه ورکاوه، زرلښتې وپوښتل صنم دا ولې څه شوي ها؟ لکه چې بیا هغه خناور دې حال ته ورسولې؟

صنم هیڅ نه ویل، د زرلښتې نور زړه طاقت ونکړ په ژړا سر شوه، د صنم ځوانۍ او له خوښیو محرومیت یې د اوښکو بندونه جاري کړل، ښه شیبه دواړو وژړل خو بیا هم صنم چوب وه، زرلښتې یې لاسونه لاس کې ونیول صنم ته یې وکتل او ورته یې وویل:

صنم له ما یې ولې پټوې ها؟

بل دې هسې هم خواته څوک د راز او نیاز نشته، شاوخوا دې ټول ناترس او کلک زړي دي، یو هم ستا په حال اوبوسي رحم نه کوي، صنم زه په هر څه خبره شوې یم، ماته سلګی ستا د تېر ژوند ټوله کیسه وکړه، ستا د نیمګړیو هیلو، قرباني شوي مینې او تاندو ارمانونو قتلېدو مې د ژوند خواږه زیښبلي دي، صنم شپې او ورځې مي د ډېرې ترخې دي یو خوا دې تېر غمونه او بلخوا دې دا قافلې، قافلې ظلمونه...

زرلښته غریو ونیوله صنم ورته حیران وکتل، د زرلښتې لاسونو ته یې زور ورکړ په بند بند غږ یې وپوښتل

زرلښتې سلګی دې چېرته ولیده او څه یې پېژني؟

زرلښتې ستوني کې سلګی زندی کړې د صنم بادامي او سرو سترګو ته یې وکتل، ځواب یې ورکړ

سلګی مې د خاله لور ده او اوس چې کابل ته تللې وم، نو ستا ټوله کیسې نه یې خبره کړم، بیا یې سلګی سره د پوهنتون ته تلو ټوله کیسه وکړه.

د صنم په څېره د مایوسي او ناهیلي نښو نمایش پیل کړ، د سنګین د وضیعت او حالت په اړه پوهېدو یې د زړه رنځ لا پسې زیات کړ، زرلښتې ته یې

داسې وکتل لکه سخته ماته یې چې خوړلې وي، زرلښتې یې په تېزۍ د سرو سترګو چې ښکلا یې لا یو په دوه شوې وه لنډ جاج واخیست، بیا یې صنم ته د ډاډ ورکولو په نیت وویل: صنم ممکن د الله ج رضا په همدې کې ده او ته د خدای ج نه تر ټولو نږدې بنده یې ځکه خو تل د غمونو دا کاروانونه ستا میلمانه وي، صنم صبر ولره، ممکن خدای ج درته ډېر ژر ددې خفګان او ناهیلو د ټاپو نه د وتو لاره در وښايي، زه دې په درد پوهېدای شم خو باور ولره ځکه د هرې تورې شپې وروسته روڼ سهار راتلونکی دی، صنم غلې وه، خو زړه او ذهن یې د سنګین سره د تېرو یادونو په سمندر موجونه وهل، خدای خبر چې دې لنډه او درد نه ډکه شېبه کې به یې په زړه څه تېرېدل، زرلښتې د تسلیت ورکولو په بار، بار هڅه کوله.

تر اوږدې شیبې سوچ وهلو وروسته د صنم په مخ سپینې اوښکې وځلیدې او د زرلښتې د ټولو خبرو په ځواب کې یې وویل:

زرلښتې د تقدیر او سنګین بېلتون او د پلار ابدې تګ لکه کمان په ملا کړه کړم، رښتیا هم بدبخته وم، تقدیر په یوې لاره لاړو پلار مې په بله، خو زه یې ددې ناترسي زمانې غمونو ته یوازې کړم، زړه مې بیخي خالي خالي دی، سنګین مې هم له خان سره بدبخت کړو، هسې مینه هم عجیبه خوږ او دردمند احساس دی . زرلښته خاموشه وه، خو د صنم زړه طاقت ونکړ او ویې پوښتل

زرلښتې سلګی بیا کله راځي؟

زرلښتې خواب کې د سلګی کړی افسوس وریاد کړ چې تر دې ځایه راغله خو ته یې ونه لیدې او ویل یې چې دا ځل به یوازې د صنم د لیدو لپاره راځي.

د صنم په ژېړبخونې څېرې د خوښی نښې راښکاره شوې او ورسره یې د سلګی ستاینې او د تېر ژوند کیسې پیل کړې، کله به موسکی کله په خندا او کله هم ژړغونې شوه، اوږده شېبه یې زرلښتې ته د سلګی پوهنتون او سنګین کیسې

وکړي، دا لومړی ځل و چې د صنم له خولې خبرې را وتې، ځکه تل به زرلښتې هغه کوله چې د صنم له خولې خبرې واخلي، خو صنم به چپ چپ وه.

صنم له تېرو خاطرو را دیخوا شوه، حال او ماضي ته راغله، په سترګو یې اوښکې وېرقېدې زرلښتې ته یې مخ کړ او ویې ویل

زرلښتې لومړی ورځ چې دوی دلته راوستمه نو د حویلۍ دروازې کې راته زرینه ولاړه وه راته یې وویل:

بدبختې ښه راغلې، زما ژلمی زوی مو واخیست د هغه ځای جنت شو، خو تاته به دا دنیا دوزخ کړمه، د مرګ دعا به کړې مرګ به هم نه درته راځي، زه چپ او وېرېدلې ولاړه وم، له ولاړو خپلوانو ښځو یې یوې راته په برنډه په کټ د کېناستو وویل، بې زړه کېناستمه، نور مې نو خدای مل و، پرته له خدای هېڅوک هم راسره نه و، زامنو یې ځانګې او ثمرګل ټولو بد رد ویل او ګواښلم یې، زما زړه درزېده او لړزېدم، چې زرینې د لاسه ونیولم او د کټ نه یې پورته کړم او په قهرجن غږ یې ویل، ته چا دلته ځانی ته نه یې راوستې چې داسې راته کېناستې، پاڅه کالي ومینځه د ټول کور کوټې راوباسه او پاکې یې کړه، زه نو بدو کې قرباني شوې خدمتګاره وم، غږ مې نشو کولای بس د همغې ورځي راهیسې تر نه ددې ټولو نوکره وم، د ټولو خدمت به مې کاوه، چې لږ به د کاره وزګاره شوم او زرینې به په ناستې ولیدم، نو که نور څه به یې پیدا نکړه راباندې به یې غږ کړو چې، پښې مې راته چاپې کړه او ورسره به یې سپکې او سپورې ویل هم پیل کړل، ثمرګل چې هره اوونۍ راشي زما زړه درزېږي چې بیا به زرینه ورته کومې نوې خبرې کوي او ما به پرې رټې او وهي خو یو ځل هم زما د توقع خلاف کار ونه شو، بلکې تل زرینه بریالۍ کېږي.

د پلار مړینې راباندې دنیا داسې تیاره کړه چې د دوی ظلمونه یې راته په مقابل کې هېڅ نه ښکارېدل، د تقدیر بېلتون راته بل غم و، نه یې د ښو احوال

راخي نه د بدو، اخر دا چېرته دی يو ځل بې هم ددې خواري خور پوښتنه ونه کړه، يو ځل بې هم زه ياد ته رانغلم؟

نه پوهېږم چېرته دی او څنګه دی، هيڅ احوال ترې نلرم، زرلښتې د سلګی خبره راياده شوه چې ويل يې تقدير ايران کې د متعادو خلکو سره ليدلي، زرلښتې نه غوښتل چې صنم ته د تقدير په اړه روايي هسې يې هم خپل غمونه ډېر وو، غلې شوه او تېر په څېر يې داډ ورکول پيل کړل.

صنم د وجود درد حس کړ، يو ارامه زګيروی يې وکړ، د زرلښتې څېرې کې هم د نارامي نښې څرګندې شوې، داسې لکه د صنم د ټپونو درد يې چې خپل وجود کې حس کړی وي، صنم زهيره او خوبولې ښکاريده، نو څکه زرلښتې پرې زور وکړ او ترې ويې غوښتل چې يو ساعت ويده شه.

صنم چې ټوله شپه هم شبګير کړی و، نو پرته له دليل نه يې سرکښنود، زرلښتې يې ملا غوړوله اوښکو يې په مخ رودونه را رواني وې، د سپينې ملا تخته يې شنو او تورو نرې ټپونو نه ډکه وه، شبه به لا نه وه تېره چې صنم د خوانی يو زوروور خوب په مخه کړه، خو د زرلښتې د سترګو اوښکې نه وچېدې، زړه يې د زرينې لپاره د ښراوو ذکرونه کول چې د صنم تر څنګ يې سور پوښ لرونکې چرمي کتابچه وليده، په کراره يې را واخيسته پاڼی يې ورته په ارامه اړولې را اړولې، لومړی پاڼه يې را خلاصه کړه، په ابي قلم يې روښانه ليکل وو،

زما کيسه د يو داسې چا کيسه وه چې په سمندر مين و، خو کښتی يې نه درلوده، نه کشتی يې درلوده خو زوروورو توپانو يې بېړی ډوبه کړه.

زما کيسه د يو قرباني شوي سرتېري کيسه وه، سرتيري د هېوادنی مينې او غرور لپاره سر قرباني کوي، که څه هم د زرګونه خلکو شونډو ته موسکا وربښي خو د يو کس ژوند ته هرو مرو د غمونو قافلې ور په مخه کوي، هغه بل څوک نه، بلکې خپله معشوقه يې ده، خپله ترې خې خو هغې ته ور پاتې غمونه

پرېږدي، هو زما کيسه کټ مټ د همغه سرتېري کيسې ته ورته ده، ما د سنګين خوبونه ووژل هيلې مې ورته شهيدې کړې، تقدير او پلار جان مې وژغورل، سنګين ته مې دلې دلې غمونه ورپرېښودل هيله کوم ما وبښئ.

زرلښته په جلتۍ دويمې پاڼې ته ولاړه ،لړ غوندې تت ليکلي وو:

نن د وير او تورتم ماښام دی، د قيامت په اړه مې يوازې اورېدلي و، نن مې عملا وليد، هو نن قيامت دی همغه قيامت چې نوم نلري خو سخته يې کټ مټ د هغه قيامت په څېر ده چې ما يې يوازې کيسې اورېدلې وې، په بدو کې د ورکولو غړ لکه ډوډۍ په تناره خام سوزه کړم، د وجود غړي او زړه مې درد کوي، اااااااه.

زرلښتې په لړزېدلو ګوتو د کتابچې دريمه پاڼه وسپړله، هلته يې ليکلي وو:

نه زه نه ژاړم، ژړا زما کمزوري ښايي او ولې وژاړم؟

د مينې دويم نوم قرباني ده، پرته له قربانۍ مينې ته مينه نه ويل کېږي، زه د تقدير لپاره د خپلې مينې قرباني په خوشالۍ ورکوم، هو تقدير زما د کوچنيوالي هغه رښتينې مينه ده چې پرته له کومې توقع مې ورسره اړيکه پالـــله، نن تياره يم چې د تقدير د ژوند لپاره خپله مينه قرباني کړم.

ورپسې يې په شا مخ ورته ليکلي وو:

سبا سهار مخکې له دې چې روښنايي شي، د موجوده ژوند له هرې شېبې سره مخه ښه کوم، د نوي ژوند نوې پاڼې مې پيلېږي، پوهېږم راتلونکی ژوند مې له سختيو او پېچومو ډک دی، خو د زړونو هغه مالک راسره مل دی کوم چې ياد ژوند را ډالۍ کړی او زه يې هم له راکړې ډالۍ راضي يم.

تېر يادونه او ژوند همدلته پرېږدم د سنګين مينې ته د هغه د ياد په نوم قلف اچوم، همدلته ورته مزار جوړوم او ښخوم يې، په قبر يې د صبر اويه شيندم، خو

د یاد ډېوې بې تل په خپلو سپېڅلو اوښکو بلې ساتم، دا مزار د ناکام مین په نوم نوموم، نه مینه یې ناکامه نه وه، بلکې شهکاره وه، هو د میني قرباني شهکاري ده.

خدای ته یوازې همدا دعا کوم چې ددې مزار د مالک په زړه د رحم او کرم اوبه تویې کړي او ښکلی او نوی ژوند ورته ډالی کړي، زما ژوند چې هر ډول وي فرق نه کوي، زه یې تېروم، خو سنګین ته د ښه ژوند غوښتونکې یم.

د زرلښتې رڼو اوښکو د کتابچې خواره واره توري ښکلول، صنم ته یې وکتل په درانه خوب ویده وه، د کتابچې بله پاڼه یې خلاصه کړه لیکل شوي وو:

ما د کوره د رخصتېدو په وخت ددې لپاره ونه ژړل چې ګوندې د ورکړې قرباني نه پښېمانه یم، نه پښیمانه نه وم، خو کله به مي چې پلار جان په ولو راته لاس کېښود، نو داسې به مي احساسوله لکه ټوله نړی چې زما تر څنګ ولاړه وي، نن چې کله رخصتېدم او پلار مي راته په ولي لاس کېښود نو لاس یې ولړزېد، حس مې کړه چې پلار مې ډېر کمزوری شوی دی، خکه مې زړه وار ونکړ او په چیغو مې وژړل.

بله پاڼه کې لیکل شوي وو:

نن مې دلته د نوي ژوند لومړنی شپه ده، خو دا شپه د ډېرو پېغلو د ژوند د لومړی شپې سره توپیر لري، دا شپه هغه شپو ته ورته نده چې د ډېرو ارمانونه او هیلې پکې پوره کېږي، ماته توپیر لري خکه نن شپه ما خپل هغه ټول ارمانونه ښخ کړل، کوم مې چې باید په یاده شپه ترلاسه کړي وای، د خوښیو د شور او زمزمو پر ځای مې د ثمرګل د درنې خپیرې شور لا هم غوږونو کې انګازي کوي، اه، څومره د درد نه ډکه شپه ده.

بلې پاڼې کې يې ليکلي وو:

زړه مې تنګ دی په هغه ورځو پسې چې ماشومه وم، پلار مې نازولم هر څه مې چې غوښته ترلاسه کول ـي، هغه ژوند څومره خوږ او مينه ناک و، زه مې بيرته ماشومتوب ته ګرځېدل غواړم.

ددې پاڼې په تسلسل يې راتلونکې پاڼې کې ليکلي وو:

وجود مې لړزېده، خوله شوې وم، زړه مې ډوبېده، کله مې چې د سنګين لاس د لومړي ځل لپاره په خپلو لاسو کې ونيوه، په لومړي ځل مې ورسره په لاس ستړي مشې وکړه، د وېرې او خوښۍ ګډ سرور و، خوږ احساس و، ګومان مې کاوه، چې د ټولې نړۍ ملکه يم.

کـ ـ متې همغه شببه مې په خوب کې وليده چې پاڅېدمه په خوب کې هم خولې شوې وم.

بلې پاڼې کې يې داسې ليکل کړي وو:

خوب مې ليده چې زموږ يو رنګين ژوند و ـ ، يو لوی شين ميدان وړه او له ګلونو ډکه حوېلۍ، ته بوټي اوبوي او زه دې سيل کوم، سنګينه دا ځل تر لمر ځرک وروسته په ويښه راشه نور دې په خوبونو کې د راتګ نه ستړې شوې يم.

بلې پاڼې کې يې يو انځور کښلی وو، انځور د انځورګرانو په څېر ښکلی او هنري نه و خو انځور کې د يو سړي او ماشومې عکس ښکارېده، تر لاندې يې ورته خورې ورې داسې جملې ليکلې وې:

تل راسره جنګ کړي

تقدير بيا ووهلم

ته ورته ولې څه نه وايې؟

زما کتابچه کې يې کرښې ويستې، وايې په تا نو چا مکتب لوستی.

دې ټولو جملو پسې خفه شوې یم، هو دا همغه وخت و چې کوچنۍ وم تقدیر به تل څورولم او په پورتنیو جملو به مې پلار ته شیطاني او شکایت کاوه، زښته خفه شوې یم په دې جملو پسې.

درې څلور خالي پاڼو وروسته یې بیا لیکلي وو:

پلاره له کومې ورځې چې تا د خپل شتون بلې ډیوې زما له ژونده وړې، له همغه ورځ راهیسې زه هره شپه ستا د نشتون په سوځونکي لمر لکه د واورې په څېر ورو ورو ویلې کېږم. شپه تر سهار په خوبونو کې تا لټوم، یادگارونه دې ټول زما د یادونو په نرۍ کښې داسې خواره واره دي چې ان طبیعت هم راته ستا د مینې او مهربانه نظر ترجماني راکوي.

ته هغه څوک وې چې زمونږ د ژوند هر غم او ستونزو ته لکه د سپر په څېر ولاړ وې، هوډ او حوصله دې لکه زما د وطن د غرونو په څېر هسکه او ځلانده وه.

هغه شپه چې ستا شتون زما له ژونده تللی له همغې شپې راهیسې د فراق له وجې د شمعې په څېر اوښکه، اوښکه بهیږم، زه د هغه لوی سړک تر څلورو لارو پښې لوڅې در روانه وم، د لید کړښه مې ستا د جنازې تر پناه کېدو ورکه وه او زما د اوښکو رودونو او مرګوني سلګیو غږ پرته له ما نور هر چا اورېدلی شو، ما داسې انګېرله چې ناترس بیلتون مي د چړو په زور زړه له سینې څخه وویست او په منځ یې غوڅ کړ.

ته ولاړې ، خو زما د وجود نیمایي برخه دې له ځانه سره یوړه، ځکه خو اوس د پخوا په څېر ځواکمنه نه یم ستا د بېلتون سیلۍ لکه د مني پاڼه زیړه کړم، د ژوند ټول خواږه یې راځینې زبېښلي دي، زما زړه هره شپه یوازې ستا مرحمت یادوي او دلته لا هم هغه زړه ستا د دیدن په باران خړوبېدل غواړي کوم چې ستا د نشتون غم او وچکالي وهلی او له تندې مړاوی پروت دی.

دادي ستا د تلو ځو میاشتې ووتې، خو لا هم زما زړه ستا د لیدو جل داسې وهلې لکه تېر ځو کاله چې ورته هېڅ اوبه نه وي رسېدلې، پلاره بلکې زما د ژونده! د ټولو خوشالیو څښتنه، ستا اروا دې تل ښاده وي، ډېره درپسې زړه تنګې شوې یم.

د زرلښتې په سترګو د اوښکو باران بیا وورېد، ددې کرښو هر لیکل شوی لفظ یې د زړه دیوالونه ونړول، همغسې په لړزېدلو لاسونو یې بیا د کتابچې پاڼې واړولې.

راتلونکې پاڼه کې یې دا ځل په تور رنګه قلم لیکلي وو:

پرون هم زما د ژوند له تورو ورځو یوه ورځ وه، له سهاره مې لاس کار ته نه ور تېرېده خو د زرینې له وېرې نا زړه لګیاه وم، ماښام مهال ټولو ډوډۍ وخوړه، زما زړه نه کېده خپلې کوټې ته لاړم، ثمرګل راپسې راغی خو له مودو پس یې نن رویه یو څه ښه وه، ناڅاپي تغیر یې حیرانه کړم، ساعت وروسته یې د هوس او وجود وږي د ځناور په څېر شو، د ځو شېبو لپاره یې زما د بې وسه وجود واکداري راځینې واخیسته، زه نور پېغله نه یم...

بله پاڼه کې یې لیکلي وو:

د بې وسی مېرمنه واخلم

سړی به سترګی وي د بل زړه به ساتینه

هوو بې وسي زما د ژوند تر ټولو ستر او ترېخ حقیقت دی، خدای دې څوک هم زما په څېر نه بې اسرې کوي، په رڼو سترګو به حقیقت ویني خو له داره به غږ نه شي کولی، هو نن مې زرینه ولیده چې زما په کړي کتغ کې یې مالګه په لوی لاس ور زیاته کړه ، ددې لپاره چې زما د ځوړولو لپاره ورته نوې پلمه جوړه شي، خو دې پلمې یې راته ابدي داغ پرېښود، زما په تندي د فلزي

ګيلاس له وجې جوړ تپ د ګيلاس له وجې نه دی، بلکې دا د بې وسی تپ دی، د هغه بې وسی چې هر څه مې ليده، خو له وېرې مې غږ نه شو کولای.

افففف خدايه! ستا ددې ځمکې په قشر شته بندګان ولې دومره ظالمه دي؟

زرلښتې په سختی خپل خواره حواس ټول کړل او صنم ته يې وکتل، په سپين مخ باندې يې تورو خورو زلفو د ښکلاوو راګ جوړ و.

بې شيمې يې د کتابچې څو نورې پاڼی په لړزېدلو ګوتو واړولې، اخري پاڼه کې چې ورپسې ټولې پاڼې سپينې وې، ليکل شوي وو:

احساس کوم چې مور کېږم، خو زه نه غواړم چې يو بدبخته مور شم، نه غواړم چې اولاد مې زما په څېر بدقسمته شي، نه زه دا کله هم نه غواړم چې زما د سختو شپو او ورځو شاهد دې زما اولاد اوسي، خدايه ته ورکونکی او اخيستونکی يې، زما په حق کې داسې فيصله مه کوه.

د صنم د مور کېدو د يادښت په لوستو د زرلښتې سترګې رډې را ووتې، يو شېبه يې داسې فکر وکړ چې ټول پلان يې ګډوډ شو، ځکه زرلښتې خو لا پخوا دا په ذهن کې ساتلی وه چې صنم ددې تور زندان نه وباسي او يوه راڼه ژوند ته په رسولو کې به يې پوره لاس نيوی کوي، په بې شيمې لاسونو يې ژر اوښکې پاکې کړې، کتابچه يې بېرته بنده کړه او په خپل ځای يې کېښوده.

په پښه نيولو ګامونو د صنم دوی د حوېلی نه ووته او خپل کور ته ننوته، سيده خپلې کوټې ته ولاړه، ښه يې وژړل، خو ډک زړه يې کله تشېده، سترګې يې ورغلې وې چې تيليفون ته يې زنګ راغی، اوکې يې کړ، سلګی وه، سلام عليک او ستړې مه شي وروسته يې ترې ګيلې شروع کړې، ويل يې پرون دي يو احوال هم را نه کړ چې ورسيدو او نه دې بېرته زما د پلار يو احوال واخيست چې پخير در رسيدلی او کنه؟

د زرلښتې بحث ته زړه نه کېده، خکه يې ورسره ومنله چې ته رښتيا وايې، غږ يې غريو ونيو سلگۍ جدي شوه او يې پوښتل :

زرلښتې څه شوي دي ها ښه يې؟

زرلښتې خواب ورکړ، نه هيڅ ښه نه يم، د زرلښتې د ډېر ټينگار وروسته يې ورته د صنم ټوله کيسه او ليکلې جملې يادې کړې، د سلگۍ غږ هم غريو نيولی و، بيا يې د سنگين حالت په اړه لنډ بحث وکړ، زرلښتې ته يې وويل چې څپلې ملگرې او ټولگيوالې رويا ته يې د صنم په اړه ورياده کړې وه، چې جلال اباد کې زمونږ د خاله د لور گاونډی ده، رويا سنگين ته ويلي وو، اوس سنگين راته زاری کولې چې که صنم سره دې اړيکه نيوله، نو حتما يې غږ په ما واوروه، ما غوښتل د نه خواب ورکړم خو د سنگين زاريو او بې قراره زړه، زما په خوله د هو ويلو پټې ولگوله او خبرو خبرو کې يې دا هم ياده کړه، چې حالت يې همغسې دی، ټول ورته په ويلو سترې شول چې صنم هېره کړه څينو خو ورته ان دا هم وويل چې ايا صنم ورروستی جينی ده، نورې کمې دي؟

خو سنگين يې خواب کې يوازی همدا وايې چې . څينی ښايستونه له حساب کتاب نه بهر وي، لومړی هم وي او وروستی هم، زما لپاره صنم همداسې ده، داسې که هر سنگين څپله صنم پرېږدي او هېره يې کړي، نو د مينې او بې وسی دا گراف به خورا لوړ لاړشي.

زرلښته د سنگين زړه پاکوالي او سپېڅلتيا ژورو فکرونو کې واچوله، خو د سلگۍ د خدای په امان ويلو الفاظو يې د فکر ټال وشلېده، فون يې کټ کړ او اوږده وغځېده، شپېه وروسته يې ببرته سترگې ورغلې او خوب يوړه.

شپې او ورځې تېرېدې، هوا هم نسبتا گرمه شوې وه، سپرلی و، خو لا يې هوا له لومړيو ورځو گرمه ښکارېده، شاوخوا ټوله فضا جنتي شوې وه، گلانو تازه غوټی او گلونه سپړلي وو، د گلانو څانگړو رنگونو، د فطرت د ښکلاوو جلوې

شیندلې، د باد نرمو څپو شنه وابنه په خپلو نرمو مچکو له خوبه راویښول، د مرغانو لویو کاروانونو هره خوا د خوښۍ زېري خپرول، خو د صنم زړه خزان او د خوښیو مانۍ یې لا پخوا د ټولنې ناترسو او بې ځایه رواجونو نړولې وه، صنم د پښتو دود په داسې کلکو او استوارو ځنځیرونو تړلې وه چې صنم یې له ماتولو نه عاجزه وه، تر منځ یې د فاصلو ولاړ او هسک غر یوازینی ورور تقدیر او سنګین ډیر لري کړي وو، خوږ پلار یې ترې ابدي زنداني کړي وو، د صنم د قسمت توري شوې پاڼې بدلیدونکې نه وې، په خپل ور رسیدلي قسمت پرته له صبره بله چاره نه درلوده، ځکه خو یې د ټولو خبرې لکه د غلامۍ په څېر په سر سترګو منلې، د هغوی د سپکې او سپورې ویل ورته نور عادي شوي وې، ځکه د هرې ورځ پیل او پای ته یې همدې سپکو تورو ښه راغلاست وایو، خو کله به چې تنګه شوه، نو ځانته به یې ښیراوې پیل کړې، د پلار ابدې بېلتون یې هغه درد و چې لاپسې زیاتېدو خو کموالی یې نه درلود، بلخوا د تقدیر له احواله ناخبري یې زر قسمه وېرې او شکونه زړه ته اچول، کوم سهار به یې چې زړګی ماما یا تقدیر خوب کې ولیده، نو ټوله ورځ به یې بیا طبیعت خراب و.

یوه شپه یې خوب ولید چې یوه شین چمن کې ناسته وي، زړګي ماما تک سپین کالي اغوستي وي او د چمن منځ نه سره او سپین رنګه ګلونه ټولوي، صنم ورمنډه کړي، په نیولي غږ ورته وایې

پلاره! خلکو خو ویل چې ته مړ شوی وې کنه...

زړګی یې لاسونه ونیسي، په سر یې ښکل کړي او ورته وایې خلک خو به ډېر څه وایي، صنم حیران ور ګوري، صنم ته هم د ګلونو د را ټولولو بلنه ورکوي خو کله چې ګلان راټول کړي نو په لمن کې یې واچوي او روان شي، صنم ورمنډه کړي ورته وایې چې پلاره چېرته ځې؟

زړګی ماما شاته وګوري ورته وایي چاته زما د راتګ څه ونه وایې، زه بیرته خمه، صنم بیا ورغبرګ کړي، پلاره هیله کوم مه خه، زړګی ماما موسک شي، صنم ته وګوري او ووایي:

بل ځل چې راغلم تا هم له ځان سره بیایم.

دې سره صنم له خوبه را ویښه شوه چې شاوخوا یې وکتل خپله زړه کوټه کې په زړو توشکې پرته وه، ستونی یې وچ شوی او خولې وه، ژر پاڅیده اوبه یې وڅښلې اودس او نفل یې وکړ، اجر یې پلار ته ور وباښه، بیا نو سهار ټوله ورځ اندېښمنه او خفه وه.

بله ورځ یې تقدیر خوب کې ولید، چې په سپېره او خالي میدان کې یې پښې غځولې ناست وي، شاوخوا یې یو څو نور هلکان هم یو بل نه بې غرضه او بې پروا ناست وي، تقدیر د لاس په ورغوي کې وړې وړې دانې اچولې او د بل لاس په ګوتو یې موښي، صنم یې خواته ورشي ورته وایي دا څه شی دی وروره؟

تقدیر وخاندي، لېونی ته لا دا نه پېژنې ها؟

صنم چې جدي شي تقدیر ورته وګوري، دا د ژوند خواږه دي زما نادانې خورکی.

د همدې سره له خوبه ویښه شي، نه تقدیر وي او نه هم ورسره د ژوند خواږه.

داسې او دېته ورته خوبونه به یې تل لیدل چې تر ویښېدو وروسته به یې افسوس کوو چې کاش رښتیا وای او یا به یې هم شکرونه وېستل چې شکر چې خوب و، خو اکثره به یې زړلښتې ته خپل خوبونه ورتېرول او زړلښتې به د ډاډ ورکولو لپاره په ښو تعبیرول.

یوه ورځ سهار مهال صنم خواشینې ښکارېده، د بېګاني لیدلي خوب نه ځورېده، پخلنځي کې یې د سهار لپاره چای تیار کړ، ټول چایو ته کېناسته، صنم

جارو را واخیسته او د حویلی په جارو کولو یې شروع کړه، د لویو ونو نه د خزان را لوېدلې پاڼې یې په جارو راټولولې د نومړو پاڼو ژوند هم کټ مټ د صنم په څېر و، څکه بلا مودې یې ونې ته ښکلا ور به برخه کړه، خو کله چې ونې د نوي موسم او تازه پاڼو د پیدا کېدو هوس واخیستې نو، موجوده پاڼې چې د موسم د بدلېدو درد زیږي او په گوگل وچ کړی وي، د ونو ظالمې یې پاڼې لاندې په څمکه په بې رحمې وغورځولې، اوس نو د څمکې په مخ بې وسه پرتې دي، کله یې لار نه تېرېدونکې لاروي، تر پښو لاندې کړي او کله یې هم د باد څپې نامعلوم لور ته په هوا کړي، په څمکې او گړنگونو یې ووهي او اخر یې ان بنیاد هم ورک شي، صنم هم د لوېدلې ژیړې پاڼې په څېر په څمکه پرته وه زړینې او اولادونو یې د ظلم له هر گړنگه وویشته، خو دا لا معلومه نه وه چې د خزان ددې پاڼو او د صنم برخلیک به یو شی وي او کنه؟

حویلی یې جارو کړه، لاسونه یې هوا ته خواره کړل، ستومانې یې وویسته او بېرته د پخلنځي په لور روانه شوه، په پخلنځي کې یې لوښې مینځل او د ارامو زمزمو شور یې ورو-ورو پورته کېدو:

او راشه جانانه ورځ د دیدن ده نو

سبا به نه وي دیدنونه او راشه جانانه- راشه جانانه

که دیدن کړې تلوار را وکړه

راشه جانانه

بېړی دوېړي په تخته ولاړه یمه

راشه جانانه

د صنم د زمزمې شور سره د ونو ناستو مرغانو خپلې زمزمې غلې کړې، د باد گرمو څپو سره به ونو کې څوانو او تاندو څانگو یو بل ته غاړې ورکړې، د مرغانو غلې ننداري، د باد له وجې د څوانو څانگو عاشقانه رفتار او د صنم ښکلي

او جلبونکي غږ یو عجیبه کیف کاوه، د صنم زمزمې د کور څلور واړو دیوالونو کې نغښتې وېره او پابندي د لنډ مهال لپاره ماته کړه، غږ یې په دمه دمه لوړېده، ثمرګل او ځانګه ورته حیران ولاړ وو، د مرغانو او باد وړاندې کوونکې ننداره او د صنم هغه سوځنده غږ چې یوازې به په ژړا کې بند بند اوربدل کېده، نن هر بندښت مات کړی و، هلته ورته ثمرګل او ځانګه ګوته په خوله پاتې وو، صنم د خپل زړه درد کې ډوبه او ورکه وه، سترګې یې پټې او ناپامه وه.

کله یې چې ثمرګل او ځانګې ته پام شو غږ یې ستونې کې بند شو، سترګې یې لاندې واچولې او غلې ودرېده، لکه مرغۍ چې د زمزمو د شور په وخت ناترس ښکاري له وېرې غلې شي، ځانګې ته د صنم غږ بلا خوند ورکړی و، څکه خو یې په خوږ نظر ورکتل، ممکن سترګو کې همدا ویل چې هیله کوم یو ځل بیا دې ښکلی غږ را وباسه، په خوله یې څه نه ویل، سترګو او زړه یې همدا نارې وهلې چې بیا ادامه ورکړه، ثمر ګل هم پرته له څه ویلو غلی تېر شو، صنم هم بیرته ځان د لوښو په مینځلو بوخت وښوده.

اوس ځانګه هم د پخوا په نسبت ډېره ښه شوې وه، زرینې به که د صنم د خوړولو کوښښ کاوه، نو بلخوا به ځانګې ورته پټ تسلیت ورکاوه، یوه ورځ کله چې ثمرګل د زرینې په شیطانت صنم ووهله، صنم وډې ویده شوه، نو یو وخت یې د کوټې دروازه په کراره خلاصه شوه، وېې لیدل چې ځانګه د خواړو سره پټه راننوته، صنم ته یې ډوډۍ کېښوده او ورنه یې وغوښتل چې حتمي یې وخوري.

ځانګه د زرینې له وېرې بېرته پټه او ساه نیولې ووته، اوس ډېر خله داسې کېدل چې د زرینې نه پټ به ځانګې په صنم مهرباني کوله، د زرینې مخ کې به یې بیا له وېرې هېڅ هم نشو کولای، ابوبکر او عثمان به هم چې صنم تل لیدل چې د دوی خدمت کوي او لکه د غلامې په څېر یې هره خبره مني او د هر بدو مقابل کې یې غلی وي، نو څکه اوس اکثره وخت به د زرینې د هر غیبت او

شیطاني باوجود هم غلې پاتې کېده او دې حالت به.نو زرینه ډېره نارامه کوله، څکه د یوسف مړینې د زرینې په زړه داسې اور بل کړی و چې هېڅ نه مړ کېده.

وخت او ژوند لکه سمندر څپو داسې روان و، داسې ورځ به ډېره کمه راتله چې صنم د زرینې د خبرو ښکار نشي، صنم ورسره نور عادت شوې وه، څکه به یې پرې اوس دومره بد اثر نه کاوه، کله به یې چې په بدو ردو کې د صنم مړ پلار په بد نوم وریاد کړ نو بیا به یې د بې وسۍ اوښکو په رخسارونو لارې وکړې.

یوه ورځ کله چې زرلښته راغله او د صنم په ژړا سرې سترګې یې ولیدې، نو د علت پوښتنه یې وکړه، صنم یې خواب کې سلګو ونیوله او وې ویل: زرلښتې! لوښي مې مینځل ښېښه یې کاسه رانه ماته شوه، زرینې خاله مې مړ پلار ډېر په بدو یاد کړ، راته یې وویل د خیرات ګر او دهقان لورې لکه چې دنیا دې نوې په سترګو ولیده مغروره شوې او اوس دې دومره خانی اعلان کړه چې د کبر نه لوښي په څمکه غورځوې، څو د څپېړو کلک ګوزارونه یې هم وکړل، هېڅ بد راباندې ونه لګېدل، یوازې د پلار یادول او هغه بیا په دې ډول الفاظو مې زړه سخت وདرداوه، نه پوهېږم اخر له ما څه غواړي؟

بیا که ماته هر څه وایې ودې وایي، خو زما مړ پلار دی نه یادوي، صنم سلګو واخیسته، زرلښتې هم سترګې ډنډ ښکارېدې، په سترګو کې یې د زرینې لپاره نغښتې کرکه نوره هم زیاته شوه، د صنم لاسونه یې په خپلو لاسونو کې کلک ونیول او وویل:

صنم بلکې زما زړوری صنم، خیر دی ددوی خبرې زړه ته مه نیسه، که داسې هرې وړې او لویې خبرې ته زړه وخورې نو دا به دې ښایست ته لوی زیان ورسوي او هو داسې مړه مه راګوره چې په زړه مې خنجر ښخوي، یو خو دې سترګې ښکلې دي، بل چې داسی مړه را وګورې نو زړه مې اوبه اوبه کړي، بیا همغه شېبه دا افسوس وکړم چې وه خدایه زه دې ولې هلک نه پیداکولم چې

دا ښکلې او ګل صنم مې کړې واى، صنم په وچو شونډو وخندل اوښکې او ترخه موسکا یې سره یوځای شوه، زرلښتې د صنم نیولې لاسونه خوشې کړل او د صنم توري اوږدې زلفې یې په خپل مخ را خورې کړې، لږ څه په شرارت یې وویل:

واه واه، زه خو بیخي په جنت کې یم، د تورو زلفو عطرو دې بې هوښه کړم، اى خلکو ! راشئ ، وګورئ، زه په دې دنیا کې د جنت څښتنه یم.

صنم دا ځل د زړه د خلاصه په کړس وخندل د زرلښتې له مخ نه یې خپلې خورې زلفې لکه د ناوې د ناز په څېر په ارامه را ټولې کړې او ورته یې وویل

زرلښتې د شوخي ګراف بیخي لوړ شوی، زرلښتې یې خبره ورپرې کړه

شوخي نه کړم صنم، ستا د ښایست جلوو مې زړه داغلی دی ، صنم زرلښتې ته وکتل ترخه موسکا یې په ګلابي شونډو خپره شوه او زیاته یې کړه

زرلښتې! قواره به څه کړم چې قسمت مې ښکلی نه دی.

لنډه شېبه دواړه غلې وې، زرلښتې دې لنډی چوپتیا ته د پای ټکی کېښود، ویې پوښتل

صنم هسې ما ویل دې ورځو کې ثمر ګل ډېر کم راځي چې ولې؟

صنم ځواب ورکړ:

زرینې ویل چې کوم نوی دوکان جوړوي، د هغه سودا او جوړولو چارو کې بوخت دی، نو ځکه دېخوا ته خاص نه وزګارېږي، نو ځکه کم راځي.

زرلښتې د اوبو ډک سطل د صنم په مرسته پورته کړ او روانه شوه.

شېبه به نه وه تېره چې بېرته راغله، شاوخوا یې وکتل زرینه او ځانګه نه ښکارېدل، پټ یې صنم ته وویل:

صنم سلګۍ زنګ وهلی وایې صنم سره خبرې کوم، د صنم په څېره د خوشالیو نښې وځلېدې، په بیړه یې وویل، زنګ ورته ووهه کنه، چې خبرې

ورسره وکړم، زرلښتې د څادر لاندې نه موبایل پټ راویوست او د سلګی شمېره یې پکې دایل کړه تیلیفون یې غوږ ته ونیو، ژر یې صنم ته ورکړ :

واخله دادی زنګ ورتېر شو، صنم یې په بېړه د لاسه موبایل واخیست او غوږ ته یې ونیو، سلګی له هغې خوا سلام واچوه، پرته له خنده یې وویل

زرلښتې ژر موبایل صنم ته ورکړه، صنم غلې وه بیا یې غږ کړ زرلښتې تاته وایم نه اورې غږ مې ورکړه کنه موبایل صنم ته، صنم غریو نیولې وه، له دیخوا یې غږ کړ

سلګی!

زه یم، صنم، سلګی د صنم د غږ په اورېدو نوره هم هیجاني شوه، صنم خنګه یې ها؟

زه نه دریادېږم ها؟

سخت زړې وې بیخي مې پوښتنه نه کړې؟

وخت دې خنګه تېرېږي؟

صنم د ټولو پوښتنو په ځواب کې ارامه وویل

ښه یم سلګی ته خنګه یې؟

سلګی ځواب ورکړ

ښه یم ډېره راته یادېږې، تل داسې فکر کړم، لکه کوم څه مې چې ورک کړي وي، ته ولاړې او زه دې یوازی کړم...

د صنم پر مخ مړې اوښکې را روانې وې، همدا چې خوله یې خبری ته ورجوړوله، نو زرینه یې مخې ته ودرېده، برګ، برګ یې ورته وکتل، له غوسې یې په تندي ګونځې ښکارېدې، صنم له وېرې موبایل ژر له غوږ نه لرې کړ او د زرلښتې په لاس کې یې ورکړو له هغې خوا زرلښتې هلو هلو نارې وهلې، زرلښتې

موبایل غوږ ته ونیو او په چابکو قدمونو ووته، زرینې صنم ته وویل ښه اوس دې په موبایلونو خبرې هم شروع کړې؟

خدای خبر د چا سره غږیدې، ما خو اول نه درباندې شک و چې ددې زرلښتې سره دې دا دومره نږدې او خوږه ملگرتیا بې دلیله نده، کوم یو یې درته پیدا کړی ها؟ چې په مبایل دې ورسره غږوې، صنم وېرې اخیستې وه، ستونې کې یې لاړې نه وې، په بند بند غږ یې وویل:

نه زرینې خاله، هغسې فکر مه کوئ دا مې ټولگیواله وه، زرینې یې په خولې کې خبره وچه کړه او وویل:

ټولگیواله که ټولگیوال؟

زما شک بې ځایه نه و، تا چې کابل کې پوهنتون لوستی، نو داسې بې یارانې پاتې کېدلو دی امکان نه درلود، اخر دې هم ځان ثابت کړ، صنم بیا د خبرې کولو هڅه کوله چې زرینې یې خبرې ورغوڅه کړه او ورته یې وویل

نه صبر، شه ثمرگل راشي نو ددې ټولو خبرو حساب دې بیا هغې ته ورکړه.

صنم ټوله ورځ په وېره او تشویش تېره کړه، همدا تشویش یې کاوه چې که زرینه ثمرگل ته داسې درواغ ووایي او تهمت وکړي، نو خدای خبر شه چې کوم توپان به راباندې راولي.

سبا ورځ ماښام مهال چې کله ثمرگل راغی نو د ناستې سره سم یې زرینې شیطاني پیل کړه، صنم په پخلنځي کې په پخلي کولو بوخته وه، خو له زړه یې یوازې الله ج خبر و، وېره خو ورسره د پرون نه مل وه، زړه کې یې همدا ویل چې حتما به یې ثمرگل ته دروغ ویلی او لمسولی به یې وي ، بېرته به یې ځانه کاذب داړ ورکړ چې نه ممکن د زرینې له یاده وتلي وي، د همدې شک او یقین په کش مکش کې وه چې ثمر گل په غوسه د پخلنځي دروازه خلاصه کړه، صنم ته یې په غضب وکتل او وویل:

ښه مردارې! اوس دې په مبایل راته یارانې هم پیل کړې، ته اوس دومره زړوره شوې؟

صنم د خپلې بې ګناهۍ د ثابتولو هڅه کوله چې ثمرګل له دروازې پرې رامنډه کړه، لومړی یې ښه ناترسه لغته ورکړه، بیا یې نو پخلنځي کې پروت سیخ را واخیست او خو کلک ګوزارونه یې په صنم وکړل، پخلنځي د صنم ژړا او د ثمرګل د بدو ردو ویلو غږونو په سر واخیست، ځانګې ساه نیولې رامنډه کړه، د پلار د لاسه یې سیخ واخیست بې واره یې وویل

پلاره دا څه کوې وژنې یې ها؟

ثمرګل ځانګې ته په غوسې وکتل او وویل نو یارانو ته یې پرېږدم چې ومې شرموي؟

ځانګه غلې ولاړه وه ،صنم ته یې کتل، د پخلنځي په غولي پړ مخې پرته وه، هېڅ یې نه ویل، هیڅ غږ یې نه پورته کېده، زړه یې بد شو منډه یې کړه، صنم یې په مخ کړه، په خوله یې سپین ځګونه(قفونه) راغلي وو، سترګې یې پټې وې، د ځانګې لاسونه ولړزېدل، صنم یې په سختۍ په غېږ کې کلکه کړه، ثمرګل چې د صنم زېړ مخ او په خولې راغلي ځګونو ته وکتل وارخطا شو، په لومړي ځل د ځانګې په سترګو کې اوښکې ځلیدې، زړه یې غوښتل چې د صنم دې حالت ته ښه په چیغو وژاړي، زړه یې ډک ډک کېده ،خو ځان یې کابو کړ، ثمرګل له وارخطایي د اوبو ډک سطل د صنم په مخ داسې وشینده چې د ځانګې ټول وجود هم ورسره لوند شو.

صنم سترګې ورپولې، سترګې یې دومره خلاصې کړې چې لاندیني او پاسني بانه به یې ایله سره جدا شوي وو، بېرته یې سترګې پټې کړې، زرینه را ووته، د صنم بې حاله پریوتو او د ځانګې په اوښکو ډنډو سترګو ته یې وکتل،

غلې شوه، لنډه شېبه ټول غلي او وارخطا ښکارېدل، وار پار يې خطا کړې و چې څه وکړي؟

ثمرگل دا ځل بيا د اوبو ډک جام د صنم په مخ ور وشينده، هغې هم سترگې خلاصې کړې، زريني ايله ساه واخيسته، بيا يې شروع کړه، څه ځان دې په بې هوښۍ کې اچولی دی، پاڅېږه روغه جوړه يې هسې دې ټول وارخطا کړل، صنم مړه او غلې ور وکتل، ځانگې يې مور ته په جدي او تند نظر وکتل، د صنم په اوبو لوند مخ يې د خپل ځادر په پېڅکه ورپاک کړ، د پخلنځي د ځمکې له خړو خاورو يې جگه کړه، خپلې کوټې ته يې يوړه، پاک او وچ کالي يې ورکړل، چې بدل يې کړي، د کاليو بدلولو په مهال يې د صنم په شا د سيخ جوړ سره زخمونه وليدل، زړه يې ولړزېدو، خو څه يې ونه ويل:

بيرون حويلی ته ووته، ثمرگل هم يو څه خجالته او غلی ښکارېده ممکن د صنم بې ترسو وهلو يې وجدان په عذاب کړی و.

يوه اوونی صنم د يادو ټپونو نه وخوړېده، بله ورځ چې کله زرلښته راغله، صنم ورته پټه کيسه وکړه، نو د صنم د حالت په ليدو زښته مايوسه شوه، ځان يې داسې گرم گڼو، لکه ددې ټولو مسوؤله چې يوازې زرلښته وي، زرلښته يوه شېبه چوپ وه، د صنم د غاړې يې لاسونه تاو کړل، ورته يې وويل:

صنم زه گمان نه بلکې يقيني يې وايم چې دا ټول زما د لاسه وشول، که ما د سلگۍ غوښتنه نه وای منلې چې تاسره يې وغږوم نو ممکن دا تهمت درباندې نه وای شوی، دومره خوږېدل به دې هم نه ليدل.

صنم جدي شوه او زرلښتې خبره يې ورغوڅه کړه، زرلښتې دا ته څه وايې ولې داسې خبرې کړې؟

ته يې مسوؤله نه يې دا زما لومړی ورځ نده چې داسې راسره کېږي، ته شاهده يې د ټولو ورځو نو ايا ددې ټولو ورځ مسوؤله هم ته يې، زما ښکلې

زرلښتې داسې خبرې بیا مه کوه، زرلښته یو څه خفه ښکارېده، د صنم سترګو ته بې مخامخ کتل او وویل:

نه صنم، هسې هم دې ورځو کې زرینه راسره ډېر بل رقم رویه کوي او هغه ورځ یې خو ان سترې مشي هم رانه کړه، هسې ما ویل چې زما له وجې ستا ستونزې ډېرې نه شي، راته ښکاري چې زرینه زما په راتګ دلته خوشاله نده، ځکه د څو ورځو راهیسې ډېر بل ډول چلند کوي، نو ته مه خفه کېږه، زه به دې نور اوونی کې یو خبر اخلم ،ډېره به دې خواته نه راځم، داسې نشي چې زما له وجې په تا نور هم فشار راولي.

صنم غلې وه ، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، زرلښتې ببرته د داړ ورکولو په خاطر مصنوعي موسکا وکړه او وویل: بیا دې مړه را وکتل ها؟

درته مې نه دي ویلي چې داسې راکتل دې، زړه راته سوری کوي؟

صنم غلې وه، زرلښتې د خندولو او پام غلطولو لپاره یې هره ناکامه هڅه وکړه، خو بریالی نه شوه، بالاخره په پښه نیولي قدمونو داسې ووته لکه ، ې دا بې دغه زندان ته ورته کور ته وروستی راتګ وي، له زړه یې یوازې خدای ج خبر و ، زړه یې له ناهیلو او شکایتونو ډک و.

شپې او ورځې تېرېدې، ډېرې کمې داسې ورځې به راتلې چې صنم به ارامه او بې له بدو او سپکو داورېدو تېروله، شپه او ورځ به د کور په کارونو کې بوخته و، خو اوس ډېره په سختۍ جګېده او نه رته کېده، اکثرو ګاونډیان یا کوم خپلوان به چې راغله، نو زرینې ته به یې ویل چې ددې نجلۍ وخت نږدې دی، ممکن نږدې ورځو کې ولادت وکړي، یو ۱۰ دې نږدې کلینک ته ورښکاره کړې وه.

زرینې به ویل چې ډاکتر خو څه خدای ندی چې وخت یې شو، نو د کلي نږدې دایه ګل نوره ترور به ورته راولو، د ډېرو ښځو ماشومان د هغې په لاس کې پیدا شوي دي، شفا ورکونکي الله ج دی.

صنم سره له دې چې پوره تکلیف کې وه، د زرینې له ویرې به یې اوس هم د پوره کور کار کاوه، کله کله خو به یې کالیو مینځلو اوړه لمدولو او جارو کولو کې د ډېر تکلیف له وجې څو ځلې دمې کولې، د زرینې زړه به پرې کله هم نه سوځېده، یوازې ځانګې به پرې زړه سوځاوه او ځینې کارونه به یې ورسره کول، د زرلښتې تګ راتګ هم ډېر کم شوی و، یوازې اوونی کې یو ځل او کله کله خو به یې دوه اوونیو کې هم درک نه لګېده.

زرلښتې زړه کله ارام مونده، هره ورځ به یې د کور د کوچني ختېن دیوالګي نه درې ځلور، ځله صنم لیده او زړه به یې ارامه کېده، اوونی یا دوه اوونیو کې به که یو ځل صنم دوی کور ته هم په څه بهانه ورغله، خو نو د زرینې د خبرو او تریو تندي له وجې به یو پینځه یا لس دقیقې کېناسته، بیا به زړه نا زړه جګېده. لومړیو کې د صنم زړه د زرلښتې سره یو څه سپکېده، دا څو میاشتې چې د زرلښتې تګ راتګ کم شوی و نو، ټولې خبرې یې په زړه لکه د غوټو په څېر کلکې ولاړې وې.

یوه ورځ کله چې د زرلښتې زړه نارامه و، نو د دېواله تر شا یې پټ سر ورښکاره کړ، پرته له صنم هېڅوک حویلۍ کې نه ښکارېدل، ګرمي کې تر ونې لاندې ناسته وه، خېرن کالي یې مینځل، له ناستې یې ښکارېده چې خورا په تکلیف کې ده، څو ځله پورته شوه ستوماني یې وویسته ممکن پښې یې شخې شوي وې، څو ځله یې په پښو لاس تېر راتېر کړ، بیرته کېناسته، شبیه به لا نه وه تېره چې ځانګه راغله خپلې خیرنې جامې یې په لاس کې نیولې وې، صنم ته یې ورکړې چې دا هم درسره ومینځه، له هغې خوا ثمرګل راغی، صنم ته یې وکتل

او په بیره یې وویل دا پرېږده او ماته دوړې ګرمه کړه، صنم ډېره په سختۍ جګه شوه، پخلنځي ته لاړه دوړې یې تیاره او یوړه، بېرته د کالیو خواته راتله چې عثمان پرې غږ کړ چې تشناب ته راته اوبه یوسه، صنم د سر په خوځولو د ښه خواب ورکړ، د کوهي یې اوبه راجګې کړې سطل کې یې واچولې او په درې دمو کې یې ډېر په تکلیف تر تشنابه یوړې، بېرته راغله او کالیو ته کېناسته، دې وخت کې زرینې ورباندې غږ کړ

دا جامې ته سمې نه پاکوې، څه بلا وهلې یې هرڅل تر مینځلو وروسته ټول داغونه پرې امانت پراته وي.

صنم غلې وه، هیڅ یې نه ویل، زرلښته چې د دېوال تر شا پټه ولاړه وه، د صنم بېوزلۍ ته یې له سترګو رڼې، اوښکې وبهېدې، د سلګۍ هغه خبرې یې رایادې شوې چې د سنګین خوبونه یې زرلښتې ته ویلي وو، ((صنم سپین رنګه کالي اغوستي وي او پینځه کارغان یې د وجود نه کالي کشوي.))

د خوب یادېدو سره یې د زړه رګونه وشرنګېدل او زړه کې یې وویل: سنګین څومره رسا خوب لیدلی و، پینځه کارغان یې د زرینې ثمرګل، څانګې، ابوبکر او عثمان په تعبیر واخیستل، د کالیو کشول یې په همدې شبېه کې د صنم مجبوریت محرومیت او د دوی د امرونو او ظلمونو له مخې تعبیر کړل. د صنم په حال یې زړه افسوس وکړ، ستوني کې یې سلګۍ بندې شوې او ښکته شوه.

سلګۍ ته یې زنګ وکړ، د زړه ټولې غوټه شوې خبرې او کیسې یې ورته وکړې، زرلښته هم د تېرې واقعې نه خفه ښکارېده، زرلښتې ته یې وویل: هیڅ مې زړه طاقت نه کوي، زړه مې دی چې سبا سهار وختي جلال اباد ته درشمه. صنم به هم وګورم او سنګین ته مې هم زړه سوځي څو خله یې پوښتنه وکړه، چې صنم سره دې اړیکه وشوه او کنه؟

خو ما ورته د هغې پېښې کیسه ونه کړه چې زما سره د خبرو له وجې په صنم څه ډول حالت راغلی و، سنګین ته مې وعده ورکړې چې حتما به جلال اباد ته ځم، د صنم احوال به اخلم او که امکان یې وي نو د صنم غږ به هم پرې اوروم.

زرلښتې ورسره په خوشالۍ ومنله او ترې ویې غوښتل چې سبا وختي حرکت وکړه، راشه، غواړم صنم ته حیرانونکي ډالۍ کې ستا دیدن ورکړم، د سلګۍ زړه هم سرور واخیست، له څو لنډو خبرو وروسته یې مبایل پرې کړ.

صنم هم د سترړیا احساس کاوه، ستوماني یې وویسته او د خپلې کوټې په لور لاړه، په خپل ځای کې اوږده وغځېده، د ماښام تیارو په مزه مزه خپله واکمني پیلوله، ناڅاپه یې په وجود کې دردونه حس کړل، ګومان یې وکړ چې ممکن د نورو ورځو په څېر د سترړیا له وجې وي، ساعت تېر شو خو د صنم د دردونو حس لاپسې زیاتېدل، وروسته یې پام شو چې ګونډې د اولاد دردونه وي، ټوله شپه یې په درد تېره کړه، چاته یې څه نه ویل زریني خو ورته لا څو ځله د کالیو منیځلو وخت کې ویلي هم وو چې د اوس زمانې نجونې چې اولاد راوړي، نو ډېر نازونه او د درواغو مکرونه کوي، ځکه خو یې هېچاته هم څه نه ویل، د زریني له وېرې حوېلۍ کې په سختۍ ګرځېده راګرځېده، ډوډۍ یې تیاره کړه ، ټول ډوډۍ ته کېناستل خو د تکلیف له وجې د صنم ډوډۍ ته زړه نه کېده، بېرته خپلې کوټې ته راغله ، تشناب ته ولاړه سر او ځان یې ومینځل، شین رنګ پاکې جامې یې واغوستې، په لومړي ځل یې له مودو وروسته، اوږدو بادامي سترګو کې کجل ووهل، د صنم ټول وجود او بیا سترګې الله ج په پوره هنر او کمال خلق کړې وې، تا به ویل چې د مخلوق خالق پرې په ساعتونه ساعتونه کار کړی وي، په اوږدو او تورو غټو سترګو باندې د کجلو وهلو وروسته خو د تشبیهاتو پیداکول بیخي ناشونی کار و، خلاصه د ښایست بېلګه وه.

شپه پخه شوې وه، شاوخوا خاموشي خپله پاچاهي کوله، د خوب پرښتو په ډېرو بې غمه زړونو خپلې وزرې غوړولې وې، صنم څو خله جګه شوه، د کوټې دننه به يې دوه درې قدمه واخيستل، زړه به يې ارام ونه کړ، بېرته به کېناسته، ساړه زګيروي يې د وړې کوټې ټوله خاموشي ماتوله، رنګ يې تک زيړ تښتبدلی و، مخ يې وار وار خوله کېدو، د څادر په پيڅکي به يې خولې پاکې کړې، له درده به يې خپلې سرې او نازکې شونډې د سپينو غاښونو لاندې کلکې کړې، سخته شپه وه، کله به يې سر د بالښت نه لاندې په هوار فرش کېښود، لنډه شببه وروسته به يې بېرته سر داسې راپورته کړو لکه څمکې چې يې سر ته ځای نه ورکاوه، شپه په کراره، کراره د سهار سپينو وړانګو ته نږدې کېده، د صنم زګيروی لاپسې زياتېده، کله چې لمر خپلې وړانګې د ځمکې په لور وغځولې، نو ځانګې سره د صنم تشويش مل شو، له ځانه سره يې ويل چې صنم هره ورځ د رڼا تر خپرېدو مخکې پاڅېږي، نن يې څنګه درک نشته، په بيړه د صنم کوټې ته راغله دروازه يې چې خلاصه کړه، صنم يې وليده، سر يې لاندې په ځمکه ايښی و، له ځانه سره له درده په شور وه، ژر يې خواته راغله لاس يې ورته خپلو لاسو کې ونيو، د صنم لاسونه د زښت درد له وجې ساړه شوي وو، سرو شونډو يې سپين وچ پاړ نيولی و، د وچو شونډو پاړ يې د درد ګواهي ورکوله، څېره يې ژېړه او مړاوي ښکارېده، په مخ يې دانه دانه خولې کڼ، مټ د هغه ګل په څېر وې چې پرخه پرې پرته وي.

ځانګه تروره شوه، په منډه د کوټې نه ووته، مور يې را خبره کړه، زرينې ډېر په بې پروايي وويل چې داسې نهه بجې شي نو دايي پسې به احوال ولېږي، د صنم وضيعت ته چې ځانګې کتل، نو لا به وارخطا شوه، مور ته يې ډېرې زارۍ وکړې، چې نږدې کلينيک يا روغتون ته به يې بوځو، د درد درمل به ورکړي، زرينه غوسه شوه او ځانګې ته يې په قهر وويل:

ته راته دېر له څانه پخه مور مه جوړه، ډاکټر خو څه خدای نه دی!

شاوخوا نهه بجې وې چې سلگی هم سترې له کابله را ورسېده، لا ناسته نه وه چې سمدستي يې د صنم پوښتنه وکړه، زرلښتې او مور يې غوټې ورته د صنم ژوند او روزمره بد وضيعت په اړه کيسې کولې، غوټې د صنم د خوار قسمت په خبر د ډېرو نورو خلکو افسانوي کيسې بيانولې، سلگی ورته غلې او مايوسه ناسته وه، د سلگی نو نور زړه صبر نه کاوه، زرلښتې ته يې وويل: زرلښتې نور مې هېڅ زړه ارام نه کوي، راځه چې لاړ شو کنه د صنم خواته، زرلښتې خواب ورکړ: لومړی زه ځم د صنم او کور جاج به واخلم او بيا به تاپسې راشمه، هسې ما ويل چې د تېر ځل غوندې نشي چې صنم ته بيا زرينه کومه پلمه جوړه نه کړي، نو لومړی زه ورځم او د کور وضعيت يې هم گورمه بيا به ته راشې، زرلښته چې پاځېده نو مور يې پرې ورغږ کړ، زرلښتې لا وختې دی، ممکن ثمرگل کور کې وي لږ وروسته لاړ شه، زرلښته بېرته زړه نا زړه کېناسته د سلگی بې صبره زړه هېڅ صبر نه کاوه، هره ثانيه يې تر لسو بجو پورې شمېرله.

د لس بجو مهال، د صنم وضعيت نور هم خراب شو، زرينې د کلي دايې پسې ماشومان ولېږل، نيم ساعت به لا تېر نه و، چې دايه گل نوره راغله، تر روغېږ وروسته، زرينې د صنم کوټې ته يوړه او خپله بېرته را ووته، گل نورې د خپلو پخوانيو طبي تجربو او باورونو له مخې ځينې بوټي خوټول او صنم ته يې په زوره ورکول، د صنم حالت ثانيه په ثانيه خرابېده، زېړ مخ، زهيري مړاوې سترگې، د شونډو جوړ سپين پاړ، يې د ژور درد ترجماني کوله، ساعت وروسته، د ماشومې د ژړا غبرگ غږونه راغله، زرينې ژر ورمنډه کړه او وېې پوښتل، گل نورې تروړې هلک دی که نجلی؟

گل نوره تروړ تروره ښکارېده او تکنی خواب يې ورکړ، نججججلی ده.

زرينې پزه تروشه کړه او بېرته په چابکو قدمونو لاړه.

زرلښتې ساعت ته کتل، صبر یې تمام شو، د کوچني دېوال نه یې ور وکتل، ځانګه په حویلي کې وارخطا او ترووره یو او بل خواته تله، زړه یې نا ارامه شو، سلګی ته یې وویل چې زه ورځمه لس یولس دقیقې پس بیا ته هم راشه، زرلښته په چابکو قدمونو لاړه، ځانګې ورته په دروازې د صنم د ماشومې او وضعیت په اړه وویل، د زرلښتې زړه درېږده چې د صنم کوټې ته ننوته، ګل نورې، لا همغسې هڅه روانه کړې وه، تر دې مخکې خو چې بیرون راوتې وه نو څو ځله یې زرینې ته ویلي و چې د نجلی وضعیت ډېر زیات خراب دی، زه خپله هڅه کوم خو که روغتون ته یې بوځې نو ښه به شي، زرینې ویل، خیر د هرې ښځې همدا حال وي ښه به شي.

زرلښته ورننوته، د صنم ژیړ رنګ او مړاوو سترګو چې ډېر ې په سختۍ یې خلاصولې لا پسې وارخطا کړه، ګل نورې په صنم سپین رنګه لوی ځادر غوړولی و، بوازې مخ او په سپین مړوند کې یې شنه درې پخواني بنګړي ښکارېدل، ښې اړخ ته یې نوی زیږدلې ماشومه پرته وه،خبره یې کټ مټ د صنم په څېر وه، زرلښته ورته خیر وه، صنم په سختۍ سره غټې له اوښکو ډکې سترګې زرلښتې ته داسې واړولې تا به ویل چې د خپلو سترګو تور غشو ته ورته بانه پرې لکه غرونه داسې بار شوي وي، زرلښتې سره چې سترګو په سترګو شوه، د څه ویلو هڅه یې کوله، زړه کې یې هېڅ زور او شیمه نه وه، نو ځکه یې هڅه ناکامه شوه، زرلښتې غټې غټې اوښکې تویولې، د صنم ښی لاس یې خپلو لاسو کې ټینګ نیولی و، دوه ځله یې د زرلښتې لاس زور کړ، خو د زرلښتې په سترګو کې ډنډ شوې اوښکې او غریو نیولی غږ زرلښتې ته د خبرو کولو مجال نه ورکاوه، ګل نوره له پخوا وارخطا ښکارېده، اوس یې وارخطایي په وېره بدله شوه، د صنم نازکې او سرې شونډې رېیدې، کټ، مټ د هغه سور ګل په څېر چې د خزان باد یې په بوټي کې رېږوي، لومړی یې زرلښتې ته یې په زهیرانه انداز وکتل، بیا یې ښي اړخ

کې پرتې ماشومې ته چې سترګې یې د کوټې چت ته نیولې پرته وه، دا ځل یې بیا د زرلښتې لاس زور کړ شونډې یې وخوځېدې، زرلښتې فکر وکړ، ممکن څه ویل غواړي، خو خبره نه وه چې صنم د شهادت کلیمه تېروي، د شونډو لړزه یې لاپسې زیاته شوه، خوله، خوله شوه، ساه یې لنډه، لنډه کېده، ګل نورې ژر زرینې او ثمرګل پسې ورمنډه کړه، زرلښتې یې لا هم لاس کلک نیولی و، خو ګل نورې چې منډه واخیسته نو زرلښته شکې شوه، صنم ته یې چې کتل سترګې یې په سختې خلاصولې، ژر یې چیغه کړه، صنم...... صنم..... صنم!!! تاته وایم...... صنم!!!

د صنم په شونډو د شهادت کلمې زمزمې کولې، سترګې یې خلاصې کړې، بیا یې ښې لورته پرتې ماشومې ته وکتل او روح یې له تن سره مخه ښه وکړه.

دواړه سترګې یې خلاصې پاتې شوې، تورې زلفې یې په یو اړخ خورې پرتې وې، د زرلښتې له چیغو مخکې د صنم نوې پیدا شوې لور، د ژړا غږ پورته شو، تا به ویل لکه پرښتو چې ورته په غوږ کې د مور د مړینې وېلې وي، د زرلښتې چیغو د کوټې دیوالونه لړزول، زرینې، څانګې او ثمرګل هم رامنډه کړه.

سلګۍ نو همدا شیبه د سنګین سره خبرې کولې، ویل یې ذادی اوس د صنم خواته ورځم، زرلښته ورغلې او ماته یې ویل چې ته لږ ورروسته راشه، زنګ مي نه قطع کوم همداسې یې اوکې پرېږدم او خپله کړې وعده مې پوره کوم ،د صنم غږ دربانډې اورم، سلګۍ لا همدې خبرو کې وه، د زرلښتې او څانګې د ژړا غبرګو غږونو یې غوږو کې انګازې وکړې، له وارخطایې یې اوکې تیلیفون د خپل تور کمیس جیب ته واچاوه، د زرلښتې مور سره یې جوړه د صنم دوی د کور خواته منډه کړه.

د څانګې او زرلښتې غبرګو نارو ټوله حویلي په سر اخیستې وه، ثمرګل ته په لنډه شیبه کې خپلې ټولې کړنې د یوه تراژدیک فلم په څېر مخې ته ودرېدې،

د لومړي څل لپاره یې په څېره د خجالتي او پښېمانی بړاس د اوښکو په بڼه له سترګو وڅڅېده، خو د خپل نارینتوب ړانده غرور بېرته تکیه ورکړه، د زرینې سترګې هم لمدې ښکارېدې، د صنم د جنازې کټ د حویلی په منځ کې د شنو، ونو تر منځ پروت و، سلګی د کټ سر ته خو زرلښته او څانګه یې پښو ته ناستې او په چیغو چیغو یې ژړل، د سلګی بام شو چې مبایل یې اوکې جیب ته اچولی و، ژر یې له جیبه را ویوست، موبایل نږدې له یو ساعت راهیسې همداسې اوکې و، غوږ ته یې ونیوه، ستونی یې ناست و، په بند ستوني یې د خلکو د ژاړوو شور ماشور کې د بلې، بلې غږونه وکړل، درېیم غږ سره یې له هغې خوا د ناشنا سړي غږ تر غوږ شو، څه یې ویل خو نه اورېدل کېدل، سلګی فون پرې کړ، بېرته یې جیب ته واچاوه، نږدې خپلوانو او ګاونډیانو هم اوښکې تویولې، د صنم دواړه سترګې همغسې خلاصې وې، بلا ښځو یې په سترګو لاس راکش کړ، تر څو پټې شي، خو بریالي نه شول، مازدیګر مهال د صنم یوازیني ماما او یو نیم لري او نږدې خپلوان هم له پاکستانه را ورسېدل، د صنم کابو ټول نږدې خپلوان پاکستان ته د جنګ په وخت مهاجر شوي او بیا هملته مېشت شوي وو، یوازې زړګی او د ګوتو په شمېر څو نورو په جلال اباد کې ژوند کاوه.

مازدیګر مهال، په حویلی کې ګڼ خلک را ټول شوي وو، د ټولو په څېرو د ویر او خفګان نښې ښکارېدې، د اسمان هم زړه ډک، ډک کېدو، پسرلنی نرم باد لګېدو، په ونو کې ناستو مرغانو د ویر سندرې ویلې، په دې وخت کې یوه ډله سړي رانوتل، د صنم جنازه یې له یوه لمن ارمانونو سره یوځای پورته کړه، سلګی ته د سنګین وروستی خوب رایاد شو، چې صنم اوبو اخیستې وي، د ژغورلو لپاره یې بلا خوارې وکړې خو خالي لاس ستون شي، زړه یې یوه خرابه څړیکه وکړه، د صنم لور یې د زرینې له غېږې واخیسته، زړه ته یې نږدې او بیا یې ښکل کړه، لوړ او دنګ هلک د حویلی لویه دروازه خلاصه نیولې وه،

مخامخ د شنو پټیو منځ کې لاره او شنې کروندې له ورایه ښکارېدې، د خلکو ډلې د ثمرگل پر کور را ماتې وې.

د درد او خفگان په دې درنه شېبه کې د اسمان سینه هم څېرې شوه، د اوښکو ترلې بندونه یې را مات شول، د ځمکې پر مخ یې یوه حادثه لیده او غوښتل یې چې د درد پر بل شوي اور اوښکې تویې کړي، د صنم جنازه چې د حویلۍ لوبې دروازې ته ورسېده، د سلگۍ غبر کې د صنم د لور د چیغو لوړ غږ پورته شو، داسې چې د فطرت او د مرغانو ټولې سندرې ددې بې نومه ماشومې په لوړ غږ کې ورکې شوې، یوه عجیبه له دردِه ډکه شېبه وه، لکه قیامت چې وي او د نوې زېږېدلې ماشومې لومړنی فریاد د اسرافیل د شپېلۍ رول تر سره کوي، ټولو دغه حادثې ته حیران حیران کتل، اوښکې یې تویولې، د لویې او نرۍ لارې تر پناه کېډو پورې خوانانو د صنم د جنازې کټ ته په اوږو ورکولو کې سیالي کوله،یوه مرگونې چوپتیا حاکمه وه، له ډېرو سترگو مړاوې او سرې اوښکې روانې وې او پر شونډو د سکوت مهرونه لگېدلي وو.

پای

۳۱/۱/۱۳۹۸

نوی ډهلی